د عربي ژبې څخه ژباړل شوی کتاب

# رښتيا چې ته الله يې!

دايمان لوړو پوړونو ته سفر

ليکوال: علي بن جابر الفيفي
ژباړن: حسيب الله سجاد

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# رښتیا چې ته الله یې!

د الله ﷻ په غوره نومونو سره، د اسمان تر ورو پوړونو

**د ایمان لوړو پوړونو ته سفر**

ليکوال: علي بن جابر الفيفي

ژباړن: ډاکټر حسیب الله «سجاد»

کابل: ۱۴۰۰ لمریز

httpst.meAryanPashtoLibrary

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# رښتيا چې ته الله يې!

پېژندنه
د کتاب نوم: رښتيا چې ته الله ﷻ يې!
ليکوال: علي بن جابر الفيفي
ژباړن: ډاکټر حسيب الله «سجاد»
کمپوز او ډيزاين: انجينر محمد افضل ذاکر ۰۷۸۵۶۹۵۷۰۰
چاپکال: ۱۴۰۰هـ ش
چاپ وار: لومړی
د خپرونو لړی: پنځم
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
بيه: ۱۲۰؋
خپرندوی: افغان طبيب خپرندويه ټولنه، کابل

**Email:** hasibullahsajad@gmail.com
**Facebook:** Hasibullah Sajad/ Afghan Tabeeb
**Contact & Telegram:** 0778970528

د دې کتاب چاپ، الکتروني سکن پر ويب پاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندويې او ژباړن سره خوندي دي!

بسم الله الرحمن الرحيم

httpst.meAryanPashtoLibrary

## د ژباړن ډالی

هغوی ته ډالی چې د الله ﷻ له پېژندګلوۍ پرته ورته ژوند هېڅ مانا نه لري!

## د لیکوال ډالی

- هغې ته ډالی چې اووه کلنۍ کې یې یوه شپه راته وویل:

«ایا د ماخوستن لمونځ دې ادا کړی دی؟»

په دروغو مې ورته ویل هو!

په شکمن ډول یې راته وویل:

«څه چې غواړې ویې وایه خو هغه ذات ته لیدلی یې!»

دغې خبرې هغه ډول کار وکړ تر څو پورته شم او لمونځ وکړم.

**مور ته مې ډالی!**

## رښتيا چې ته الله يې!

لِأَنَّـــك اللهُ  لَا خَوْفٌ وَلَا قَلَقُ
وَلَا غُـــرُوْبٌ  وَلَا اللَّيلُ وَلَا شَفَقُ
لِأَنَّـــك اللهُ  قَلْـبِيْ كُلُّـهُ أَمَـلُ
لِأَنَّـــك اللهُ  رُوْحِيْ مِلْؤُهَا الأَلَقُ

«ليكوال»

چــون تــو خــدايى  نــدارم نگرانـــى
نــــه غروبـــى  نـه شـبى و نـه پايـانى
چــون تــو خــدايى  قلبم لبريـز از اميد ربـانى
چــون تــو خــدايى  روحم چون ستاره درخشانى

«مجتبى مرادى»

رښــتيا چــې تــه الله يــې  نــه لــرم هــيڅ پرېشـــاني
نــــــه لوېــــــدل  نـه تـوره شـپه، او نـه هـم پـاى
رښــتيا چــې تــه الله يــې  زړه مې ډک کړې ستا له هيلو رباني
رښــتيا چــې تــه الله يــې  روح مې پاک کړې لکه ستورى رڼايي

«سجاد»

## حمد

خلـق عــالم یــې رب المنانــه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

خلـق عــالم یــې رب المنانــه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

اول آخـر یــې، حــافظ نــاصر یــې	عــالم کــل یــې، حــاضر نــاظر یــې
عــالم کــل یــې، حــاضر نــاظر یــې

یــې پــه احوالــو تــل نګهبانــه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

خلـق عــالم یــې رب المنانــه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

زمونږ معبـود یـې، حـي الـودود یـې	قــادم واجــب الوجــود یــې
قــادم واجــب الوجــود یــې

نـور علامـات دي، تـه یـې برهانـه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

خلـق عــالم یــې رب المنانــه	کــون و مکــان دې دی لامکانــه
کــون و مکــان دې دی لامکانــه

بحر و که بر دی، شمش و قمر دی    عـرش و کـرسي سـتا، لـر او کـه بـر دی
عـرش و کـرسي سـتا، لـر او کـه بـر دی

دا ټـول تسليم دي ستا پـه فرمانـه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

ليل و نهار دي، خزان کـه بهار دي    کـــوثر جنـــت دې خـــمار او سـينګار دي
کـــوثر جنـــت دې خـــمار او سـينګار دي

بـــې انتهـــا جـــود سـتا دی رحمانـــه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

تـه بې حاجتـه مشـکل کشـا يـې    تـــه د خوارانـــو حاجـــت روا يـــې
تـــه د خوارانـــو حاجـــت روا يـــې

فضـــل د غـــوارو ای مهربانـــه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه    کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

عظمت د شان دې ادراک ممتنع دی قــدرتي شـان دې يقـين تـه قـانع دی
قــدرتي شـان دې يقـين تـه قـانع دی

عقـل حـيران دی سـتا لـه عرفانـه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

واړه ګويان دي، جن که انسان دي ملک دي حيوان دي، ماهيان که مرغان دي
ملک دي حيوان دي، ماهيان که مرغان دي

سـتا ثنـا وايـي ای پـاک سـبحانه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

ايمـان ببـړی مـې خدايـه غرقبـېړي صـــاحب حقـــه تاتـــه ژړېـــږي
صـــاحب حقـــه تاتـــه ژړېـــږي

عفـوه تـل غـواړي سـتا لـه غفرانـه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

خلـــق عـــالم يـــې رب المنانـــه کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه
کـــون و مکـــان دې دی لامکانـــه

## پر کتاب باندې د نړیوال بلونکي او د هبواد تکړه لیکوال استاد عبدالغفار جبیر څو کربښې

الحمدلله الذی خلق السماوات والارض واختلاف الیل والنهار وخلق الجنة عرضهاالسماوات والارض اعدت للمتقین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین و خاتم النبیین وعلی آله وصحبه أئمة الهدی ومصابیح الحیاة، ورضی الله تبارک وتعالی عن أئمة الاجتهاد من السلف الصالح صحباً وتابعین، وتابعیهم باحسان الی یوم الدین.

دا ښکلی کتاب (ربښتیا چې ته الله یې!) چې ژباړن او راټولوونکی یې ګران ورور ډاکتر حسیب الله سجاد صاحب دی، یو هیښوونکی، ګټور، اړ او وړ کتاب دی، دا کتاب چې (۱۷۶) پاڼې دی یو علمي او اکاډمیک کتاب دی، په دې کتاب کې د کائناتو د پنځوونکي (خالق) جل جلاله اسماء الحسنی، د هغو مبارکو نومونو مانا، مفهوم او فلسفه پر دې ټولو باندې ښه رڼا اچول شوېده، د کائناتو د مالک او پالونکي پر دې سترو مبارکو نومونو باندې زما احقر په شان یو څه لیکل مناسب نه دي، دا ځکه چې د یوه الله جل جلاله پر یوه نوم باندې که یو لیکوال خپل ټول عمر مصرف کړي بیا هم ناشونی دی.

پر دې مبارکو نومونو باندې په زرهاوو کتابونه لیکل سویدي، په دې ښکلي کتاب کې داسې معلومات راټول سویدي چې نوره اړتیا نسته، خو زه غواړم چې د اسماء الحسنی پر فضیلت باندې څه رڼا واچوم.

هغه څوک چې د دعا مخکې اسماء الحسنی ووایي دعاء یې ضرور قبلېږي، په قرآنکریم کې راځي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ سورة الاعراف/۱۸۰ د بخاري او مسلم شریف په صحیح حدیث شریف کې راځي، (قال قال رسول الله ﷺ: ان لله تسعة و تسعین اسماء مائة الا واحد، من احصاها دخل الجنة ) متفق علیه چې هغه څوک چې اسماء الحسنی یاد کړي هغه به جنت ته داخل سي. [۱]، څوک چې د اسماء الحسنی سره مینه لري الله جل جلاله ورسره مینه لري، لکه په حدیث شریف [۲] کې چې راځي، اسماء الحسنی تکلیفونه، غمونه او کړاوونه له منځه وړي، لکه چې په مبارکو احادیثو [۳]

کې چې راځي، اسماء الحسنی چې څوک وايي هغه به له نقصان څخه وژغورل سي لکه چې په مبارکو احادیثو[٤] کې چې راځي، اسماء الحسنی د شفاء د اسبابو څخه یو سبب دی، لکه چې په مبارک حدیث شریف[٥] کې چې راځي.

د ځوان تکړه لیکوال او ژباړونکي حسیب الله سجاد صاحب دې جنت ځای سي، درې نور کتابونه یې هم مخکې ژباړلي دي، د هر کتاب بطن او متن یې د ملغلرو په شان پېودلی دی، ژباړه یې ساده او له مفهوم څخه ډکه ده، له داسې کتابونو څخه هر ورور او خور استفاده کولای سي، زما په نظر د سجاد صاحب دغه ښکلی کتاب او مخکني نور درې کتابونه وړ او اړ بولم، د ټولنې ځوان قشر باید استفاده ورځخه وکړي او له نورو سره یې شریک کړي، کوښښ باید وکړئ چې د اخروي ثواب د لاسته راوړلو لپاره داسې کتابونه پخپلو کتابتونو کې ضرور ولرئ.

و ډاکټر صاحب ته اوږد عمر غواړم، د لانور خدمت په هیله، لوی خدای جل جلاله دې وکړي چې دغه با احساسه ځوان تل د اسلام خدمت ستر عبادت وګڼي او زموږ د ټولنې دا ځوانه طبقه د نېکمرغی، سوکالي او خوښۍ و ساحل ته سوق کړي.

ستاسو ورور

عبدالغفار جُبیر

۲۰۲۱، ۱۱، جولای، یکشنبه

[۱] جواهر الفقه، ټوک: ۲، پاڼه: ۲۵۲/ لیکوال: مفتي اعظم مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه.

[۲] بخاري (۷۳۷۵، ۷۷۴) ومسلم: (۸۳۱)، ترمذي: (۲۹۰۱)، وانظر: فتح الباري (۲/ ۲۵۷، ۲۵۸) و صحیح جامع الترمذي (۲۳۲۳)

[۳] اخرجه احمد (۳۹۱/۱) و ابن حبان (۹۷۲)، رواه بخاري (۱۱/ ۱۴۵) .

[٤] اخرجه الطیالیسی (۷۹)، و احمد (۱/ ٦۳، ٦٦)، وابوداؤد (۵۰۸۸)، والترمذي، (۳۳۸۸)، وابن ماجه (۳۸٦۹)، وابن ماجه (۳۱۲۰)

[٥] رواه مسلم (۲۱۸٦): عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه، ان جبریل علیه السلام اتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال: یا محمد، اشتکیت؟ قال: نعم، قال بسم الله ارقیک من کل شئ یؤذیک و من شر کل نفس او عین حاسد، الله یشفیک، بسم الله ارقیک.

## د ژباړن سریزه

د اللهﷻ شکر ادا کوم د شکر ویستونکو په ژبه او درود او سلام لېږم د انسانیت الګو او رول ماډل محمدﷺ سپېڅلې اروا ته!

د علمي او ټکنالوژیکي پرمختګ سره سره د نن ورځې انسان هم له روحي ګډوډۍ سره لاس او ګرېوان دی، علتونه به یې ببلا بېل وي خو تر ټولو لوی علت یې د اللهﷻ سره د اړیکې پرېکول دي، د هغه څخه لرېوالی او د هغه سره د اړیکو د پرېکولو پایله دا ده چې له ټولو آسانتیاوو او علمي او ټکنالوژیکي پرمختګونو سره نن هم ډېری خلک د رواني او سایکالوژیکي ستونزو څخه سر ټکوي او د ژوندانه په دغه کشمکش کې له موخې پرته د یوه نامعلوم راتلونکي په لور ګړندي ګامونه اخلي، هېڅ شی یې روح او روان ته سکون نه وربښي، نه د ارواپوهانو مشورې ورته ګټه رسوي او نه هم کوم درمل د دوی د روان د سکون او درد دوا کېږي.

زما له ډېره وخته د اسلامي اروا پوهنې سره بې کچې مینه پیدا شوې، علت یې همدا دی چې هم معنوي اړخ او هم مادي او دینوي اړخ ته پوره پاملرنه کوي. د دغه مینې له برکته په دغه ډول حالاتو کې ما د یو داسې کتاب ژباړې ته ملا وتړله چې زه یې یوې داسې نړۍ ته وګرځولم چې هلته د اللهﷻ له نومونو څخه یوازې د لسو مبارکو نومونو اړوند خبرې کېدلې. په دغه نړۍ کې اړمنو خپلې ستونزې «الصمد» ذات ته وړاندې کړې وې، د چا ژوند چې له خطر سره مخ او یا یې شتمني دلنځه تلو په حال کې وه، هغه په منډه سره د «حفیظ» ذات پټنځای ته د پناه وړلو لپاره منډه اخیستې وه، ومې لیدل چې دغه نړۍ کې د ناامیدۍ او ناهیلۍ هېڅ ځرک نه و او ټولو وګړو د «الطیف» ذات سره د تړاو لاسلیک امضاء کړی و، دلته به هغه ناروغان چې له

روغتونونو سترې شوي وو، د «شافي» ذات لټه کوله او خپل ټول دردونه به يې د دغه نوم تر سيورو لاندې تداوي کول، دغه نړۍ کې هرچا خپل خيالونه او خوبونه د «وکيل» ذات لور ته وړل، دغه نړۍ کې به په لږ عمل «شکور» ذات زياته بدله ورکوله، دغه نړۍ کې به «جبار» ذات د خلکو زخمونو ته پټۍ ورکولې، دلته هرڅه بدل وو، لارورکي مې هېڅ تر سترګو نشول او دلته هرچا په «هادي» نوم سره نوی دوران پيل کړی و، په دغه سفر کې مې داسې خلک وليدل چې له ګناهونو تر پوزې راغلي وو، خو کله به يې چې په اخلاص د «غفور» ذات لور ته خپل ګناهونه وړاندې کړل، غفور ذات به په يوه قلم پر هغه خط کش کړ، پوښتنه مې وکړه چې دا خلک په دغه نړۍ کې هېڅ د وحشت احساس نه کوي، زاته ووېل شول چې دا د يو داسې ذات سره قوي اړيکه لري چې يو نوم يې «القريب» دی.

په اسلامي نړۍ کې د الله ﷻ د مبارکو نومونو اړوند په زرګونو کتابونه ليکل شوي دي، د هغه ذات د دغه مبارکو نومونو پټ اسرار پکښې روښانه شوي دي، دا کتاب هم د دغه لړۍ يو زړه راښکونکی کتاب دی چې له مبالغې پرته ساری يې کم ليدل کېږي. د الله ﷻ د نومونو د فضايلو او مفهومونو اړوند زما لارښود استاد علامه عبدالغفار «جبير» حفظه الله په خپل کتنليک کې پوره خبره کړې ده، زه غواړم دلته د دغه کتاب د منځپانګې سره سم لنډه خبره وکړم.

په دغه کتاب کې شيخ الفيفي د الله ﷻ د نومونو څخه يوازې د لسو مبارکو نومونو داسې يادونه کړې چې هر يو مبارک نوم د ژوند په يو اړخ کې د انسانانو د اړتياوو ځواب ويونکی دی، ليکوال له موږ څخه غواړي چې د دغه نومونو په رازونو سره موږ د الله ﷻ سره ټينګه اړيکه ولرو، ترڅو په خپل ژوند کې د دغه نومونو سره د تړاو اړوند د محمد ﷺ پر حديث باندې د عمل بېلګې وړاندې کړو او هم د دغه نومونو تر سيورې لاندې د خپلو مادي او معنوي اړتياوو په رفع کولو سره الهي هيلې، مينې، سکون او ارامی ته لاسرسی پيدا کړو او هم ابليس او شيطان په هغه انسان دښمنه کړنلار کې چې يو انسان ناهيلی ته تېل وهي له ماتې سره مخ کړو.

د ژوندانه ارزښت د الله ﷻ د نومونو له مفهومونو پرته بل څه نه دی، نو پر موږ لازمه ده ترڅو د یوه ښکلي ژوند د جوړولو لپاره د الهي نومونو له انوارونو څخه ګټه واخلو.

د الله ﷻ د نومونو د پیژندګلوی موخه یوازې یوه کلمه ده، چې هغه د الله ﷻ بشپړه پېژندګلوي ده، که دې الله ﷻ وپېژنده، پرې مینبرې، امر منونکی یې جوړېږې، ستا هیلې یوازې د هغه پر خوښی څرخي، د هغه د جنت لټه کوې، ستا سترګې د هغه د لیدلو د لېوالتیا له کبله اوښکې تویوي، ټول خلک له مرګ څخه وېرېږي، خو ته یې هرکلی کوې! که هغه ذات دې وپېژنده، له لېوالتیا به ویلې شې! که هغه دې وپېژنده هېڅکله به له هغه ناهیلی او ناخوښ نه شې!

دلته د الهي پېژندګلوی یوه بېلګه زموږ د اسلافو له ژوند څخه را اخلو: کله چې له اسلام راوړلو مخکې د خنسا ورور مړ شو، د عربو جزیره یې په ژړا ډکه کړه، خو کله یې چې اسلام راوړ او الله ﷻ یې وپېژنده، څلور اولادونه یې مړه شول خو ویې ویل: «د الله ﷻ شکر ادا کوم چې ماته یې دا شرف وبښه چې څلور اولادونه مې د شهادت پر مرګ له دنیا ولاړل!» خنسا الله ﷻ وپېژنده، نو د هغه پر پرېکړه خوښ شو!

موږ هغه چاته چې وایي موږ الله ﷻ پېژندلی وایو: زموږ موخه سطحي پېژندنه نه ده، بلکې موږ له هغه پېژندګلوی خبرې کوو چې د بدن په هره حجره کې رېښې غځوي، دغه ډول پیژندګلوي که له تا واخیستل شي، ښایي مړ شې.

دا کتاب ستاسې ستونزې په دې ډول حل کوي:

ایا مادي ستونزې لرئ؟ له الله ﷻ سره په رزاق او وهاب نومونو سره اړیکه ټینګه کړئ!

ایا اسلامي امت له څوړ سره مخ دی؟ له الله ﷻ سره په جبار نوم اړیکه ټینګه کړئ!

ایا غواړئ له روژې میاشتې وروسته هم ثابت قدمه پاتې شئ؟ له الله ﷻ سره په الهادي او الحافظ نومونو اړیکه ټینګه کړئ!

او ایا ... دا یې یو څو نمونې دي چې موږ وړاندې کړې.

ځینې خلک د الله ﷻ نومونو څخه د تبرک لپاره ګټه اخلي او یوازې یې له اسرارو او

رازونو پرته نومونه خپلې حافظې ته سپاري، دا کوم ناخوښ عمل نه دی، خو موږ دغه خلکو ته د الله ﷻ د نومونو سره د عملي تړاو سپارښتنه کوو، ځکه زموږ ټول ژوند د الله ﷻ په دغه نومونو راڅرخي.

ایا تراوسه مو د «حسنی» په کلمه کې فکر کړی دی؟ دغه کلمه کې ټول هغه جمال، کمال او جلال دی چې تاسې سرلوړی او بریالیتوب ته رسوي. د دغه کتاب موخه د الله ﷻ پېژندل دي، د هغه د نومونو تر سیوري لاندې! او هرڅومره چې دغه پېژندګلوي ترلاسه شي په همغه اندازه به له الله ﷻ سره زموږ مینه او د هغه ذات امر مننه زیاته شي.

د الله ﷻ شکر ادا کوم چې ما ناتوانه بنده ته یې د دې توفیق راکړ ترڅو خپل کړېدلي او ځورېدلي ولس او خلکو ته دا کتاب په دې موخه راوژباړم ترڅو د دوی او الله ﷻ ترمنځ په دغه ژباړې سره د اړیکو یو نوی پُل جوړ کړم او خپله هم د خلکو په منځ کې د الله ﷻ د پېژندګلوی تر سیوري لاندې د هیلې، مینې، سکون او ارامی له نعمت څخه خوند واخلم.

په پای کې زما د لارښود استاد علامه عبدالغفار «جبیر» حفظه الله د ټولو لارښونو او اړینو سپارښتنو څخه مننه کوم تل دې زموږ لارښود پاتې شي، همدارنګه د درانه او خواږه ملګري انجینرصاحب محمدافضل ذاکر څخه هم ځانګړې مننه کوم چې د هر کتاب په لیکلو او کمپوز کې یې راسره شپه او ورځ مرسته کړې ده.

په پای کې دعا کوم چې زما دغه وړوکی خدمت په خپل دربار کې قبول کړي، زما، زما د مور او پلار په نېکیو کې یې حساب کړي او هم هیله لرم چې ستاسې پر شونډو موسکا خوره کړي او ستاسې د زخمونو لپاره پټۍ شي.

دا چې انسان له تېروتنې خوندي نه وي، نو د طب د یو زده‌کړیال په حیث له تاسې غوښتنه کوم که مو په ژباړه کې هر ډول تېروتنه او ناسمي تر سترګو شوه، د اصلاح په نیت یې راسره شریکه کړئ، ترڅو یې په راتلونکو چاپونو کې سمون ته پام وکړم.

## د لیکوال سریزه

د الله ﷻ شکر ادا کوم، او پر محمد ﷺ، د هغه په ملګرو او ملاتړو مې دې پوره سلامونه وي...

دا کتاب د الله ﷻ د ځینو نومونو اړوند هغه خبرې دي چې هغه مې د ټولو کمزوریو، وروسته پاتې والي او ناپوهې سره سره د هغه پیاوړي او پوه ذات اړوند ولیکلې.

هغه مې ډېره وکړه تر څو د ټولو لپاره د فهم وړ وي، په بستره کې پروت ناروغ، په اوښکو کې ډوب شوی غمجن او زړه ماتی اړمن، ټول هغه ولولي.

په دې بشپړ باور لرم چې د الله ﷻ پېژندنه او په هغه پورې زړه تړل، د هغه څخه وېره، د هغه سره مینه او هغه ته هیله لرل دا ټول که چېرې د ټل لپاره وي، په همغه ډول چې د اخرت د نېکمرغۍ یو راز دی د دنیا د نېکمرغۍ راز هم دی، او که چېرې بنده خپل مخ او د هغه پام د الله ﷻ لور ته، چې هغه یې د عبادت پرته بل څه ته نه دی پیدا کړی وګرځوي، نا ارامي، زړه تړنه او دردونه به یې په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي.

د اسماء الحسنی (د الله ﷻ د غوره نومونو) دروازه هغه لویه ایماني دروازه ده چې بنده د هغه څخه په تېرېدلو سره یوې ځانګړې او رڼې آسماني نړۍ ته لار پیدا کوي؛ خپل ځان د احترام پر سجده او خپل روح د هغه پر بنده ګۍ او مینې پورې تړي.

ومې غوښتل چې دا کتاب د سپېڅلي الله لور ته یو روښانه څراغ وي، تو لږ هغه څه ته مې پکې اشاره کړې چې د هغه ذات سره دي او دا یادونه مې پکې خپل ځان، دیني خویندو او ورونو ته کړې ده چې هغه ذات پر هر څه برلاسی دی، او دا چې تر ټولو مهربانه اوربدونکی او لیدونکی دی.

ومې غوښتل په دغه خبرو سره د سترو په اوږه لاس کېږدم، او د کړېدلو د درد درملنه پکې وکړم، ومې غوښتل په دغه خبرو اوښکې پاکې کړم او د ناهیلۍ او پرېشانۍ اور مړ کړم.

موږ د الله ﷻ د نومونو د پېژندګلوۍ پرته په یوه دښته کې سرګردانه یو، زموږ ژوند په د دغه دښتې په اور او د پرېشانۍ او اندېښنې په رېګ کې تباه شي.

الله ﷻ غوره کړئ: د هغه پېژندنه، ایمان، یقین، عبادت او عاجزي! همدارنګه مینه، نېکمرغي او بریالیتوب...

او یا دا چې سرګرداني، لار ورکي، اندېښنه او رواني ماویتوب غوره کړئ.

زه په دغه کتاب کې د هېڅ ډول ولکې، علم، پوهې او مخکښوالي دعوه نه کوم، بلکې یوازې مې خپل عجز، ناتواني او د تېرو اړوند مې له الله ﷻ څخه ښښنه غواړم.

که چېرې په دغه کتاب کې ښېګنه وي نو له الله ﷻ غواړم چې د خلکو په منځ کې یې خپور کړي او که داسې نه وي نو الله ﷻ مې له ټولو ناسمیو څخه خبر دی او دغه کم ژوند مې د هغه نامحدوده ښښنې ته وړاندې کوم. له الله ﷻ څخه غواړم چې نیت مې سپېڅلی کړي او د زړه او قلم ښوییدنې او ناسمۍ مې راته وبښي!

وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ ... وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

علي جابر الفيفي

۱۴۳۷/۷/۲۷ هـ

## لړ لیک


**رښتیا چې ته الله یې! ........................................ ۵**

**حمد ........................................................ ۷**

**پر کتاب باندې د نړیوال بلونکي او د هېواد تکړه لیکوال استاد عبدالغفار جبیر څو کرښې.... ۱۱**

**د ژباړن سریزه ................................................ ۱۳**

**د لیکوال سریزه ................................................ ۱۷**

**الصَّمد ........................................................ ۲۷**

الصَّمَد: هغه بې نیازه ذات چې ټول هغه ته اړتیا لري ........................ ۲۸

د صمدیت تر سیوري لاندې........................................ ۲۸

څېپ................................................................ ۲۹

چل ورکوونکي فکرونه ............................................ ۳۰

ستوري............................................................ ۳۱

او هغه مو هېر کړی دی؟ ........................................ ۳۲

خپله اړتیا له هغه ذات وغواړه!.................................... ۳٤

قطب نما .......................................................... ۳۵

خپل زړه له هغه ذات پرته له نورو اوزګار او خالي کړه .................. ۳٦

د هغه په لور ګرځندي ګامونه...................................... ۳۸

اوچتوالی .......................................................... ۳۹

يو حقيقت ........................................................................................ ٤٠
**الحفيظ** ........................................................................................ ٤٣
الحفيظ (ډېر غوره ساتونکی) .................................................................. ٤٤
اې زړه! ارامه شه ................................................................................ ٤٤
بې لارې ........................................................................................ ٤٥
او الله ﷻ هېروو ............................................................................... ٤٨
ساتونکې ملايکې (خانګړی ګارد) .............................................................. ٥٠
د ليندیو دننه .................................................................................... ٥١
د اوبو بېړۍ ...................................................................................... ٥١
تر ټولو لوی، تر ټولو ډېر او تر ټولو لوړ ........................................................ ٥٣
له تا دفاع کوي ................................................................................... ٥٤
فکر وکړه! ......................................................................................... ٥٤
د دارونکو لېوانو دره .............................................................................. ٥٦
زه فقير يم ....................................................................................... ٥٩
اې نوی خوانه! .................................................................................... ٦٠
ساه بندول ........................................................................................ ٦١
**اللّطيف** ........................................................................................ ٦٣
اللطيف (په خپلو بنده ګانو باندې نرمي کوونکی او باريک بين چې نړدې او لرې ورته يو شان وي.) ........................................................................................ ٦٤
د پټو مهربانيو څښتن ............................................................................. ٦٤
د مهرباني او لطف نسيم .......................................................................... ٦٥

ګاګره (سخته تېره) ........................ ۶۸
پټ شوي او پوښل شوي رازونه ........................ ۶۹
نه لاسته راتلونکي او لرې واټن خوبونه او هیلې ........................ ۷۲
په برخلیک ټاکونکي وخت کې لطف ........................ ۷۴
**الشّافي ........................ ۷۵**
الشافی یا شفا ورکوونکی ........................ ۷۶
له نن وروسته به هېڅ کومه ناروغي ونه وینې ........................ ۷۶
له دلیل پرته تاته شفا درکوي ........................ ۷۸
ایا نه پوهېږې یا د پام نه دی! ........................ ۷۹
د بیا ګرځېدو نور او رڼا ........................ ۸۰
د هغه لور ته ور وګرځه ........................ ۸۱
پخوانی وخت ........................ ۸۳
تکی کېږده ........................ ۸۴
خوښي ........................ ۸۶
د ګناه سیندونه ........................ ۸۸
**الوکیل ........................ ۸۹**
الوکیل (ښه کار جوړوونکی) ........................ ۹۰
الله ﷻ ښه کار جوړوونکی وټاکه ........................ ۹۰
کلنی کړنلاره ........................ ۹۲
د الله ﷻ پر وړاندې متواضع اوسه ........................ ۹۳
خندېدونکې اوښکې ........................ ۹۵

د ژوند اکسیجن .......................................... ۹۵
له هغه پرته ژوند دوزخ دی .......................................... ۹۶
زما لپاره الله ﷻ بسنه کوي .......................................... ۹۷
قانع کوونکی دلیل .......................................... ۹۹
څارونکی اوسه! .......................................... ۱۰۰
تهدیدونه .......................................... ۱۰۲
**الشکور** .......................................... ۱۰۳
الشکور (یا په لږ عمل ډېر ثواب ورکوونکی) .......................................... ۱۰٤
که څه درکړي نو تا به حیران کړي! .......................................... ۱۰٤
ریاضیکي سوال .......................................... ۱۰۵
په دغه کتاب کې یې په یاد ولره! .......................................... ۱۰٦
د نېک کار یوه ذره .......................................... ۱۰۸
خرچه او انفاق وکړه ترڅو پر تا خرچه وکړم .......................................... ۱۱۱
نېک کار وکړئ .......................................... ۱۱۲
غلی شه، چوپ شه! .......................................... ۱۱٤
چېرې څو؟ .......................................... ۱۱۵
د خلاصون لار .......................................... ۱۱٦
**الجبّار** .......................................... ۱۱۹
الجبار (د ګډو وډو کارونو سموونکی) .......................................... ۱۲۰
زره دې څنګه مات شو؟ .......................................... ۱۲۰
د ژوندانه پې شمېره ماتې ګوډې .......................................... ۱۲۰

ماته له خپل خان سره تړاو راکړه ........................................ ۱۲۱
الله ﷻ ستا له موسکا سره مینه لري ........................................ ۱۲۳
لاسي ګاډی ........................................ ۱۲۴
۸۳ ........................................ ۱۲۵
د خدمت کوونکي خونه ........................................ ۱۲۶
یاد، خوب او خاطره ........................................ ۱۲۷
د چای یا قهوې یوه پیاله ........................................ ۱۲۸
سجده کوونکی شه! ........................................ ۱۳۰
**الهادي** ........................................ ۱۳۱
الهادي یا لارښوونکی ........................................ ۱۳۲
تودوخه ........................................ ۱۳۲
تابیره نه ده! ........................................ ۱۳۳
لا...ولا ........................................ ۱۳۴
د واعظ په وسیله هدایت ........................................ ۱۳۶
په فکر کولو سره هدایت ........................................ ۱۳۶
د رڼا څراغ ........................................ ۱۳۶
ورکه شوې قطب نما ........................................ ۱۳۸
بیا یې ورته لارښوونه وکړه ........................................ ۱۴۰
ډنډ ........................................ ۱۴۱
د کاغذ یوه پاڼه ........................................ ۱۴۱
د خلاصون رسی ........................................ ۱۴۲

**الغفور** .................................................. ۱٤٥
الغفور يا زيات ببښونکی .................................... ۱٤٦
زندان .................................................. ۱٤٦
ايا پوهېږې؟ .................................................. ۱٤٧
زما خيانتونه .................................................. ۱٤٧
هغه چاته زېرى دى .................................................. ۱٥۱
مه ناهيلې کېږئ! .................................................. ۱٥۲
تر ټولو لويه اراده .................................................. ۱٥۳
تر ټولو ښکلي .................................................. ۱٥٤
مه وېرېږه .................................................. ۱٥٥
د هغه څه ببښنه کوي چې انسان ورته ګوته په غاښ شي .......... ۱٥٦
بيا ځلې پيل وکړه! .................................................. ۱٥٦
**القريب** .................................................. ۱٥٩
القريب (ډېر نږدې) .................................................. ۱٦۰
يا الله... .................................................. ۱٦۰
ستا په خاطر .................................................. ۱٦۱
د مېږي حرکت .................................................. ۱٦۲
همدا اوس تا ويني! .................................................. ۱٦۳
وخانده! .................................................. ۱٦٥
ته سپېڅلى او پاک يې! .................................................. ۱٦٦
ته هغه ته ورسېدې! .................................................. ۱٦۸

زه نږدې یم! ........................................ ۱۶۹
د لوګیو په منځ کې ........................................ ۱۷۰
الله ........................................ ۱۷۲
د پای خبرې ........................................ ۱۷۳
**سرچینې ........................................ ۱۷۵**
د ژباړن له قلم څخه! ........................................ ۱۷۶

# الصَّمد

که چېرې الله ﷻ نه وي غوښتي چې تا ته ضرر ورسېږي، نو ټوله دنيا به تاته تاوان ونه رسوي.

او که چېرې الله ﷻ يو څه درته ليکلي وي، نو ټوله دنيا به ونشي کولی هغه له تا لرې کړي.

## الصَّمَد: هغه بې نیازه ذات چې ټول هغه ته اړتیا لري

که چېرې کمزوري او ناتوانۍ ستا چاپېره یو داسې زندان جوړ کړ چې نشې کولی له هغه څخه بهر شې، که چېرې اړتیاوو له هر لوري محاصره کړی وې، که چېرې د دنیا ستونزې د باران په ډول ستا پر سر را ورېږي او غمونه او پرېشانۍ ستا پر چاپېر څرخېږي او ستا روح او روان سرګردانه دی او یوه ناپېژنده لور ته تېښته کوې، له شک پرته چې یوه بې نیازه الله ﷻ ته محتاج دی او غوره ده چې د هغې لور ته د اړتیا لاس اوږد کړې.

د «الصَّمَد» نوم به تا د ټولو هغو شیانو لور ته کش کړي چې ته هغه ته اړتیا لرې، تر دې چې په دغه نړۍ کې پیاوړی شې، د کارونو غوټه دې پرانیزي او تر لوړو پوړونو خان ورسوې.

د «الصَّمَد» په نوم سره نوی دوران پیل کړه، بیا دا یقین ولره چې سبا ورځ به دې له نن څخه غوره وي، ډېره غوره!

### د صمدیت تر سیوري لاندې

لکه څرنګه چې ګورې د «الصمد» مبارک نوم ډېر لوړ نوم دی، د هغه حرفونه ډېر لوړ مفهوم او معنی لري، تلفظ یې لنډ خو د ډېر جلال او ځانګړې لوړتیا لرونکی دی.

له شک پرته له الله ﷻ څخه غوښتنه او د هغه دربار ته د خپلو اړتیاوو وړاندې کول په عبادت کې د اخلاص له تر ټولو غوره رښاوو څخه شمېرل کېږي. نو په همدې اساس هر څوک چې په خپل عبادت کې د اخلاص معنی او مفهوم تر ډېره په نظر کې ونیسي، نو زړه به یې د خپل پالونکي پر وړاندې د عاجزۍ ځانګړنه او له هغه ذات پرته بل چاته د پناه نه وړلو ځانګړنه ډېره ترلاسه کړي.

اوس موږ د صمدیت په نړۍ کې قدم ږدو، تر څو د «الصمد» نوم له مفهوم سره لږ څه بلد شو:

صمد هغه څوک دی چې خلک هغه ته اړ دي، هغه ته پناه ور وړي او د هغه پټنځای تر ټولو غوره پټنځای دی، دا د دغه نوم لـه غـوره مفهومونو څخـه دي. اوس موږ دغه مفهوم لا نور هم سپړو:

صمد هغه څوک دی چې د اړمنو هدف او مقصود دی، هغه څوک دی چې بنده ګـان د اړتیا، ستونزو او مصیبتونو د یرغل پر وخت هغه ته پناه وړي او هغه ته اواز کوي.

دغه نوم د قرآن کریم په یو ډېر لوی او په ورته وخت لنډ سورت کې چې د اخلاص سورت دی راغلی دی، هغه سورت چې د قرآن کریم د دریمې حصې معادل دی: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ. اللَّهُ الصَّمَدُ﴾.

ژباړه: ووایه هغه یو الله دی (۱) الله بې پروا دی (۲).

کله چې یو بنده مرستې ته اړ وي، وایي: یا الله...

که چېرې د اړمن لاس بند وي، وایي: یا الله...

که چېرې ساتنې ته اړتیا ولري، وایي: یا الله...

که چېرې د لارموندنې او هدایت په لټه کې وي، وایي: یا الله...

که چېرې د پالونکي مهربانۍ ته اړ وي، وایي: یا الله...

## څېړې

ستونزو او مصیبتونو پر انسان ولکه ټینګه کړې، یوازې د دې لپاره چې د ده نفس د الله ﷻ له نومونو او صفتونو سره تړاو ولري، چې دا د «صمدیت» معنی ده.

انسان د خپل ژوند په ټولو شېبو کې هغـه بې نیـازه الله ﷻ تـه اړ دی او کـه چېـرې قصداً هغه ته ور ونه ګرځي، یـوه ورځ داسـې راځـي چـې پـه ناچـارۍ سره بـه هغـه تـه حتمي ور ګرځي.

د بېلګې په ډول، که یو انسان په ځمکه کې یو ډول دانه وکري او د هغه مېوې تـه

سخته اړتیا ولري، خو د اوبونې لپاره اوبه نه وي، په دغه وخت کې د اسمان لورې ته مخ کوي او په ټول وجود او حواسو سره وايي: یا الله!

کله چې د اوبو څپې مستې شي او په بېړۍ کې له ناستو کسانو سره د مرګ اندېښنه پیدا شي، وايي: یا الله!

کله چې د الوتکې پیلوټ اعلان وکړي چې په الوتکه کې تخنیکي ستونزه پیدا شوې او د هغې څرخونه د ناستې لپاره نه پرانیستل کېږي، نو اړینه ده تر څو په هوایي میدان کې وڅرخېږي تر څو ستونزه حل شي، په دغه وخت کې ټول مسافر، ټول مهم شخصیتونه هېروي او یوازې هغه چا ته د زارۍ لاس پورته کوي چې ټول کاینات د هغه په بلا کیف لاسونو کې دي او په دغه وخت کې یوازې د هغه ملګرتیا غواړي.

کله چې ستاسې یو دوست د روغتون پر تخت پروت او بستر وي، سترګې یې اسمان ته پرانیستې وي، او د زړه ټکانونه یې کمزوري وي، په سختۍ سره نفس وباسي او د وینې جریان یې ورو ورو کمزوری کېږي، په دغه وخت کې د ډاکټر نوم ستا له یاده وزي او له هغه مخ ګرځوې او په ډېره هیله مندی وایې: یا الله، ته هغه ته شفاء ورکړې!

## چل ورکوونکي فکرونه

یو صحرایي سپین ږیری د «حصین» په نوم د محمدﷺ حضور ته راغی، محمدﷺ له هغه څخه وپوښتل: اې حصینه! د څو کسانو عبادت کوې؟! ویې ویل: د اوو کسانو؛ چې شپږ په ځمکه کې دي او یو په اسمان کې. محمدﷺ وپوښتل: له کوم یوه څخه وېرېږې؟ ویې ویل: هغه چې په اسمان کې دی. محمدﷺ هغه ته وویل: «د ځمکې واله پرېږده او یوازې د اسمان واله عبادت وکړه.» او دغه ډول حصین اسلام راووړ.[1] د صمدیت په مانا او مفهوم سره قناعت وکړه، څکه هر څوک د وېرې او امید په وخت کې هغه ته لاس اوږدوي، نو یوازې هماغه ذات د احترام او سرټیټولو وړ دی.

---

[1] ترمذي، کتاب الدعوات، باب قول النبی قل اللهم اللهمنی رشدی و ... د حدیث شمېره: ۳۸۲۰.

زموږ په وجود کې ایمان تر ټولو اسانه فکر دی چې حساب او کتاب، فلسفې او منطق ته اړتیا نه لري، بلکې داسې یو اسانه لغت دی چې غوره ده یو انسان هغه په اخلاص سره ووایي، تر څو چل ورکوونکي فکرونه له منځه یوسي. قرآن کریم دغه مسئله په دې ډول بیانوي: ﴿قُلِ اللَّهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ﴾ (انعام/۹۱)

ژباړه: ووایه: الله (نازل کړی و)- بیا یې په خپلو دلیل بازیو کې لوبو کولو ته پرېږده.

د «الله» کلمه د دنیا د تر ټولو لویو دروغو د باطلوالي لپاره په یوازې ډول کافي ده. د انسان د وجود په ژورو کې، د هرې حجرې (ژونکې) دننه او د هر رګ دننه داسې شیان دي چې الله ﷻ تر ټولو غوره بېژني او د هغه په یاد، تسبیح او هغه ته په سجده بوخت دي. لکه کافر انسان چې قرآن اوري، زړه یې نرمېږي او د ایاتونو پر وړاندې عاجزي غوره کوي.

یوه ورځ محمد ﷺ په مسجد الحرام کې د نجم سورت د مکې مشرکینو ته تلاوت کړ، پای ته رسېدلی نه و، چې دوی ټول په سجده شول، حتا هغه کسان هم چې محمد ﷺ به یې شړلو او رټلو او هغه ته به یې ضرر رسولو او د ده وژلو ته یې دسیسه جوړه کړې وه.

څه یې چې په رګونو کې وو، نو هغې یې ایماني قوه د دوی په بدنونو کې په جوش راوړه او د دې سبب شوه چې دوی الله ﷻ ته سجده وکړي.

## ستوري

الله ﷻ د خپلو بنده ګانو په بدن کې د خپل محبت او مینې اړتیا ځای پر ځای کړې ده. د بنده ګانو په بدن کې یوه داسې مینه او محبت شتون لري چې هغه ته د سر ټیټولو، د هغه د کور د طواف، د هغه پر وړاندې درېدلو، د هغه لپاره د خوب څخه پاڅېدلو او د هغه په لار کې د ورکړې او انفاق پرته بل څه هغه نه مړوي.

ستاسې ژوند د ټولو ځلېدونکو اړخونو سره تاسې ته په غوږ کې دا اواز کوي: د چا

چې پلټنه کوئ، نو هغه د عرش له پاسه ستاسې اواز اوري. ﴿الرَّحْمَٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ﴾ (طه/۵)

ژباړه: هغه ډېر مهربان، د کایناتو د پاچاهی پر تخت حکم چلوونکی دی (الرحمن پر عرش استوا کړې ده).

یوه فاجر انسان غوښتل تر څو یوې ښځې ته نږدې شي، خو هغې ښځې انکار وکړ. سړي هغه ته وویل: له ستورو پرته موږ څوک نهویني، ښځې په ځواب کې ورته وویل: نو د ستورو پیداکوونکی چېرې دی؟ الله ﷻ چېرې دی؟

کوم زړه چې الله ﷻ ته پناه یوسي، همغه ذات به یې پالنه او ځارنه کوي او هغه پوره باور لري چې هغه ذات پوه، اورېدونکی، لیدونکی او په ټولو کارونو احاطه او ولکه لري.

الله ﷻ ته ستا د زړه اړتیا باید په بشپړ ډول هغه کس ته ورته وي چې د کعبې پر وړاندې درېږي تر څو لمونځ وکړي، زړه باید داسې وي چې هر لور ته غواړي ځېلو غوښتنو او زړه تړلو ته ولاړ شي خو مخامخ لوری باید یوازې الله ﷻ ته ځانګړی کړي.

ستا د زړه ښی او چپ لوری ستا په خوښه هر لوري ته واړوه، خو مخامخ لوری یوازې د الله ﷻ خوښې، ځارنې او مینې ته ورکړه.

### او هغه مو هېر کړی دی؟

کله دې چې د یو شي پلټنه وکړه او هغه دې پیدا نکړ، پرې ابړده او الله ﷻ ته مخ واړوه او له هغه سره ځان مصروفه کړه، ځکه هغه ذات هغه څوک دی چې د دغه شي د ورک کولو سبب شوی تر څو له دغه لارې ستا پاملرنه ځان ته واړوي او ته هغه ته پاملرنه وکړې، هغه ته پناه یوسې او ووایې: پالونکیه! زما ورک شی ماته پیدا کړه! باوري اوسه چې هغه تاته پیدا کوي. په دغه وخت کې هغه ذات له تا څخه یو شی غواړي چې خپله اړتیا یوازې او یوازې هغه ذات ته ووایې، خو ته له هغه مخ اړوې او ته له هغه ذات پرته له بل چا سره مصروفه کېږې او له بل چا څخه د خپلې اړتیا پوره کولو غوښتنه کوې!!

ابن تیمیه رحمه‌الله په دې اړه ډېرې غوره خبرې لري چې باید د هغه اړوند فکر وکړو او د غم او تنګلاسی پر وخت له هغه ګټه واخلو، نوموړی وایي: کله چې بنده ته یوه ستونزه مخې ته راځي، د ده موخه د هغه د اړتیا لرې کول دي او غواړي چې ستونزه یې حل شي، نو ځکه هڅه کوي تر څو په عاجزۍ او زاریو دغه کار ترسره کړي، د ده دغه کار د الله ﷻ عبادت او اطاعت شمېرل کېږي، حتا که چېرې یې په لومړیو کې موخه یوازې خپلې غوښتنې ته رسېدل وي، لکه د روزۍ لاسته راوړل، بریالیتوب ترلاسه کول او د بدن او روح روغتیا او سلامتیا.

خو کله چې یو بنده د خپل پالونکي دربار ته د دعا لاس اوچتوي، عاجزي او زاری کوي، الله ﷻ د ده پر وړاندې د ایمان، پېژندګلوی، د الله ﷻ د یاد او ذکر څخه د ګټه اخیستلو او محبت دروازې پرانیزي او دغه ټول شیان د ټولو مهمو غوښتنو څخه په څو واره غوره او ګټور دي چې دغه بنده یې په لومړیو کې غوښتنه کوله، او دا د الله ﷻ مهرباني او رحمت دی د خپلو بندګانو پر وړاندې چې هغه ذات دوی د دنیوي اړتیاوو له لارې د دیني موخو او ارزښتونو پر لوري لارښوونه کوي.

د موسی ﷺ په زمانه کې سخته وچکالي راغله، داسې چې له اسمان څخه هېڅ باران نه اورېده، نو ځکه دی او په زرګونو ښځې، نارینه او کوچنیان یې له قوم څخه د دعا غوښتلو لپاره بهر شول. موسی ﷺ په لاره کې یو مېږی ولید چې خپل لاسونه یې د اسمان پر لوري اوچت کړي وو او له الله ﷻ څخه یې د باران غوښتنه کوله. موسی ﷺ هلته پوه شو او پیدا یې کړه چې دغه اړتیا او عاجزي به له ځان سره ښه اورښت او بدله ولري، نو خپل قوم ته یې وویل: وګرځئ، تاسې خپل کار وکړ، دوی په داسې حال کې وګرځېدل چې برېښنا او اورښت پیل شو.

په کوچنیوالي کې مې له یوه قاري څخه دا دعا واورېده چې زه یې په لړزه راوستم: «اللَّهُمَّ أَوْقَفْنَا مَطَايَانَا بِبَابِكَ، فَلَا تَطْرُدْنَا عَنْ جَنَابِكَ» پالونکیه ستا په در مو تکیه وکړه، ته مو له خپل دربار څخه مه شړه! د الله ﷻ په دربار دغه ډول تکیه کول د همغه صمد معنی ده.

## خپله اړتيا له هغه ذات وغواړه!

باید پوه شې چې که چېرې هغه ذات دوا ته اجازه ور نه کړي، نشي کولی د ناروغی د شدت پر وخت ستا د بدن لپاره اغېزمنه واقع شي او ستا پر بدن اغېز واچوي، نو د هغه دربار ته د اړتيا لاس اوږد کړه او له هغه ذات شفاء وغواړه.

باید پوره يقين ولرې که چېرې هغه ذات هغه لبوني موټر له تا څخه نه وی لرې کړی، اوس به په مړو کې حساب وی، نو اړتيا دې هم له هغه څخه وغواړه ترڅو ستا ساتنه وکړي.

باوري اوسه که چېرې د کښتۍ د سورېدو پر وخت هغه ذات ستا څارنه ونه کړي او هغه ذات ستا ساتنه ونه کړي نو ته به د کبانو خوراک شې، نو د زړه اړتيا دې هغه ذات ته ووايه تر څو په ټولو وختونو کې هغه ستا ترڅنګ ودرېږي.

په هر حال کې چې يې، هغه ذات پوره په نظر کې ولره او د زړه اړتيا او غوښتنه دې هغه ذات ته ووايه تر څو ارامه شې، تر څو ستا نا ارامي په هوساينه بدله شي، ځکه ته له هغه ذات پرته بې موخې مندې وهې، نو ځکه به ته مړاوی او نا ارامه وې.

هغه څوک چې د سمندر او سيند په منځ کې په کښتۍ (بېړۍ) کې سپاره دي، کله چې ناڅاپه له طوفان سره مخ کېږي او خپل مرګ په خپلو سترګو ويني او دغه سخت باد او طوفان دوی ښکته او پورته وړي، په دغه وخت کې چې دوی هر ډول دين او عقيده ولري، د بدن ژورې يې دا چيغه وهي: يا الله!

﴿هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُواْ بِهَا جَاءتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّواْ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُاْ اللّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنِّ مِنَ الشَّاكِرِينَ﴾ (يونس/٢٢).

ژباړه: هماغه الله دی چې تاسې په وچه او لمده کې ګرځوي، لکه څنګه چې تاسې په بېړيو کې په سورېدو په موافق باد سره خوشحاله سوکاله سفر کوئ، او بيا په ناڅاپي ډول مخالف توند باد را والوزي او له هرې خوا څخه څپې څپانده کېږي او

مسافران انګېري چې په طوفان کې راګير شول. په هغه وخت کې ټول خپل دين يوازې د الله ﷻ لپاره خالصوي او داسې دعاګانې کوي: «که ته موږ ته له دې بلا نجات راکړه، نو موږ به شکر ايستونکي بندګان شو.»

الله ﷻ ستا دننه داسې اړتيا ځای پر ځای کړې تر څو ته د هغه نوم ووايې: د «يا الله» په عبارت کې داسې ارامي او اطمينان شتون لري که چېرې هغه ووايې نو ستا ټول بدن ته به ورسېږي، او که اختياري يې هم ونه وايې په ناچارۍ سره به هم هغه وايې.

که چېرې هغه د ايمان او قلبي باور له مخې ونه وايې، يوه ورځ به راشي چې هغه به زور ووايې.

که چېرې د الله ﷻ د نوم تکرار په ارامۍ او هوساينه کې ستا د ژبې زمزمه نه وي، له شک پرته چې په سختۍ کې به ستا ژبه په هغه چلېږي.

**قطب نما**

ولې موږ هر وخت يوې بلا او بدبختۍ ته انتظار باسو تر څو موږ د الله ﷻ لوري ته وګرځوي؟ يا هغه مصيبت او ناورين چې بيا ځلې د هغه نوم موږ ته په ياد راوړي، يا هغه بدمرغي چې د هغه په سبب له مسجدونو سره مينه پيدا کوو؟ ايا غوره نه ده چې موږ له بدمرغۍ او بلا پرته د هغه دربار ته پناه يوسو؟

ايا هغه ژوند، روغتيا، ايمان، نېکمرغي او امنيت چې هغه ذات پر موږ لورولي، زموږ پر اند دومره کم ارزښته دي چې موږ هغې ته هېڅ پاملرنه نه کوو؟ حتماً نو بايد پر يوه بلا اخته شو تر څو زموږ وهمونه او خيالونه زموږ له ذهن څخه وباسي او زموږ په ذهنونو کې د الله ﷻ له نوم پرته بل څه پاتې نه شي؟!

د خپل زړه قطب نما (لوری موندونکی) دې د هغه ذات پر لوري تنظيم کړه او بيا د هغه پر لور حرکت وکړه حتا که په ګونډو تللو ته هم اړ شې. که دا کار وکړې نو حتماً به هغه ته ورسېږې، لکه څنګه چې خپله وايي: ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا۟ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ﴾ (بقره/۱۱۵).

ژباړه: هر لوري ته چې مخ کړې الله هلته شتون لري.

که چېرې ته خپله اړتیا سهار د یو چا پر وړاندې ووایې او د هغه دربار ته یې یوسې، باوري اوسه چې د شپې به ستا پر وړاندې خپل ور خلاص نه کړي، که نن څه درکړي سبا ورځ یې درڅخه منع کوي، نو الله ﷻ دا ډول نه دی!

﴿هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ﴾ (غافر/٦٥).

ژباړه: هغه ژوندی دی، له هغه پرته د عبادت وړ څوک نشته، نو له هغه څه وغواړئ.

الله ﷻ شپه او ورځ بښنه او لورېینه کوي. که ته مظلوم وې د نورو ټولو پر وړاندې ستا ننګه کوي، هېڅکله د هغه د رحمت ور او دروازه نه تړل کېږي، د هغـه د لورېینې او ورکړې لاس د شپې او ورځې په اوږدو کې د بښنې او سخاوت پـه حال کې دی. هغه اکرم الاکرمین دی، نو څکه ټول خلک د اړتیا لاس هغه ته اوږدوي.

که دا تجربـه لرې چې یـو چاتـه دې د اړتیـا لاس اوږد کـړی وي او د هغـه څخه ناهیلی شوی وې، دا د حیرانتیا خبره نه ده. که چېرې له بل چا یو څه وغواړې ښایي منفي ځواب درکړي او یا یې که درکړي په ځنډ سره دغه کار کـوي او یـا یـې پـه سمه توګه نه ترسره کوي! ښایي په بشپړ ډول ستا اړتیا پوره کړي، خـو ستا سـپکاوی کـوي سره له احسان اچولو، ښایي ستا سپکاوی هم ونه کړي، خو ستا د نفس عزت په دغه کار سره تر سوال لاندې راځي او د هغه پر وړاندې د ماتې او ناهیلۍ احساس کوې.

## خپل زړه له هغه ذات پرته له نورو اوزګار او خالي کړه

ډېر وړاندې کلونو کې د یو پوهنتون د ښوونکي اداري تـه ولاړم او د خپلو زده کړو اړوند مې لیک ولیکه او د خپلو ځینو ستونزو یادونه مې هم ورته وکړه. ماته یې وویل: ډېر مه غږېږه او په لنډو کې یې ولیکه!

خلک تا نه درک کوي چې ستا ډېر ویل او ټینګار د اړتیا او تنګلاسی له مخې دي، خو واحد الله ډېر خوښ لري چې خپله اړتیا د هغه لور ته یوسـې او زیـات خـوښ لري

چې د هغه سره دې د راز او نیاز وخت طولاني او اوږدمهاله وي، ځکه هغه ذات خوښ لري چې د هغه بنده په دعا کې ټینګار وکړي، نو سره له دغه ټولو ښېګڼو مو هغه ولې پرېښی دی او له هغه پرته د بل چا لمن ځنډۍ او د نورو لمن مو رانیولې ده؟!

محمدﷺ ابن عباس ﷺ ته وویل: «إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ»[1].

ژباړه: کله چې هر څه غواړې نو له الله یې وغواړه.

هره هغه غوښتنه چې غوره ده له یو چا څخه یې وغواړئ او د غوښتلو وړ وي، باید هغه د غوښتلو وړ شخص یوازې الله ﷻ وي.

هغه خبره چې امام غزالي رحمه الله له یوه عارف څخه نقل کړې وه، زه یې حیران کړم او غوره ده چې د الله ﷻ د اسم اعظم اړوند داسې وایي: له الله ﷻ پرته دې زړه له نورو خالي کړه، بیا چې په هر نوم غوره ګڼې له هغه ذات غوښتنه وکړه! او هغه ذات به ځواب درکړي.

دا د صمد مبارک نوم مفهوم دی! په زړه کې الله ﷻ ته ځای ورکړه، بیا چې څه غواړې روایه، بیا به ته ووینې چې ستا ټولو کارونو رباني او خدایي رنګ او بوی نیولی وي.

هر څه چې په دغه دنیا کې ننداره ته وړاندې کېږي ستا لپاره یو پیغام دی چې وایي:

ته یو بې نیازه پالونکی لرې نو د زړه غوښتنه دې هغه ته وړایه.

ناروغي هغه پیغام دی تر څو ته د الله ﷻ پر وړاندې عاجز او متواضع شې...

بې وزلي هغه سپرمغی دی چې ستا او د الله ﷻ ترمنځ د سجدې تړاو برابروي...

ناتواني او کمزوري هغه اړیکه ده چې وایي، قوت یوازې له پیاوړي ذات څخه وغواړه...

ستا ټول ژوند ستا په بدن کې تاته چیغې وهي چې ته یو پالونکی لرې، د اړتیا پر

[1] ترمذي، کتاب صفة القيامة و الرقائق والورع، د حدیث شمېره: ۲۵۱۶.

وخت هغه ته مخ کړه!

د ابن عباس په پورتني حدیث کې محمدﷺ فرمايي: «احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ»[۱].

ژباړه: الله ﷻ په یاد ولره، تر څو تا په یاد ولري او ستا ساتندوی شي. الله ﷻ په یاد ولره تر څو ته یې له خپل ځان سره پیدا کړې.

الله ﷻ ستا د بدن دننه په ټولو غړو کې وساته تر څو بیا د هغه ذات ساتنه، ملګرې او دوستي په چټکۍ سره په خپلو سترګو ووینې.

هغه بې نیازه خدای دی، د بندګانو زړونه تر هغه نه ارامـه کېږي مګر پـه دې سره چې بندګان خپلې اړتیاوې د هغه د پاچاهۍ په قلمرو کې ځای پر ځای کړي.

## د هغه په لور ګړندي ګامونه

هر لوري ته چې غواړې وګوره، خو په زړه کې دې داسې سترګې پرانیزه چې یوازې د الله ﷻ لویي او عظمت ته وګوري او بس.

په هره ژبه چې غواړې خبرې وکړې ویې کړه، خو په زړه کې دې داسې ژبه ځای پر ځای کړه چې یوازې هغه ذات یاد کړي او د هغه ذکر ووايي.

د ټولو خبرې واوره، خو په زړه کې دې داسې غوږ ځای پر ځـای کـړه چې د الله ﷻ له کلام پرته نور څه وانه وري.

هر لوري ته چې خپې ولاړ شه، خو د زړه ګامونه دې تر عرشه ګړندي کړه!

په زړه، روح، فکر، بدن، ارادې، خوبونو او خیالونو سره یـوازې پـه هغـه ذات تکیه وکړه او له هغه څخه خپله اړتیا وغواړه!

---

[۱] مخکنی حواله.

کله دې چې قلم را واخیست، له ځان څخه وپوښته: ایا څه چې په دغه لیک کې لیکم له هغه الله ﷻ خوښ دی؟

کله دې چې خبرې کول غوښتل، له خپل ځان څخه وپوښته: څه چې وایم ایا په هغه الله ﷻ خوښ دی؟

کله چې یو ځای تم کېدلې، له ځان څخه وپوښته چې ایا دغه ځای تم کېدل زما د پالونکي لپاره خوښ دي او که نه؟

یو ساعت په زنګ سره برابر کړه او هغه دې بیا د زړه په برقي بیټرۍ ځوړند کړه تر څو یې زنګونه تاته ووایي:

الله ﷻ څه غواړي؟ الله ﷻ څه غواړي؟ الله ﷻ څه غواړي؟

په هره شېبه کې هغه په یاد ولره. که نیمه شپه ویښ شوې هغه یاد کړه، ځکه که هغه یاد نه کړې نو ټول فکرونه به دې تور رنګ واوړي.

ستا عقل ویجاړ دی که چېرې د هغه ذات نوم ستا په خوبونو او فکرونو کې نه وي، ستا عقل د ګنده اوبو ډنډ دی که د الله ﷻ له یاد څخه خالي وي او لرې نه ده چې دغه ډنډ کې ډوب شې، نو په هر حال هغه ذات په یاد ولره تر څو ستا د ژوند شېبې په سیندونو، شنو ونو او اواز ویونکو مرغانو بدلې کړي چې بیا ستا د ژوند روح په هغه کې د خوښۍ مزل وکړي.

**اوچتوالی**

که چېرې دې روح ته دا ور زده کړې چې یوازې د عالمیانو له پالونکي غوښتنه وکړي، د وخت په تېرېدو سره به داسې وروزل شي چې د دنیوي بې شمېره غوښتنو څخه به حیا کوي؛ ځکه دا هغه موخه نه ده چې ته الله ﷻ د هغه لپاره پیدا کړی یې. نو په دغه ډول به دې تولې هیلې او ارزوګانې تر اخرت پورې تړاو پیدا کړي.

یوه ورځ د وخت خلیفه ابن عمرؓ ته چې د کعبې په طواف مصروفه و وویل: اې ابن عمره! له ما څخه څه وغواړه! ابن عمرؓ د هغه اړمن کس په ډول چې یوازې خپله اړتیا اللهﷻ ته وړاندې کوي، هغه ته وویل: دنیوي غوښتنه وي که اخروي؟ وې ویل: اخرت خو باید له اللهﷻ وغواړې. له ما څخه د دنیوي کارونو اړوند غوښتنه وکړه تر څو یې درته وړاندې کړم. ابن عمرؓ وویل: زه دنیا له هغه چا نه غواړم چې حقیقي څښتن یې دی، څنګه له هغه کس څخه یې وغواړم چې حقیقي څښتن یې نه دی؟!

اللهﷻ ته اړتیا د دې سبب کېږي چې ته نور د خاورې مالکانو ته پاملرنه ونه کړې، ځکه دنیا دنیا پرستانو ته ځانګړې شوې او اللهﷻ ته حقیقي اړمن خلک هغې ته مخ نه ګرځوي.

یوه ورځ یو حاکم ابن تیمیهرحمه الله ته وویل: اې ابن تیمیهرحمه الله، اورېدلي مې دي چې زما د تاج او ماڼۍ د غوښتلو نیت دې کړی دی؟ ابن تیمیهرحمه الله په سرلوړۍ سره سر پورته کړ او وې ویل: په اللهﷻ سوګند کوم چې ستا ټول تخت او تاج زما په وړاندې د دوو روپو ارزښت نه لري!

هغه څوک چې د شپې په نیمایي کې خپل مخ د اللهﷻ لور ته ګرځوي، څنګه د ورځې د اندک مال له کبله خپل ځان خوار او ټیټ کړي؟!

**یو حقیقت**

په حقیقت کې همغه شېبه چې ته د اړتیا لاس د بې نیازه رب پر لور پورته کوې، پردې باور اوسه چې ستا غوښتنه د هغه ذات په نه خلاصېدونکې او نه پناه کېدونکې شتمنۍ کې په څټکۍ سره تاته درکول کېږي.

باید پوه شې چې د ژوندانه تر ټولو سخت لوري او پراوونه یوازې د اللهﷻ تر لور او مسیر تېرېږي؛ هېڅ غوښتنه شتون نه لري مګر هغه به د اللهﷻ په میدان کې وي. د اللهﷻ له ارادې او اجازې پرته هېڅ کار نه ترسره کېږي، ځکه ټول کارونه د هغه ذات په بلا کیف لاسونو کې دي او هېڅ قدرت د هغه له ارادې بهر نه دی.

هېڅ یوه حجره د هغه له امر پرته حرکت نه کوي، او هېڅ یوه ذره یا اتوم د هغه له اجازې پرته منځ ته نشي راتلی. هېڅ خاځکی د هغه له ارادې پرته په بڼاس نه بدلېږي، هېڅ پاڼه له ونې ښکته نه لوېږي مګر د هغه ذات په ارادې او اجازې سره.

که ټوله دنیا وغواړي چې تاته ضرر ورسوي، خو که الله ﷻ نه وي غوښتي نو دا کار ناشونی دی او که ټوله دنیا راولاړه شي او ستا څخه ضرر لرې کړي، خو که الله ﷻ تاته ضرر لیکلی وي د دوی هڅه ناکامه او د الله ﷻ امر ترسره کېدونکی دی.

نو خپل مخ د الله لوري ته وګرځوه، په هغه تکیه وکړه او ټول کارونه هغه ته وسپاره؛ ځکه هغه بې نیازه پالونکی دی چې نه له چا زېږېدلی او نه یې څوک زېږولي او نه د هغه سیال شته.

پالونکیه!! زموږ زړونه ستا لوري ته اړمن کړه او موږ داسې جوړ کړه چې له تا پرته له بل چا څه غوښتنه ونه کړو او له تا پرته له بل چا څخه مرسته ونه غواړو او نه بل چاته غږ وکړو.

# الحفيظ

د موټر د برېک، اکسېلېټر، هوايي کښوړې او امنيتي کمربند په ګټه پوهېږو خو الله جل جلاله هېروو.

## الحفيظ (ډېر غوره ساتونکی)

کله دې چې احساس کړه چې ژوند دې په خطر کې دی، يا ناروغي ستا روغتيا تهديدوي، يا دا چې زوی دې درڅخه لرې دی او ډارېږې چې د هغه پښې ونه ښوييږي او د بدو ملګرو د ملګرۍ ښکار نه شي، يا ستا هغه شتمني چې تا په ډېرو ستونزو لاسته راوړې ده د له منځه تلو په حال کې ده، پوه شه چې ته د الله ﷻ يوه نوم ته اړ يې او هغه نوم «حفيظ» دی. بايد خپل ايمان په دغه لوی اسم تجديد کړې او هغه مناسب وخت را رسېدلی دی چې د دغه نوم په اړه فکر وکړې، څکه يوازې هغه ذات دی چې ستا ژوند، روغتيا، اولادونه، شتمني او ستا د ژوند له ټولو شيانو ساتنه کوي.

### اې زړه! ارامه شه

شيخ عبدالرحمن السعدي رحمه الله[١] وايي: «حفيظ خدای هغه ذات دی چې خپل پيدا کوونکي په ښه ډول ساتي او د هغه ذات اراده په ټولو مخلوقاتو ولکه لري. هغه ذات خپل ملګري او دوستان په ګناهونو اوهلاکت کندو کې له لوېدو ساتي او د هغه په حرکت او سکون خپل لطف لوروي.»

د څارنې او ساتنې پای له هغه سره دی او کله چې ته له الله ﷻ سره وې نو ژوند کې به دې سراسر ارامي او هوساينه وي. حفيظ خدای د خپلو بندګانو تل ساتنه کوي نو څکه مونږ تل وايو: «اللَّهُمَّ احْفَظْنِيْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَ مِنْ خَلْفِيْ وَ عَنْ يَمِيْنِيْ وَ عَنْ شِمَالِيْ وَمِنْ فَوْقِيْ وَ أَعُوْذُ بِعَظَمَتِكَ اَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِيْ.»

ژباړه: پالونکيه! ما له مخامخ، له شا لوري، له ښي او چپ لوري او له پاسه وساته، او ستا په لويي تاته پناه وړم چې ما د بې پروايۍ په حالت کې مه وژنه. د دغه دعا په لوستلو سره له خپل پالونکي غواړې چې تا له ټولو شپږو اړخونو خوندي وساتي، له هغه ذات غوښتنه کوې چې د ساتنې کړۍ ستا څخه چاپېره کړي او هېڅ څوک له هغه

---

[١] عبدالرحمن بن ناصر السعدي د «تيسير الکريم الرحمن فی تفسير کلام المنان» مشهور تفسير ليکوال او راټولوونکی دی. ژباړن

ذات پرته دغه کار نه شي ترسره کولی.

الله ﷻ ستا سترګې او غوږونه ساتي، په همدغه دلیل سهار او ماښام وایې: «اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي».

ژباړه: پالونکیه زما غوږونه او سترګې سالمې ولره.

که چېرې انسان خپل لیدل او اورېدل له لاسه ورکړي، نو هغه ماشین به چې د هغه په وسیله ټوله نړۍ درک کوي له لاسه ورکړي او په ډېره تاریکۍ کې به ژوند پرمخ وړي او دنیا به په خپل سکوت هغه تیارو ته وغورځوي. ﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ﴾ (الانعام/٤٦)

ژباړه: [اې محمده ﷺ!] دوی ته ووایه: کله مو پر دې هم فکر کړی دی چې که الله ﷻ ستاسې لیدنه او اورېدنه در څخه واخلي او ستاسې زړونه مهر کړي، نو د الله ﷻ څخه پرته بل کوم خدای شته چې تاسې ته دا قواوې بېرته درکړی شي؟

حفیظ هغه ذات دی چې ستا اورېدنه ساتي تر څو ته حرام پرې وانه وړې او که وغواړي هغه په یوه شپه کې له منځه وړي، ستا د لیدلو حس ساتنه کوي تر څو ته پرې حرامو ته ونه ګورې او که هغه ذات وغواړي په یوه شېبه کې هغه له منځه وړي.

حفیظ ستا د دین ساتنه کوي، نو له همدې کبله ته په سجده کې وایې: «یا مقلب القلوب والابصار ثبت قلبي علی دینک».

ژباړه: اې د زړونو او سترګو بدلوونکیه، زما زړه ستا پر دین ثابت او ټینګ ولره.

بې لارې

که حفیظ ذات ستا زړه په دین ثابت ونه ګرځوي، شکونه به تا په خمکه ووهي او هوسونه به دې له خوږ سره مخ کړي. ډېری رباني علماء وو چې ټول عمر یې د کتابونو له جوهر سره تېر کړ خو الله ﷻ ونه غوښتل چې د هغوی عقیده وساتي، نو له همدې کبله ځینې له دوی له الله ﷻ منکر شول او ځینو په دین کې بدعتونه منځ ته راوړل او

ته په دغه کم عمل تر اوسه هغه ذات ته سجده کوې؟ له شک پرته چې دا حفیظ خدای دی چې ستا د دین ساتنه کوي!

یوه عالم د عبدالله القمیصي په نوم د «الصراع بین الاسلام والوثنیه» - «د اسلام او بت پالنې ترمنځ جګړه» په نوم یو کتاب ولیکه. داسې کتاب چې د دې سبب شو چې د ده په هکله په مبالغې سره ووایي چې ده په دغه کار سره جنت د ځان لپاره واجب کړ او په منبرونو د هغه نوم یادېده او د هغه ستاینه کېده، خو د څو کلونو وروسته د ښویدنې یوه محکم بوکس د هغه د زړه دروازه ور ماته کړه او د هغه فکر او زړه د شک او شبهو ځخه ډک شو، وروسته له هغه بدیهیات په ممکناتو او حقایق یوازې په نظرونو تبدیل شول. نوموړي د دغه ګمراهی په ډنډ کې قلم را واخیست او داسې یو کتاب یې ولیکه چې د اسلام سره مخامخ او ډاګه یېزه جګړه کوي چې نوم یې «هذه هي الأغلال - دغه ځنځیرونه-» دی. نوموړی په دغه کتاب کې وایي: چې د الله ﷻ دین له محدودیتونو او ځنځیرونو ډک دی. له دغه ډول ذلت او څوړتیا ځخه الله ﷻ ته پناه وړو!

حفیظ هغه ذات دی چې ستا د دین ساتنه کوي، نه د هغه معلوماتو چې ستا د سر په کوپړۍ کې دي! د هغه اعمالو او کړنو له کبله چې ته یې ترسره کوې، یا ته د قرآن حافظ یې او یا د پیغمبر ﷺ ځینې سنتونه عملي کوې مغرور نشې، ځکه که الله ﷻ ستا د دین ساتنه ونه کړي نو په بې لارۍ به سر شې!

الله ﷻ خپل «اسم اعظم»[١] بلعم بن باعور ته ور ښوولی وو چې په هر وخت کې به

---

[١] بلعم بن باعور/ بلعام بن باعوراء:

په قرآنکریم کې د سورت الاعراف د ١٧٥ او ١٧٦ له مبارکو ایاتو ځخه اکثره مفسرین لکه حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم اجمعین بلعم بن باعورا یادوي ، داچې دا کس څوک دی اوس به ددې په هکله معلومات را واخلو. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ځخه یو روایت سته چې د بلعم بن باعوراء اسم اعظم زده وو(تفسیر ابن کثیر). نور اقوال هم دده په هکله سته.

بلعام بن باعوراء:

بلعم د باعور زوی، هغه د ستور زوی، هغه د وسیم زوی، هغه د ناب زوی، هغه د لوط زوی، هغه د هاران زوی، اتفاقي خبره داده چې هغه د حضرت لوط علیه السلام د اولادې ځخه وو، د بنی اسرائیلو یو کاهن

او زاهد وو د سيدنا حضرت موسی عليه السلام په زمانه کې، چې ۱۳-۱۴ قبل الميلاد پېړۍ کې اوسېده.

(بلعام، بلعم) په عبراني ژبه کې يې مانا ده ((د خلکو زاهد)) دغه توری هم لکه دابراهيم نوم چې په عبراني کې (ابرام، ابرهام، ابراهام ) دی او په عربي ژبه کې يې معرب: (ابراهيم) دی؛ او د (باعور، بعور) مانا په عبراني کې د ((سوځولو او مشعل) ده، دا کس په اسرائيلو کې يو ډېر بزرګ او تقواداره کس وو، چې يوکرامت يې دا ؤ چې مستجاب الدعوات وو، هره دعاء يې قبلېدل.

کله چې حضرت موسی عليه السلام د بني اسرائيلو سره د جبارين قوم و سيمي (موآب) ته چې د بني کنعان علاقه وه د جهاد لپاره ورغلئ بلعم بن باعوراء هلته وو( تفسير طبری)، نو دهغې سيمي پاچا ( بالاق/ بلق بن صفور) وو ، هغه بېربدئ چې داسي نه چې بني اسرائيل پاچاهي را څخه ونيسي، له ويري له کبله دغه پاچا بالاق و بلعم بن باعوراء ته ورغلئ چې ته و حضرت موسی عليه السلام ته ښيرا وکړه او د هغه په خلاف دعاء وکړه، بلعم بن باعور په دې ښه پوهېدئ چې حضرت موسی عليه السلام د الله رسول دی او د هغه خلاف دعاء کول د هلاکت او لعنت سبب ګرځي، بلعم بن باعور د پاچا بالاق د دې غوښتې څخه انکار وکړ، پاچا ښځه او پيسې ور مخته کړې، بلعم بن باعور دې ته اماده سو چې د حضرت موسی عليه په خلاف دعاء وکړي، بعلم بن باعور غره ته پورته سو، ښيراوې يې و بني اسرائيلو او حضرت موسی عليه السلام ته شروع کړې، الله پاک له بلعم څخه ټول کرامت او هر څه سلب کړه، ده چې څه غوښتل هغه سرچپه کېدل، ده غوښتل حضرت موسی عليه السلام ته ښيرا وکړي هغه به دعاء سوه، اخر يې ژبه لکه دسپي راووتل پر سينه پرته وه او هيڅ يې نسوای ويلای.

(تفسير معالم العرفان ټوک: ۸، پاڼه: ۵۶۷- ۵۷۰/ ليکوال: مفسر القرآن مولانا عبدالحميد سواتی رحمة الله عليه)

له دې څخه وروسته بلعم بن باعوراء و پاچا بالاق ته وويل چې تاسې خپلې ښايسته پېغلې ښځې را باسئ دغه د موسی عليه السلام عسکر بنی اسرائيل مسافر هم دي او کې زنا وکړه د خدای افت وربانديې نازليږي او ټول به هلاک سي، پاچا همداسې وکړه، ټولې ښايسته پېغلې يې د حضرت موسی عليه السلام ولښکر ته راوېستلې، چې د پاچا بالاق لور هم پکښې وه، و دې شاهزادګۍ ته ويل سوي وه چې ته به صرف د خپل پلار يا بلعم بن باعور تر شا خې او بس، د پاچا لښکر چې دا وليدلې زناوې يې پيل کړې او بلعم بن باعور شهزادګۍ و خيمې ته داخله کړه او زنا يې ورسره وکړه، له دې وروسته د خدای عذاب لوی افت او وباء په ګډه سوه او ۷۰۰۰۰ کسان يې هلاک سول، دغه جبارين قوم بيا د حضرت موسی عليه السلام څخه وروسته يوشع بن نون عليه ورسره جهاد وکړ او دا سيمې يې فتح کړې.

د بلعم بن باعوراء کيسه او يادونه په اوسني بايبل کې ډېر خايه راغلې ده په کتاب اعداد باب: ۲۲، ۲۳، ۲۴ ، په کتاب تثنيه باب: ۲۳، يشوع باب: ۲۴، ميکاه باب: ٦، پطرس: باب: ۲، يهوداه باب: ۱ او مکاشفه باب: ۲، کې راغلې ده، وده ته منسوبې ويناوې او خبرې سته، په بايبل کې راغلې دي ، داچې بايبل خپله يو تحريف سوی او منسوخ سوی کتاب دی نو ځکه موږ د بايبل له بطن څخه د بلعم بن

هغه دعا وکړي او الله ﷻ يې هم قبوله کړي، خو دغه اسم اعظم د ده او د بې لارې ترمنځ دېوال واقع نشو او د هلاک شوو له ټولګي څخه وشمېرل شو!

### او الله ﷻ هېروو

الله ﷻ ستا د ژوندانه ساتنه کوي، له همدې کبله کله چې مور له خپلو خپلوانو سره مخه ښه کوو هغه يوازې الله ﷻ ته سپارو او وايو: تا په هغه الله سپارو چې هغه د سپارلو مرسته کوي او هېڅ وخت يې نه ضايع کوي! دا ناشونې ده چې الله ﷻ دې هغه څوک ضايع کړي چې هغه ذات ته سپارل شوي وي.

هره پېښه چې انسان ورسره مخ کېږي او لـه هغـه څخه پـه سالمه توګه خلاصون ومومي د هغه تر شا يو داسې حفيظ څوک شتون لري چې هغه ته يې له دغه پېښې څخه خلاصون ورکړی دی. موږ د موټر د بريک، اکسېلټر، هوايي کڅوړې او امنيتي کمربند په ګټه پوهېږو خو الله ﷻ هېروو.

کله چې د کښتۍ وېروونکې څپې د مسافرو او سوارلي زړونـه تـر حلقومـه ورسوي، څوک شته چې د سمندر له څپو او ډوبېدو دوی ته نجات ورکوي؟

يو ځل مې په انټرنېټ کې د يوه فېلم يوه صحنه تر سترګو شوه چې يـوه کښتۍ د سمندر څپو را ګير کړې وه او څپو له هغه سره لوبې کولې. څوک چې پکې سپاره وو له اختيار پرته يې له کښتۍ ځانونه غورځول او هڅه يې کوله تر څو خپل ځان وژغوري، حتا دغه وخت کې يې د فکر کولو يـوه شـبيه هـم ورسره نـه وه، يـوازې دا چې ځان

---

باعوراء متن نه را اخلو او نه هم ورته اړتيا سته، همدومره کفايت کوي.

يادونه: د بلعم بن باعور/ بلعام بن باعوراء په هکله په اسلامي تواريخو کې ډېر معلومات نسته، هغه څه چې د ده پوره وضاحت سره يې بيان کړيدي هغه اسرائيليات دي او دا ټوله کيسه د بلعم بن باعور خبرې او هر څه په بايبل کې بيان سويدي، او اسرائيلي روايات دومرې ډېر دي چې دوه يو شاته نه دي.

راټولونه: زما لارښود استاد علامه عبدالغفار جبير حفظه الله.

ژباړن.

وزغوري کله چې انځور اخیستونکي له کښتۍ بهر یوه صحنه وړاندې کوله، کښتۍ مې د سمندر په څپو کې داسې ولیدله لکه یو لوی غر چې د سمندر وېروونکو څپو یو لوري بل لوري ته اړوله!

کله چې پیلوټ په الوتکه کې په ناڅاپي ډول د تخنیکي ستونزې خبر د سوارلۍ تر غوږونو رسوي، نو دغه وخت کې ټول هغه کسان چې له دې صحنې مخکې به یې اسمان په پښو راکش کاوه په ناڅاپي ډول په عاجز او متواضع کسانو بدلېږي او د اسمان په خدای متوسل کېږي او توبه کوي. دغه وخت کې هېڅوک د امیدونو او غمونو په فکر کې نه وي، بلکې مرګ هغه شی دی چې دوی یې د خپلو سترګو پر وړاندې ویني! هېڅ څوک شتون نه لري چې په خپل قدرت سره دغه تخنیکي ستونزه له منځه یوسي او الوتکه په سلامتۍ سره ځمکې ته ورسېږي او ټول هغه کسان چې د مرګ له وېرې د یوه جسد په ډول وچ شوي وو له هغه بهر کړي؟

هغه الوتکه چې زه یې هم له سوارلۍ څخه وم، له یوې کوچنۍ هوايي چولې (د نوتونکې هوا نل) سره مخ شوه، په دغه وخت کې مې د ډېرې وېرې احساس وکړ او د دغه الوتکې لوی حجم ته مې ور پام شوو چې څنګه سره له دومره وزن په نه ختمېدونکې دښته پرواز کوي! د وېرې احساس پر ما غلبه وکړه او له ځان سره فکر بوورم چې څنګه د الوتکو په نورو ټولو سفرونو کې د الوتکې له دغه ډول وېروونکي انځور څخه غافل وم او هغې ته مې ور پام هم نه و، دا چې دغه ډول یو لوی جسم د الله ﷻ په قدرت سره په اسمان کې الوتنه کوي!

| | |
|---|---|
| فَـإِنَّ وَصَـلْنَا إِلَى شَـاطِىءِ عَصَـيْنَاهُ | نَــدْعُوهُ فِي الْبَحْــرِ أَن يُــنَجِّيَ سَــفِيْنَتَنَا |
| فَمَــا سَــقَطْنَا لِأَنَّ الْحَــافِظَ اللهُ | وَنَرْكَــبُ الْجَـــوَّ فِي أَمْـــنٍ وَ فِي دَعَـــةٍ |

| | |
|---|---|
| آنک نجات و ساحل و عصیان بندها | کشتي دچار ورطـه و مـا جملگـي دعـا |
| فارغ ز ترس و بیم که حافظ بود خدا | مـا بـر فـراز ابرهـا و در قلـب آسـمان |

چې کله مو بېړۍ په ډوبېدو شي ټومبړ سر شو په دعا    او کله مو چې وژغورې نو سر شو په ګناه
الــوزو پــه اســمان کــې پــه ســکون او آرامــۍ    نو څکه نه وېرېږو چې موږ ساتي يو الله

سجاد

## ساتونکې ملايکې (خانګړې ګارد)

الله ﷻ فرمايي: لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِّن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ (الرعد/١١).

ژباړه: د هر چا وړاندې وروسته ټاکل شوي څارونکي دي چې د الله ﷻ په حکم سره د هغه څارنه کوي.

الله ﷻ ستا په خاطر څلورو پرښتو ته امر کوي چې ستا ساتنه وکړي تر څو د هغه په امر هغه څه چې تا ته نه دي ليکل شوي له تا دفع کړي. څنګه به هغه حفيظ نه وي، په داسې حال کې چې دغه شمېر ملايکې يې ستا د ساتنې لپاره ګومارلې دي تر څو هغه غشي چې الله ﷻ د هغه په وسيله ستا ژوند ته د پای ټکی نه دی ږدي پر تا ولګېږي. يوازې دا نه ده، حتا که چېرې هغه ونه غواړي يوه ماشه به ستا د بدن پوستکي ته هم ضرر ونه رسوي.

د شيخ عايض القرني د هغه فلم يوه صحنه مې تر سترګو شوه چې په فليپين هېواد کې د هغه د ترورولو هڅه پکې شوې وه، دا چې پـه څـه ډول هغـه ترهګـر د يـوه متر واټن او شپږو ډزونو په کولو سره چې د ده او د شـيخ تـرمنځ بـل هـېڅ مـانع نـه وو او د ترهګر له حملې دا هم په ډاګه معلومېدله چې ترهګر هم يو حرفه يـي کـس دی او پر وړاندې يې شيخ او د هغه ملګري د مقاومت توان هم نه لري، خو په دغه شومه پېښه کې شيخ قرني ژغورل کېږي. همدا رنګه به مو اورېدلي وي چې څنګه د يوې مرمۍ په ويشتلو سره هغه هم له لرې واټن څخه د امريکا جمهور رئيس «جان کنډي» ژوند ته د پای ټکی ايښودل کېږي، په داسې حال کې چې پـه مـوټر کـې سـپور و او شـاوخوا ترې خانګړي ساتونکي هم تاو را تاو وو. شيخ قرني له دغه پېښې وروسـته وويـل چې ما خپل ځان په ذکرونو او دعا سره ساتلی و. دغه پېښـه يـو بشـپړ او جـامع درس دی،

بلکې د هغه ځې توکونو لرونکي کتاب په ډول دی چې موږ ته د حفیظ نوم معنی او مفهوم را پېژني.

### د لیندیو دننه

په همدې شېبه کې چې ته د «لیندیو دننه» مطالبو د ویلو په حال کې یې ستا زړه له دربدلو، رګونه دې له بندېدلو، عقل دې له لبونتوب، پښتورګي دې له کار لوېدلو، اعصاب دې له خرابی، سر دې له درد، ګېډه دې له سوځېدو، کولمې دې له پړسوب، غړي دې له فلج کېدلو، سترګې دې له ړندېدو، غوږونه دې له کونوالي او ژبه دې له ګونګېدو ساتي. ټول دغه شیان حتا له دې زیات یوازې په دغه شېبه کې ساتي او ژغوري، بیا دغه ساتنه ستا د راتلونکو ټولو شېبو لپاره بیا ځلې تکرارېږي او همداسې ادامه پیدا کوي، نو پر همدې بنسټ په هره شېبه کې باید څومره الحمدالله ووایو؟

### د اوبو بېتري

کله دې چې موټر په یوه تیاره او خالي ځای کې پارک کوي او وېرېږې چې غل هغه ونه تښتوي، دا الله ﷻ دی چې د هغه ساتنه کوي، ځکه هر څه چې هغه ذات ته وسپارل شي هېڅ کله هغه نه ضایع کوي.

کله چې له کور څخه بهر کېږې او له دې وېره لرې چې د بچیانو لپاره دې کومه پېښه رامنځ ته نشي، داسې ووایه: تاسې په الله ﷻ سپارم. هغه الله چې ورته سپارل شوي نه ضایع کوي، نو بیا چې کله کور ته راځې وینې چې دوی په غوره حالت کې شتون لري، ځکه هغه ساتونکی ذات دی.

که چېرې داسې حالات راغلي وي چې مجبور شې ګرانبیه شی دې په عمومي ځای یا د نا امنۍ ځای کې پرېږدې، له زړه سره دې الله ﷻ ته ور وګرځه او ووایه: بالونکیه! د هغه ساتندوی شه! بیا باوري او مطمئن شه چې تر بیا ګرځېدو به الله ﷻ د هغه ساتنه کوي.

څلور ملګري د «نعمة ریط» په نوم یو ځای ته ولاړل چې د تبوک په ۶۰ کیلومترۍ کې ځای لري. دوی سهار نهه بجې د «الشق» ساحې تـه ورسېدل. الشق د ځمکې دننه یو لوی خندق دی چې له هغه ښکته تلل د ژوند سره لوبې کول دي! دغه پینځې هغه ښکته لور تللو ته اړ کړل او په نیم ساعت کې د هغه «تل» ته ورسېدل. بیا تر لمر لوېدو پورې هلته پاتې شول او بیا یې پرېکړه وکړه چې د ځمکې سر ته ستانه شي، نو څکه له تیږو او ګاګرو پورته ولاړل. هغه ګاګرې او تیږې چې ډېرې ښویې وې او تر پښو لاندې به یې تکان خوړلو او دغه ډول یې له ډېرو تنګو ځایونو چې یوازې د پښو د ګوتو ځای یې لرلو تېر شول.

دوی ډېر ستړي شوي وو، په پښو کې یې نور توان نه و او تږي شوې وې، په بشپړ ډول ستړي او له پښو لوېدلي وو، کندې په هغه زیات فشار راوړی و، که په لنډه یې ووایم مرګ یې په خپلو سترګو لیده! په دغه وخت کې یې زړونو په الله باور درلود او له هغه سره وصل وو او ایمان یې لرلو چې لـه الله ﷻ پرتـه بـل ساتونکی او ژغورونکی شتون نه لري. له دوی څخه یو د هغه ورځې پـه اړه وایـي: پـه داسـې حـال کې چې تندې او لوږې په هغه دومره فشار راوړی و چې د مرګ هیله یې کوله، الله ﷻ ته یې اواز وکړ. په دغه وخت کې هغوی ته نېږدې ځای چې د یو قدم څخه زیات نه و د رڼو اوبو داسې بېترۍ تر سترګو شوه چې په هغه کې پاکې اوبه وې. نوموړی له دې کبله چې په خپلو ملګرو یې اوبه ووېشلې خوښ نشو، بلکې د هغه خدای پـه خاطر خوښ شو چې په هغه سخته شېبه کې له دوی سره و. دا خبره د ده زړه تـه ښکته شوې وه چې دا الله ﷻ دی چې د اوبو دغه بېترۍ یې په هغه شېبه کې د دوی پر وړاندې ځای پر ځای کړه تر څو د هغه وژونکي سفر څخه دوی وژغورل شي.

نور دغه د اوبو بېترۍ د دوی په فکر او ذهن کې د مرګ څخه د ژغورلو اصلي لامل نه و، بلکې له دې وروسته دوی له اصلي ژغورونکي مننذوی وو او د تل لپاره یې په خپل ذهن کې ساتلو. ماښام مهال و چې په تورو څېرو او څیرې څیرې جامو او تږي پښو سره د ځمکې سر ته ورسېدل، په داسې حال کې چې ایـمان یې د یـوه داسـې غر پـه ډول ګرځېدلی و چې د دوی پر وړاندې واقع و او نور لوري یې ورڅخه ډوب کړي وو.

سَهِرَتْ أَعْیُنٌ وَ نَامَتْ عُیُوْنٌ فِیْ شُؤُوْنٍ تَکُوْنُ أَوْ لَا تَکُوْنُ
إِنَّ رَبًّا کَفَاکَ مَا کَانَ بِالْأَمْسِ سَیَکْفِیْکَ فِیْ غَدٍ مَا یَکُوْنُ

آن را که خدا نگهبان است از فتنه دهر در امان است
هر کس شد از او بلند پایه بیرون ز تصرف زمان است «وحشي»

ژباړه: ځینې سترګې ویدې او ځینې ویښې دي، د هغه کارونو له کبله چې شایي وشي او یا ونشي، له شک پرته هماغه الله چې تاته یې تېره ورځ له هغه څه خلاصون درکړ، بیا به هم تا د راتلونکو پېښو ژغوري.

## تر ټولو لوی، تر ټولو ډېر او تر ټولو لوړ

د حفیظ مبارک نوم له هر پیدا کېدونکي مخلوق سره کیسه لري، ځکه الله ﷻ داسې مخلوقات نه دي پیدا کړي چې بیا یې د هغه پرېښې وي او خپل ځان ته یې دې پرېږدي. بلکې له دوی سره د هغې وسلې سره یو ځای چې د ناڅاپي پېښو سره مخ کېږي همکاري کوي. الله ﷻ د هر مخلوق لپاره ځانګړې دفاعي وسله ورکړې ده تر څو د هغه په وسیله د ژوندانه جګړې ته ور ودانګي. د مثال په توګه ځینې حیوانات د ځنګې منډې وهلو په وسیله ساتي، لکه هوسی او سوی. ځینې په ښکرونو سره چې که چېرې د خطر احساس وکړي د هغه په وسیله د ځان دفاع کوي، لکه کرګدن او مېښه. له ځینو حیواناتو څخه د بدن د لویوالي په خاطر ساتنه کوي لکه د دوی د وزن دروندوالی د هغه څخه دښمنان لرې ساتي، لکه فیل، ځینې د الله ﷻ مخلوق د هغه برېښنا په وسیله چې د خطر د احساس پر وخت یې له ځانه خپروي دفاع کوي، لکه مار ماهي. الله ﷻ ځینې د هغه د بدن د زهر په وسیله ساتي، لکه ماران او لړمان. یو بل ډول حیوان یې په داسې ډول پیدا کړی چې د اړتیا پر وخت خپل رنګ بدلوي او په دې ډول د هغه ساتنه کوي. ځینې د الوتلو په وسیله ساتي او ځینې د چالاکی او چل په وسیله او ځینې په پورته تللو سره ساتي.

دا هغه حالات دي چې الله ﷻ په دې ډول د خپلو مخلوقاتو ساتنه کوي، دغه ډول حالتونه بیخي زیات دي چې انسان له هغې بې خبره دی، نو پرله پسې الله ﷻ په یاد ولره او الله اکبر ووایه.

## له تا دفاع کوي

د الله ﷻ د حافظ والي یوه بله وړانګه او رڼا د مؤمنانو دفاع ده، لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا﴾(حج/٣٨).

**ژباړه:** بېشکه، الله ﷻ له هغو کسانو دفاع کوي چې ایمان یې راوړی دی.

## فکر وکړه!

الله ﷻ له مؤمنانو ښه بدي نه لرې کوي، بلکې د بدی پر وړاندې د هغوی دفاع کوي، دا عبارت دې کار ته اشاره کوي چې ښايي هغه بدي او ضرر چې مؤمن ته ورسېږي په بېلا بېلو ډولونو او شکلونو وي، خو الله ﷻ د دوی له دښمنانو او د هغوی له دسیسو پوره خبر دی او له دوی ښه دفاع کوي او له خپلو دوستانو ښه شر لرې او دفع کوي.

په قدسي حدیث کې راغلي دي چې: «مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ»[١].

**ژباړه:** هر څوک چې زما له دوست سره دښمني کوي، زه له هغه سره د جګړې اعلان کوم.

فکر وکړه! د دعوت او بلنې د دښمن، د حقیقت او د دین د دښمن او الله ﷻ ترمنځ جګړه!! ستا په نظر په دغه میدان کې څوک ګټونکی دی؟ او څوک له ماتې سره مخ کېږي او ذلیل ګرځي؟

الله ﷻ د مؤمنو بندګانو حافظ دی او له هغوی ښه په ځانګړې توګه ساتنه کوي،

---

[١] صحیح بخاري کتاب الرقاق، باب التواضع، د حدیث شمېره: ٦٥٠٢

چې له عشق، محبت او رحمت سره یو ځای ده.

د مکې مشرکین د هغه غار شاوخوا را ټولېږي چې هلته دوه کسان پټ شوي دي، محمدﷺ او ابو بکر صدیقؓ. انګېزې، نغدي جایزې او انبار شوې کینې او د تاریخ تر ټولو لوی کس باندې د بریالیتوب میل دوی د هغه وژلو ته هڅوي.

د ابو بکرؓ زړه ته وېره ننه کېږي، بې مثله ملګری او مهربانه شخصیت هغې ته ګوري او ورته وایي: د هغه دوو کسانو اړوند څه نظر لرې چې دریم یې اللهﷻ دی؟ اې ابو بکره، ایا ته دا ګمان کوې چې موږ دوه نفره یو؟ هېڅکله نه! بلکې موږ درې کسه یو! دغه ځای دی چې وېره او وحشت له منځه ځي او د وسوسو جرړه ویستل کېږي.

وَإِذَا الْعِنَايَةُ لَاحَظَتْكَ عُيُونُهَا     نَمْ فَالْمَخَاوِفُ كُلُّهُنَّ أَمَانُ

ژباړه: کله چې د اللهﷻ په پاملرنه او عنایت ستا لور ته وکتل شول، ارامه ویده شه، ځکه ټولې وېرې خوندیتوب او ارامي ده.

گشته ام بي نظیر تـا کـه تـرا     به عنایت به سوی من نظرست
زانکه دانم که پیش همت تـو     آفرینش، به جمله بې خطرست

«انوري»

د مثال په توګه د کهف خاوندان اللهﷻ ته پناه وړي او له هغه څخه د هدایت او لارموندنې غوښتنه کوي. هغه ذات دوی یوه پراتیستي غار او سمڅې لور ته رهنمایي کوي، هغه غار او سمڅې ته چې په ډېره اسانۍ سره هر انسان، خزنده (ښنبېدونکي) او ځړونکي کولی شوی هغه ته ننه شي، خو اللهﷻ د خپل لښکر یو عسکر د وېرې په نوم د هغوی د ساتلو لپاره وګوماره، په دې ډول به هر څوک او هر شی چې سمڅې ته نږدې کېدل نو وېرې او وحشت به له سر څخه تر پښو لړزولو. او نه یې شوی کولی یو قدم هم مخکې ولاړ شي، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې راغلي دي: ﴿لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا﴾(کهف/۱۸).

ژباړه: كه تا چېرې په يو پټ غونډې نظر هغوی ليدلي وی، نو په شا به ورځخه په تېښته راګرځېدلی وی او پر تا به د هغو له ليدنې څخه هيبت ناست وی.

زه او ته كه وغواړو، كولی شو له قلم او تېرې څخه د ځان د دفاع لپاره ګټه واخلو، خو الله ﷻ تر ټولو مهم، تر ټولو حيرانوونكي او تر ټولو لوی څه كاروي، لكه څنګه په خپله فرمايي: ﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ﴾(آل عمران/١٥١).

ژباړه: هغه وخت ډېر ژر راتلونكی دی چې موږ د حق نه منونكو په زړونو كې وېره وغورځوو.

الله ﷻ د خپلو بنده ګانو له كبله د كافرانو په زړونو كې وېره او وحشت غورځوي، چې سترګې يې د الله د دوستانو له ليدلو وېره كوي او زړونه يې پرېشانه كېږي!

## د داړونكو لېوانو دره

الله ﷻ د خپلو پرښتو په وسيله له تا څخه ساتنه كوي. هر څوک چې له خوب مخكې «آية الكرسي» ووايي، تر سهاره په هغه يوه پرښته ګومارل كېږي چې د سر سره يې درېږي او د هغه څه څخه يې ساتنه كوي چې ورته ليكلي يې نه وي.

كله چې الله ﷻ له تا سره وي، نو ته له څه وېرېږې؟ د حفيظ نوم د دې سبب كېږي چې ته دې سينه صافه كړې او په توكل او په الله ﷻ باندې تكيه كولو سره د لارې په تيارو كې ژوندی او تلپاتې ولاړ شې. د داړونكو درې څخه تېر شې او د تمساح ګانو په ډنډونو كې غوټې ووهې، ځكه حفيظ خدای ستا څخه ساتنه كوي او دغه ټول د بې خطره لوبې د اسبابو په ډول ګرځوي چې ماشومان له هغوی سره لوبېږي.

هو! دا كار د دې لپاره چې په دنيوي اسبابو تكيه وكړې تناقض او ټكر نه لري، ځكه موږ په هغه مامور او ګومارل شوي يو. زموږ رهبر محمد ﷺ په هجرت، غزاګانو او د ټول مبارک عمر په ټولو ورځو كې يې په هغه عمل كړی دی، خو يو سبب باقي پاتې كېږي چې د زيات اهميت او ارزښت لرونكی دی او الله ﷻ ستا په زړه كې دغه ټكی باقي پرېږدي چې يوازې هغه ذات پوه، پياوړی او ساتندوی دی.

د شیخ عبدالرحمن السمیط رحمه‌الله[1] هغه سفر چې د افریقا لویې وچې ته د دین د خپرولو په خاطر تللی په اوربدلو ارزي، دا چې هغه څنګه خطرونه په ځان ومنل او د

---

[1] شیخ عبدالرحمن سمیط رحمه‌الله په ۱۹۴۷ زېږدیز کال په کویټ کې زیږېدلی و. په همدې کویټ کې یې ابتدایي، متوسطه او ثانوي زده کړې کړې وې. وروسته په بغداد کې په داخله ناروغیو کې لیسانس، په برېټانیا کې ماسټري او په کاناډا کې یې دوکتورا تر لاسه کړه. خپل ډېر عمر یې په خیریه کارونو او دعوت کولو ترڅنګ خپل قیمتي دېرش کلن عمر یې یوازې د افریقا خلکو ته د خدمت لپاره تېر کړ. لاندې یو شمېر کارونه یې تشریح کېږي: ۱) یوه خپلواکه خیریه ټولنه: داسې ټولنه چې د افریقا او نړۍ په کچه ده. ۲) په افریقایي هېوادونو کې ۵۷۰۰ نه زیات جوماتونه جوړول. ۳) ۸۶۰۰ نه ډېرې څاګانې وهل. ۶) ۸۶۰ نه ډېرې مدرسې جوړول. ۵) ۲۰۰ نه زیات اسلامي مرکزونه پرانیستل. ۶) ۱۵۰۰۰ نه زیاتو یتیمانو سرپرستي او د زده کړې منل. په زده کړه یېزو مرکزونو کې یې له نیم میلیون څخه ډېر زده کوونکي او زده کړلیان په دیني زده کړو بوخت دي. د څلورو پوهنتونونو جوړول. ډېر شمېر راډیوګانې او مطبعې پرانیستل. ټولنې ته څلور زره نه ډېر دعوت کوونکي او ښوونکي وړاندې کول. په ۱۹۹۶ زېږدیز کال کې د ډېرې هڅې او خدمت کولو په خاطر (د ملک فیصل بن عبدالعزیز آل سعود د اسلامي خدمت لپاره نړیواله جایزه) ترلاسه کړه چې ۷۵۰ زره سعودي ریاله (۲۰۰ زره ډالره) په ارزښت وه. نوموړي دغه پیسې د افریقایي کوچنیانو په زده کړې خرچ کړې چې له امله یې ډېر ځوانان پوهنتونونو ته بریالي او مختلف علوم یې زده کړل او اوس له دوی څخه ډېری په خپلو هېوادونو کې خپلو وطنوالو ته په خدمت بوخت دي. ښايي یو څوک ووایي چې: دې نه خو پلانکي خیریه بنسټ ډېره مرسته کړې. په خواب کې وایو: کوم کس دې ته حاضر شوی وو چې خپل ټول ارام پرېږدي او خپل ځان، عمل او مال همداسې ټولو شپانو سره د کړېدلي خلکو په خدمت کې وي!؟

د نوموړي کړنې او د تبلیغ طرز تر دې کچې ښکلی او غوره و چې ۱۱ میلیونه افریقایان ورسره مسلمان شول. د کویټ الشاهد ورځپاڼې د ۲۰۱۳ کال د ۲۰ په نومبر باندې یو راپور خپور کړی و چې په کویټ کې یوه غونډه شوې وه، د افریقا د یو هېواد د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ: زه یتیم وم چې د دوکتور عبدالرحمن سمیط په مرسته په درس ویلو وتوانېدم او دې ځای ته ورارسېدم. د نوموړي په ژوندلیک کې داسې راغلي چې کله به یې تر ۲۰ ساعتونو موټر چلاوه، یا پیاده سختو ډنډونو او ستونزمنو لارو څخه تېرېده تر څو یوې قبیلې ته ځان ورسوي او مرسته ورسره وکړي؛ نو یوه شی چې کوم کسان له خپلې شتمنۍ نه وړه برخه د انسانیت (الله اعلم) لپاره خرچوي؛ خو داسې ستر کسان هم شته چې خپله ټوله شتمني او سلامتیا د خدای په لار کې (الله اعلم) خرچوي. په پای کې دوکتور عبدالرحمن په ۲۰۱۳ کال کې مړ شو. الله ﷻ یې د خایناستي او همفکري ډېر کړي. له ((نوی الحاد په رنګینه بڼه، الحاد نوین باتلاق رنګین)) څخه په نقل سره.

وحشي حیواناتو په منځ کې په ناپېژنده ځایونو کې په دغه تورې لویې وچې کې قدم کېښود. هغه سفر چې لوړه، تنده او ناروغي له ده سره ملګرې وه، خو سره له دغه ستونزو هغه ته هېڅ ضرر ونه رسېد، بلکې ۲۵ کاله په هغه لار ثابت قدم او ټینګ پاتې شو چې د ځان لپاره یې ټاکلې وه، چې بیا یې د کویټ په هېواد کې خپل ځان خپل جانان ته وسپاره! هر څوک چې د شیخ سمیط کیسه لولي، نو د حفیظ مبارک نوم مانا او مفهوم درک کولی شي.

په دې اړوند یوه کیسه هم روایت شوې ده، اګر چې ما یې د صحت په اړه تحقیق او پلټنه نه ده کړې، خو د الله ﷻ د نېکو او صالحو بنده ګانو څخه لرې نه ده، د حجاج بن یوسف دوه عسکرو سعید بن جبیر ونیوه او هغه یې حجاج بن یوسف ته ور وستلو. په لاره کې شدید باران شروع شو او دوی مجبور شول چې د راهب صومعې یا عبادت ځای ته پناه یوسي. خو سعید هغه ځای ته له ننوتلو چې هلته الله ﷻ په ګمراهی عبادت کېږي سرکښي وکړه. عسکرو هغه له صومعې دباندې خوشې کړ او خپله پورته ولاړل او صومعې ته دننه شول. په دغه وخت کې یو زمری سعید ته نېږدې شو. هغه له پورته ورته غږ کړ چې دی وتښتي، خو سعید حرکت ونه کړ او په خپل ځای پاتې شو او په ذکر کولو سره یې الله ﷻ ته پټ اوازونه کول. زمری په همدې ډول نېږدې کېده تر څو سعید ته ورسېږي او داسې ښکاره کېده چې په نرمه یې هغه ته څه وویل او بیا وګرځېد. دوه عسکرو په وېرې او وحشت هغه ته وکتل، خو راهب چې هغه ته د بلې زاویې کتل، وویل: هغه د الله ﷻ د دوستانو څخه یو دوست دی.

خُذُوْا كُلَّ دُنْيَاكُمْ وَاتْرُكُوْا　　فُؤَادِيْ حَـدّاً طَلِيْقـاً غَرِيْبـاً
فَـإِنِّيْ أَعْظَمُكُـمْ ثَـرْوَةً　　وَإِنْ خِلْتُمُوْنِيْ وَحِيْداً سَـلِيْباً

ژباړه: ستا ټوله دنیا واخله او زړه مې ازاد پرېږده، تر څو په غریبی یې سر شي، ځکه زه له تا څخه ډېره سرمایه لرم اګر چې ته ګمان کوې چې زه یوازې او بې کسه یم.

موحد چې درپای ریزی زدش　چه شمشیر هندی نهی برسرش
امید و هراسش نباشد زکس　براین است بنیاد توحید و بس

«سعدي»

چا په وروستي شببه کې زمري ودراوه؟ هغه همغه حفيظ ذات دی!

**زه فقير يم**

یو څه وخت مخکې مې په انټرنېټ کې یوه ویډیو تر سترګو شوه چې یو سړی پکې د ریل په قطار کې د تېرېدو په حال کې و، قطار په ډېرې چټکۍ سره هغه ته نېږدې کېده. سړي په ځان کې دا ورتیا لیدله چې په مناسب وخت کې به خپل ځان د قطار له مخې لرې کړي. دا د هغه حساب او فکر و، خو پیښه په بل ډول رامنځته شوه او په ناڅاپي ډول بې پښه ریل ونیوله. هڅه یې وکړه تر څو هغه بهر کړي خو ویې نشوی کولی او قطار په همغه چټکۍ سره هغه ته نېږدې کېده. د وېرې او وحشت چیغو یې هغه ځای ډک کړ او سړي په ټول توان هڅه کوله. تر اوسه مرګ نه و ورته راغلی خو نېږدې و چې له وېرې مړ شي. خو کله چې یوازې څو متره د قطار او د ده سره د ټکر ترمنځ پاتې وو، الله ﷻ ریل ته اجازه ورکړه چې هغه سړی خپله پښه له هغې ځایه وباسي او خپل ځان د قطار له مخې وباسي. خو که داسې نه وی شوي نو ژوند ته به یې په یوه دردوونکي ډول د پای ټکی ایښی وی!

په همدې اساس اې بنده! په خپل ضعف او کمزورۍ باور ولره، ستا په غلطه رایه او فکر او فقیرۍ باور ولره، بیا له الله ﷻ سره د زړه تعلق پیدا کړه او دا په خپله ژبه جاري وګرځوه:

أَنَا الْفَقِيْرُ إِلَى رَبِّ الْبَرِيَّاتِ　أَنَا الْمِسْكِيْنُ فِيْ مَجْمُوْعِ حَالَاتِيْ

ژباړه: زه د نړیوالو پالونکي ته اړ یم، زه په ټولو حالتونو کې بې وزله او فقیر یم.

جز سوی حق دل ما جانب دیگر نکشد　ما گداییم ولی قصر غنا منزل ماست

«ملک الشعرای بهار»

د لوط ﷵ قوم د هغه پر کور یرغل وکړ او غوښتل یې چې د کور دروازه یې ماته کړي او هغه مېلمنو ته لاسرسی پیدا کړي چې په حقیقت کې ملایکې وې. دا یو تلپاتې ننګ او خواري وه چې د قوم فاسقان د یو کور د خاوند مېلمنو ته لاسرسی پیدا کړي او د هغوی لور ته خپل شوم لاسونه اوږده کړي، نو ځکه لوط ﷵ په تولې ناتوانۍ او بې وسۍ وویل: ﴿قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ﴾ (هود/٨٠).

ژباړه: لوط ﷵ وویل: کاشکې ما دومره زور درلودلی چې تاسې مې سم کړي وی. یا کومه کلکه اسره وی چې هغې ته مې پناه ور وړې وی.

محمد ﷺ وویل: «يَرْحَمُ اللهُ لُوطاً، لَقَدْ كَانَ يَأْوِيْ إِلَى رُكْنٍ شَدِيْدٍ».[1]

ژباړه: الله ﷻ په لوط رحم وکړ، ځکه هغه یوه محکم پټنځای ته پناه ور وړې وه.

اَلْزِمْ يَدَيْکَ بِحَبْلِ اللهِ مُعْتَصِماً     فَإِنَّهُ الرُّكْنُ إِنْ خَانَتْکَ أَرْكَانُ

ژباړه: په پرله پسې توګه په خپلو لاسونو سره د الله ﷻ په رسۍ منګولې ولګوه، ځکه هغه محکم پټنځای دی، که هر څومره نور پټنځایونه له تاسره خیانت وکړي.

هلا ای یوسف خوبان به مصراً     ز قعر چه به حبل الله رستی
بگیرای چرخ پیر و چنبری پشت     رسن را سخت کز چنبر بجستی

«مولوي»

**اې نوی ځوانه!**

کله کله الله ﷻ ستا ساتنه ستا په دښمنانو سره کوي! وایې دا څنګه شونې ده؟ نو لاندې کیسه په ښه څېرنه ولوله!

روایت شوی دی چې یو غل د کور پر دېوال کور ته دننه شو او غوښتل یې له هغه

---

[1] صحیح بخاري، کتاب احادیث الأنبیاء، د حدیث شمېره: ٣٣٧٢

بوې کوټې یا خونې څخه پیسې غلا کړې چې هلته ماشوم او د هغه مور او پلار ویده وو. غل خونې ته دننه شو او ماشوم یې بلې خونې ته یووړ. ماشوم ویښ شو او په ژړا یې پیل وکړ. پلار او مور یې هم ویښ شول او حیران شول چې څه کیسه ده او ولې یې زوی بلې خونې ته وړل شوی دی! نو له هغه خونې ووتل کومه کې چې پیسې وې تر څو ماشوم ته ورشي، غله له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه او خونې ته دننه شو. ناڅاپه د خونې بام را کښناست او غل ترې لاندې شو.

چا غل دغه کور ته راوست تر څو دغه کورنۍ له حتمي مرګ څخه وژغوري؟ هغه بل څوک نه دی پرته له حفیظ ذات څخه چې له خپلو بنده ګانو ساتنه کوي حتا د هغه په دښمنانو سره!

که غواړې چې لویو اسبابو او وسیلو ته لاسرسی پیدا کړې او د الله ﷻ ساتنه ترلاسه کړې، لاندې حدیث په نظر کې ونیسه: «يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ تَعَرَّفْ إِلَى اللهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ».[1]

ژباړه: اې نوی ځوانه، زه تاته داسې کلمې در ښیم: د الله ﷻ ساتنه وکړه (یاد یې کړه) چې ستا ساتنه وکړي، د الله ﷻ ساتنه وکړه چې هغه د خپل ځان سره پیدا کړې، په ارامۍ او هوساینه کې الله ﷻ وپېژنه تر څو د سختۍ او ستونزو پر مهال تا وپېژني.

د الله ﷻ ساتنه وکړه تر څو هغه ستا ساتنه وکړي، یعنې په هغه کارونو چې تاته یې امر کړی هغه ترسره کړه او له کومو کارونو څخه یې چې منع کړی یې ځان وساته. دا د الله ﷻ د ساتلو معنی ده.

## ساه بندول

په پوره باور په الله ﷻ تکیه وکړه او وېره او غمونه دې کم وګڼه، باوري اوسه چې الله ﷻ به تاته له هغې نجات درکړي، په همغه ډول لکه حضرت یونس ؑ ته یې چې

[1] ترمذي، کتاب صفة القيامة والرقائق والورع، د حدیث شمېره: ۲۵۱۶

نجات ورکړ. هیڅ غم او پرېشاني د هغه غم سره برابرېدی نشي چې حضرت یونس علیه السلام ورسره مخ و، څکه هغه په دریو تیارو کې ګیر و، د سمندر تیاره، د شپې تیاره او د نهنګ د ګېډې تیاره. دغه ډول شرایط څومره د غم او اندېښنې وړ دي، چې وغواړې په دغه ډول مات زړی او اندېښمن د یوه نهنګ په ګېډه کې ژوند وکړې! تیاره، تنګي او اکسیجن بندوالی! خو دغه ټول غمونه، ستونزې او سختۍ له یوې کلمې سره مخ شول: «لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظَّالِمِیْنَ» دغه کلمې د حضرت یونس علیه السلام له خولې ووتلې، دغه کمزوری او ناتوانه غږ پورته ولاړ، تیارې یې یو په بل پسې له منځه ولاړې او د اسمان لور ته یې د امیدونو غږ نور هم اوچت کړ.

روایت شوی دی چې پرښتو ویل: له ناپېژنده ځای څخه یو ناپېژنده غږ زموږ تر غوږونو راورسېد! نو په دې ډول وو چې پراختیا، ښېښه او ساتنه راغله او نهنګ هغه وچې ته وغورځوه او حفیظ خدای جل جلاله هغې ته د کدو بوټی زرغون کړ تر څو له هغې وخوري.

موږ ټول په دغه ژوندانه کې د حضرت یونس علیه السلام په ډول یو، چې دغه ستری ژوند په خپلو ستونزو سره زموږ بدن له هر لوري چاپېره کوي او له هغې د خلاصون هیڅ لاره شتون نه لري له دې پرته چې «لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظَّالِمِیْنَ».

پالونکیه! هیڅ وخت ستا ساتنه او څارنه له موږ څخه مه نیسه، او له مخامخ، ښا لور، ښي او چپ لوري، ښکته او پورته څخه زموږ ساتنه وکړه او ستا په دغه ساتنې سره موږ ته له هغه څه خلاصون راکړې چې موږ ترې وېرېږو او موږ په امن ترې وساته.

# اللّطيف

که چېرې لطيف خدای وغواړي له تا بدي لرې کړي، يو سبب پيدا کېږي چې ته هغه بدي ونه وينې، يا دا چې دغه بدي تا ته د رسېدو لپاره لار پيدا نه کړي. يا ته ورسره مخ شې اما له لمس کولو پرته تا سره مخه ښه کوي!

**اللطیف (په خپلو بنده ګانو باندې نرمي کوونکی او باریک بین چې نږدې او لرې ورته یو شان وي.)**

ایا د نه لاسرسي او ناشونې هیلې لرې؟ ایا ډاکټرانو درته ویلي دي چې ستا محبوب روغتیا نه مومي؟ ایا د نا امېدۍ احساس کوې، ځکه هغه کارونه چې ته د هغه په ترسره کولو قادر یې تا خپلو غوښتنو ته هېڅکله نشي رسولی؟

نو راځه له ما سره ملګری شه تر څو تا د لطیف مبارک نوم سره بلد کړم او پوه شې چې په دغه ژوند کې هېڅ ناشونی شی شتون نه لري او دا چې الله ﷻ د هر کار په کولو سره قادر دی او که چېرې ته د لطیف ذات دروازه ور وټکوې نو ستا نه ترسره کېدونکي او نه لاسته راتلونکې هیلې به دې هم په حقیقت بدلې شي.

## د پټو مهربانیو څښتن

اللطیف په لغت کې له بنده ګانو سره د الله ﷻ د نېکۍ په معنی دی، یعنې الله ﷻ د هغه ګټو په رسولو سره چې له مهربانۍ او لطف سره ملګرې دي دوی ته ګټه رسوي. وایي الله ﷻ په تا لطف کړی، یعنې ستا غوښتنې په لطف او مهربانۍ تاته رسوي. لطف په اصل کې د ارام او پټ حرکت په مانا دی. نو پر همدې اساس الله ﷻ هغه نېکۍ واله ذات دی چې په پټه او ښکاره او له داسې ځایه چې ګمان یې هم نه کېږي، خپلو بنده ګانو ته نېکي رسوي او له داسې ځایه د ژوند اسباب ورته برابروي چې هېڅ حسابېږي هم نه.

هغه ذات په ورکړه، احسان، لارموندنې او هدایت او ستاینه کې په خپلو بنده ګانو زیات لطف او مهرباني لري، داسې مهرباني او لطف چې زیاته باریکي ورسره ملګرې او په ډېر پټ ډول وي.

الله ﷻ لوی قدرت او ډېره ورتیا لري او د خپلو بنده ګانو او مخلوقاتو ټولې کړنې ویني، سربېره پر دې هغه ذات زیات مهربان او لطیف ذات دی، په داسې ډول چې خپل بنده ګان په لارموندنه او هدایت، ورکړه او احسان نازوي. د الله ﷻ لطف او

انعامونه تا نه بې پروا کوي، بلکې په زړې ورکوونکو بادونو سره تا پوهوي او ستا زړه د هغه ښه راغلاست ته چمتو کوي. بیا چې الهي الطاف او مهرباني پر تا نازلې شي، تا ته وسیله او اسباب په لاس کې درکوي تر څو ته د خپل پالونکي څخه منندوی او د هغه د مهرباني پوروړی شې. بنده داسې گمان او فکر کوي چې دغه نعمتونه یې په خپله لاسته راوړي دي، خو په حقیقت کې دا ټول څه د ښونکي او مهربان ذات له لوري دي او د هغه ځانگړې ورکړه او احسان دی.

د الله ﷻ په لطف او احسان تر ټولو لویې هیلې او ارزوگانې د بنده په پښو کې لوېږي، هغه هم هغه ډول هیلې چې ډېری بنده گان هغه ناشونې بولي، خو که هغه ذات د هر ځا لپاره وغواړي د یوې سترگې په رپ کې ورته ټول برابروي. که چېرې یو انسان هغه نعمتونه چې لاسته یې راوړي را ټول او وڅېړي، په حقیقت کې بیا پوهېږي چې دا ټول د الله ﷻ له لوري دي، خو ډېری کسان هېڅ وخت دا نه درک کوي او دا فکر کېږي چې د معجزې په لټه کې دي. له دې غافل وي چې د دوی د ژوندانه هره شیبه یوه لویه معجزه ده چې منځته راځي. دا بسنه کوي تر څو خپل چاپېره په خپلو خلاصو سترگو وبني، نو بیا بیا درک کولی شې چې د دوی قدرت او توانایي له هغې څه کمه نه ده چې دا ټول نعمتونه ترلاسه کړي، نو غوره ده چې بنده خپل سر د اسمان لور ته پورته کړي او ووایي: ﴿اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ﴾ (شوری/١٩).

ژباړه: الله په خپلو بندگانو ډېر مهرباني کوونکی دی، چاته یې چې خوښه شي روزي ورکوي او هماغه زورور برلاسی دی.

## د مهرباني او لطف نسیم

که چېرې الله ﷻ وغواړي هغه کار چې په عادي حالت کې ناشوني دی تر سره کړي له شک پرته چې په همغه وخت کې یې ترسره کوي! او که چېرې لطیف الله ﷻ وغواړي تاته یو څه درکړي هغه کس تاته د ورکړې سبب گرځوي چې ته له هغه د هېڅ خیر هیله هم نه لرې.

که چېرې لطيف خدای وغواړي له تا بدي لرې کړي، يو سبب پيدا کېږي چې ته هغه بدي ونه وينې، يا دا چې دغه بدي تاته د رسېدو لپاره لار پيدا نه کړي. يا ته ورسره مخ شې خو له لمس کولو پرته تا سره مخه ښه کوي. که چېرې لطيف ذات وغواړي چې تا له گناه وژغوري، يو سبب پيدا کېږي چې د هغه گناه کينه ستا زړه ته واچوي او يا يې ستا په نظر ناشونې گرځوي، يا يې د وېرې او ډار سبب درته گرځوي. ښايي د هغه گناه لپاره قدم پورته کړې، خو تا په داسې کار سره مصروفه کوي چې د هغه گناه له کولو بېزاره شې.

د الله ﷻ حقيقي بنده گان د خپل پالونکي دغه الطاف ښه درک کوي او هغه په خپلو سترگوويني، داسې چې هره پېښه يې مخې ته راځي په هغه کې د الله ﷻ احسان او مهرباني نغښتې وي، چې يوازې دوی يې پېژني او پرې پوهېږي.

کله چې لطيف ذات وغوښتل يوسف عليه السلام له زندان او بنديخانې څخه بهر کړي، د زندان دېوالونه يې ړنگ نه کړل، د وخت پاچا ته يې امر ونه کړ تر څو د هغه تور زړو انسانانو ژوند ته د پای ټکی کېږدي چې يوسف عليه السلام يې زندان ته بې گناه اچولی و، بريښنايي تندر ته يې اجازه ورنه کړه چې د زندان اوسپنيز قلف ويلې کړي او له منځه يې يوسي، هغه يوازې سبب شو تر څو پاچا خوب ووينې او د يوه کوچني او باريک دليل په وسيله رښتينی يوسف د ظلم او وحشت له منگولو وژغوري. کله چې لطيف ذات وغوښتل حضرت موسی عليه السلام خپلې مور ته وگرځوي، د اسرائيلو په وسيله يې د فرعون پر وړاندې وينې بهېدونکی جنگ په لاره واچوه چې له دې وروسته همدغه ظلم ليدونکي انسانان ماتې وخوري او له مخکې حالت څخه يې حالات سخت شي، هو! بلکې يوازې يې موسی عليه السلام ته دستور ورکړ چې د شيدې ورکوونکو شيدې ونه څښي! يوازې د همدغه باريک امر په وسيله موسی عليه السلام د خپلې مور غېږ ته وگرځېد چې د هغه د ليدلو تلوسه يې په زړه کې وه!

کله چې لطيف ذات وغوښتل محمد ﷺ او د هغه ملگري د شعب ابو طالب د وادي او درې له وژونکو ستونزو څخه وژغوري، داسې عذاب يې نازل نه کړ تر څو د قريشو

ظالم ته پرې د پای تکی کېږدي، پوازې یې کوچنی مېړی وګوماره تر څو د ظلـم او ستم ترون وخوري، په دې ډول محمدﷺ او د هغه ملګري د هغه ظلـم او فشار څخه وژغورل شول چې دوی یې تر پوزې راوستي وو.

لِغَيْرِكَ مَا مَدَدْتُ يَدا ‌ ‌ وَغَيْرُكَ لَا يَفِيضُ نِدَى
وَلَيْسَ يَضِيْقُ بَابُكَ بِي ‌ ‌ فَكَيْفَ تَرُدُ مَنْ قَصِدا
وَرُكْنُكَ لَمْ يَـزَلْ صَمَدا ‌ ‌ فَكَيْفَ تَـذُوْدُ مَنْ وَرَدا
وَ لُطْفُكَ يَا خَفِيَ اللُّطْفِ ‌ ‌ إِنْ عَادَى (الشُّرُوْرُ) عَدَا

ژباړه: له تا پرته بل چاته لاسونه نه اوږدوم او لـه تـا پرتـه بـل څوک بدلـه هـم نـه رابښکته کوي!

ستا د رحمت دروازه زما لپاره تنګه او کوچنی نه ده، نو ولې هر څوک چې ستا دروازې ته د درتګ هڅه وکړي شړل کېږي؟

ستا د رحمت ستنې همدارنګه پر خای ټینګې دي، نو ولې هـر څوک چې ور دننـه شي، لرې کېږي؟!

اې د پټ لطف او مهربانۍ څښتنه ستا لطف کولی شي ما خطا کار بیا وګرځوي.

عاشقان را ګرچه در باطن جهانی دیګر است ‌ ‌ عشق آن دلدار مارا ذوق و جانی دیګرست
سینه های روشنان بس غیب ها دانند لیک ‌ ‌ سینه عشاق اورا غیب دانی دیګرست
بس زبان حکمت اندر شوق سرش ګوش شد ‌ ‌ ز آنک مر اسرار اورا ترجمانی دیګرست
یک زمین نقره بین از لطف او درعین جان ‌ ‌ تا بدانی کان مهم را آسمانی دیګرست

«مولوي»

الله ﷻ په تر ټولو اسانه کړنو سره تر ټولو لویې ستاینې منځته راوړي او خپله اراده پر هر هغه څه عملي کوي چې غواړي یې، خو بنده یې بیا دا موضوع نه درک کوي او

ګمان کوې چې هېڅ پېښه نه ده شوې!

**ګاګره (سخته تېره)**

ویده کېږې او غواړې چې لمونځ وکړې، له همدې کبله نرم باد را الوزوي تر څو ستا د خونې کړکۍ بنده او یا پرانیزي، یا دا چې ماشوم ستا د خونې ترمخ تېرېږي د هغه په غږ او شور ته راویښ شې. یا تږی کېږې، په هر صورت خو له خوبه پاڅېږې او ساعت ته ور ګورې او پس له څو دقیقو خپل ځان د خپل پالونکي سره د مناجات په حال کې وینې، په داسې حال کې چې نه پوهېږې ته الله ﷻ له خوبه ویښ او پاڅولی یې.

یا دا چې د غره په لوړو کې د موټر چلولو په حال کې یې، ناڅاپه ستا موټر درېږي تر څو د خپل بدن له یو شي لکه پېڅندپاڼه یا د پیسو بکس څخه په موټر کې باوري شې، پس له څو دقیقو د خپل موټر مخکې یوه لویه تیږه وینې چې د غره له څوکې را لوېدلې ده، چې که ته دربدلی نه وی ښایي نه جبرانېدونکې پېښه رامنځ ته شوې وی. په دغه ډول ستا سفر په هوساینه او خوندیتوب پای ته رسوي، په داسې حال کې چې نه پوهېږې چې الله ﷻ ته له دغه ډول پېښې ساتلی یې.

د یوې ګناه لپاره دې کړنلاره جوړه کړې ده، د شپې مهال د هغه د ترسره کولو لپاره له کور څخه بهر کېږې، ناڅاپه یو موټر وینې او ته ګمان کوې چې یو څوک په تا شکمن شوی او ستا څارنه کوي، په دې ډول هغه موټر چې ښایي په اتفاقي ډول هلته د تېرېدو په حال کې و د ګناه فکر ستا له سر څخه لرې کوي او د هغې ګناه لپاره ستا لېوالتیا له منځه وړي او بیا د کور لور ته راګرځې، په داسې حال کې چې دا الله ﷻ دی چې تا په خپل لطف او کرم له ګناه څخه ژغوري.

وَكَمْ لِلَّهِ مِنْ لُطْفٍ خَفِيٍّ ... يَدُقُّ خَفَاهُ عَنْ فَهْمِ الذَّكِيِّ
وَكَمْ أَمْرٍ تُسَاءُ بِهِ صَبَاحاً ... فَتَأْتِيكَ الْمَسَرَّةُ فِي الْعِشَيِّ
إِذَا ضَاقَتْ بِكَ الْأَحْوَالُ يَوْماً ... فَثِقْ بِالْوَاحِدِ الْفَرْدِ الْعَلِيِّ

ژباړه: خومره ډېر الله ﷻ د خپلو بنده ګانو پر وړاندې پټ مهربانه دی، چې حتا ځیرک او هوښیار انسانان هم دې ته پاملرنه نه کوي.

خومره ډېر کارونه چې سهار ستا د اذیت او نا ارامۍ سبب ګرځي، اما په شپه کې په خوشحالۍ سره ستا لور ته راځي.

که چېرې ستا ژوند او ورځنی کار او بار سخت شو، نو په لوړ او بې مثله الله ﷻ پوره باور ولره.

هان مشو نومید چون واقف نه ای از سرغیب    باشد اندر پرده بازیهای پنهان غم مخور
ای دل ار سیل فنا بنیاد هستی برکند    چون تو را نوح است کشتیبان ز طوفان غم مخور

«حافظ»

## پټ شوي او پوښل شوي رازونه

لطیف ذات باید علیم هم وي، څکه څنګه هغه په تا اکرام وکړي، تاته نعمت درکړي او په خپل لطف تاته لارښوونه وکړي، په داسې حال کې چې د دغه لطف له پټو کړنو او رازونو خبر نه وي!

همدا رنګه لطیف باید خالق هم وي، د نړیوالو د پالونکي لطف او کرم په ځینو کارونو کې دا ایجابوي چې هغه شیان چې شتون نه لري، منځته راشي او هغه منځته راوړي. د الله ﷻ نومونه د انسانانو یو بل ته د لارښوونې سبب ګرځي او لازم او مکمل هم دي لکه څنګه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (ملک/۱۴).

ژباړه: ایا هغه دې (د زړونو په حال) ونه پوهېږي چې هغه پیدا کړي دي؟ - په داسې حال کې چې هغه باریک لیدونکی (په پټو رازونو پوه) او باخبره دی.

څنګه هغه پوه نه دی په داسې حال کې چې د هغه لوړ ذات علم دومره لوړ دی چې ورکړه او بښنه په پټ ډول په خپلو بنده ګانو لوروي؟! نو هغه ذات په ټولو ځایونو کې په پټ او باریک ډول شتون لري، د هغه د لارموندنې او هدایت نور نرم دی، خو

جالب احساس له ځان سره لري، څنګه شونې ده چې دغه پالونکی چې په پټ ډول اکرام کوي په پټ ډول لارموندنه او هدايت کوي او په پټ ډول کړنه ترسره کوي له ټولو الطافو او لوربينو چې په بنده ګانو يې لوروي بې خبره وي؟! شيخ سعدي رحمه الله وايي: هغه داسې لطيف ذات دی چې علم يې په ټولو اسرارو او رازونو ولکه لري او په ټولو پټو کړنو خبر دی.

اوس غواړم تاسې ته د يوه خوب په اړه خبره وکړم، دا هغه تر ټولو لوی خوب دی چې د بشريت په تاريخ کې ساری نه لري! دا د حضرت يوسف عليه السلام خوب دی. د ده خوب په داسې وخت کې منځته راغی چې ټولو واقعيتونو دې ته اشاره کوله چې په طبيعي حالت کې د دې خوب په حقيقت بدلېدل ناشونې ده. يوسف عليه السلام خپل خوب مور ته دا ډول را پېژني: ﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ﴾(يوسف/۴)

ژباړه: پلار جانه! ما خوب ليدلی دی چې يوولس ستوري دي او لمر او سپوږمی ده، او ومې ليدل چې هغوی ماته سجده کوي.

د دې خوب تعبير دا و چې پلار، مور او ورونه به يې د ده پر وړاندې د احترام او اکرام سجده کوي! ټولې نښې د دغه ډول خوب په حقيقت بدلېدو باندې دلالت نه کوي، څکه پلار يې لوی پيغمبر د لوړ عمر او غوره شخصيت لرونکی دی او عرف ته په پاملرنې دا غوره نه ده چې يو څوک د عمر له اړخه لوی وي او پيغمبر دې هم وي هغه زوی ته چې کوچنی دی او زوی يې هم دی سجده وکړي!

له دې تکي ور هاخوا د يوسف عليه السلام ورونو له نوموړي سره کينه هم لرله، څنګه به نو هغه ته سجده وکړي؟ د دوی دښمني او کينه د هغه پر وړاندې دومره وه چې د هغه د وژلو لپاره يې دسيسه جوړه کړه او هغه يې په تياره او ژور کوهي کې وغورځوه. ټولې دغه نښې يو بل ته د دې لپاره لاس ورکوي چې دا تکی ناشونی دی چې هغوی دې سجده ورته وکړي.

نه یوازې دا چې خوب یې رښتینی نه شو، په لنډ وخت کې یې ځان په کوهي کې ولید، بیا د جامو په ډول وپلورل شو او بیا د غلام په ډول د مصر د عزیز له کور څخه یې سر پورته کړ. دغه پیښو نور هم د یوسف ﷺ د خوب ناشونتیا زیاته کړه، له یو څه وخت وروسته یې کله چې د مصر عزیز کور کې کار کولو، شرایط نور هم خراب شول او زندان ته د بندي په توګه ولېږل شو. په دې ډول د هغه او د هغه د خوب ترمنځ واټن نور هم زیات شو. خو لطیف خدای چې د ټولو تدبیرونو او تقدیرونو کیلی د هغه په بلاکیف لاس کې ده، هغه ته یې له زندان څخه خلاصون ورکړ او هغې ته یې لوړ مقام ورکړ. وروسته یې په هغه ځمکه وچکالي راوسته او بیا یې د هغه ورونه د اړتیا په جامه کې د هغه حضور ته راوستل، په داسې حال کې چې اوس د هغه زاړه خوب د حقیقت بدلولو لپاره لطیف ذات تقدیرونه پرله پسې څرخول. یوسف ﷺ کله چې د پلار، مور او ورونو سجده د ځان پر وړاندې ویني حیرانېږي او وایي: ﴿يَا أَبَتِ هَـٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا﴾ (یوسف/۱۰۰)

ژباړه: پلاره! دا زما د هغه خوب تعبیر دی چې ما مخکې لیدلی و، زما رب هغه حقیقت وګرځوه.

که چیرې د الله ﷻ اراده نه وی دا ناشونې وه چې دا ډول خوب دې حقیقت پیدا کړي.

﴿وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي﴾ (یوسف/۱۰۰)

ژباړه: د هغه د ښو پېرزوینو ده چې زه یې د زندان څخه راوایستلم او تاسې یې له بدیا څخه راوستلئ، زما سره یې یو ځای کړئ، وروسته له هغې چې شیطان زما او زما د ورونو ترمنځ فساد اچولی و.

دا د هغه لطف غورځاڼ او لنډیز دی چې له دغې صحنې حقیقي انځورونه وړاندې کوي، بیا وروستی تاپه او مهر لګوي او وایي: ﴿إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاءُ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾ (یوسف/۱۰۰)

ژباړه: واقعیت دا دی چې زما رب په نالیدلو تدبیرونو سره خپله غوښتنه ترسره کوي، بېشکه هغه د علم او حکمت څښتن دی.

هو! هغه لطیف ذات دی چې څه ته یې خوښه شي، د هغه اسباب په بشپړې باریکۍ، لطافت او پوښل شوي ډول برابروي، حتا د هغه کارونو هم چې په حقیقت کې یې ترسره کېدل ناشوني وي، ځکه هغه حکیم او پوه ذات دی.

## نه لاسته راتلونکې او لرې واټن خوبونه او هیلې

کله دې چې ځمکه ژېړه ولیده، بیا دې ورېځې تر سترګو شوې چې د هغه پر مخ یې سیوري جوړ کړي دي او د بربښنا غږ دې تر غوږونو در ورسېد او باران و اورېده او هغه بې ځانه ځمکې ځان پیدا کړ او زرغونه واوښته، مه وایه چې دا یو طبیعي کار دی، بلکې فکر وکړه: ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ﴾(حج/٦٣)

ژباړه: ایا ته نه ګورې چې له اسمانه اوبه اوروي او د هغو په برکت ځمکه زرغونوي؟ بېشکه الله ﷻ د لطف خاوند او باخبره دی.

په هره اندازه چې ستا او ستا د خوبونو ترمنځ واټن شتون ولري، او ناشوني په نظر رسېږي، لطیف ذات هغه برابروي، لکه څنګه چې خپله فرمايي: ﴿يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ﴾(لقمان/١٦)

ژباړه: (او لقمان وویل) زویکیه! یو شی (نیکي یا بدي) که د اورې د دانې په اندازه هم وي او په کوم لوی ګټ یا په اسمانونو یا ځمکه کې پټ شوی وي، الله ﷻ به هغه راباسي، بېشکه الله باریک لیدونکی او باخبره دی.

فکر وکړه یوه د اورې دانه! که انسان په غوره توګه پاملرنه ونه کړي هغه نشي لیدلی. د هغه د حجم پرتلنه د انسان د لاس سره وکړه. بیا هغه له خونې، کور،

کوڅې، ښار، هېواد او لويې وچې بيا د ځمکې له کرې او بې نهايته اسمانونو سره پرتله وکړه! باوري اوسه چې الله ﷻ به هر هغه څه درته برابر کړي، ځکه چې هغه لطيف، پوه او باخبره ذات دی.

هغه څوک چې په خپل لطف او کرم سره د دغه بې نهايته هستۍ څخه د اوري دانه راويستلی شي، نشي کولی په خپل لطف سره ستا لپاره داسې تقديري پرېکړه وکړي چې له اوسني وضعيت سره اړخ نه لګوي او نشي کولی هغه په لاس پيدا کړي؟ هو! په هغه ذات قسم چې کولی شي!

يوه ملګري مې کيسه کوله چې په يوه ستونزمن سفر کې د تبوک پر لور د اردن هېواد سرحد ته ورسېدم، ځکه سبا سهار مهال په «مؤته» پوهنتون کې يوه غونډه دايرېدله چې بايد هلته مې ګډون کړی وی. ۱۰۰ کيلو متره شاوخوا لار مې وهلې وه، ياد ته مې راغله چې اسناد مې په کور کې پاتې وو. اندېښمن شوم او پرېکړه مې وکړه چې بېرته وګرځم او له سفر څخه ډډه وکړم. سبا ورځ مې چې کله ورځپاڼو ته کتنه کوله، دې ته مې پام شو چې د مؤته پوهنتون زده کړيالانو په مظاهرو لاس پورې کړی دی چې ځينې پکې ټپي شوي هم وو.

لطيف ذات د دې سبب شو چې نوموړی خپل اسناد هېر کړي تر څو وينه او وينه بهېدنه ونه ګوري او يا دا چې سبا ورځ په روغتون کې نه وي يا دا چې زړه ته يې وېره دننه شي او له همدې کبله هغه له هغه ځېړنې او تحقيق ډډه وکړي چې څو کلونه يې په هغه وخت لګولی و!

د لطيف ذات مهرباني او الطاف هر وخت په نظر کې ولره او هغه ته خير شه، که چېرې داسې واوسې نو پيدا به کړې چې هر تقدير الله ﷻ تاته ټاکلی د الله ﷻ له لوري يو پوښل شوی لطف او مهرباني ده او د ژوند په هره شېبه کې د الله ﷻ له لوري داسې الطاف شتون لري چې ستا چاپېره يې ولکه ټينګه کړې ده.

## په برخلیک ټاکونکي وخت کې لطف

خپلو کارونو ته پاملرنه وکړه، دقیقاً هغه وخت چې نږدې ده بچي دې له تخت څخه د لاندې ولوېږي ته خونې یا کوټې ته دننه کېږې او له ځان څخه دا پوښتنه کوې چې زه اوس ولې خونې ته دننه شوم؟ له ځان سره لږ فکر وکړه، هغه ورځ چې پخلنځي تـه دننه کېږې او غواړې چې اوبه وڅښې د مثال په توګه د یخچال په سیم کې د برېښنا د تـړاو غږ اورې او وینې چې یوازې لـه هغـه دود پورتـه کېږي او تـر اوسـه اور پـای تـه نـه وي رسېدلی چې ته هغه سیم له ساکټ څخه بېلوې او له ځان سره وایې څه شی د دې سبب شول چې همدا اوس پخلنځي ته دننه شوم؟ ولې پینځه دقیقې وروسته نه راتلم؟

حتی که چېرې ستا لپاره دغه ډول پېښې نه دي منځتـه راغلـې، بـاوري اوسـه چـې دې ته ورته پېښو سره مخ شوی یې، بسنه کوې چې خپلـې خـاطرې دې پرېـږدې، بیا پوهېږې چې دا ټولې پېښې د هغه لطیف ذات تر سیوري لاندې ترسره شوې دي او تر اوسه ژوند هم کوې!

اوس د دغه سمندري چکر چې موږ د دغه لوی نوم په سـمندر کـې پیـل کـړی و موږ یوازې یوه برخه په سترګو ولیدله او تر اوسه یې هغه لوی رازونه او اسرار زمـوږ تـر سترګو نه شول چې پر موږ پټ دي او باید هغه په هغه کتـابونو کـې ولټـول شي چې هغه لویو متخصصینو لیکلي دي! ایا د دغه ژور لرلید وروسته الله ﷻ د دغـه لـوی لطف وړ نه دی چې د هغه سره ملګرتیا وکړې او د هغه په ورکړه او بښنو کې خپل فکـر وزغلـوې؟ دا چې په خپل زړه کې د هغه یاد، ذکر، هیلې او وېرې ته ځای ورکړې او د هغې د زیـاتوالي په لټه کې شې او هره ورځ له دغه نوم سره ژوند وکړې، هغه ذات ته په دغه نوم اواز وکړې او د هغه الطاف او مهرباني په نظر کې ونیسې او د هغه د ډالیو او پوښـل شـوو مهربـانیو په لیدلو ستا له سترګو اوښکې وبهېږي؟ نو په عاجزی سره ووایه! اې د پوښل شوو الطافو خدایه، موږ ته له هغه څه خلاصون راکـړه چـې مـوږ تـرې وېرېـږو! پالونکیـه، اې لطیف خدایه! پر موږ مهرباني وکړه او زموږ لپاره ستا د هغه مهربانیو څخـه ځـانګړې کـړه چې د هغه په وسیله زموږ کـاره نفسـونه بیـا راسم او ټینـګ کـړو او زمـوږ د زړونو بې لاري په لارموندنه بدله کړو او د ژوندانه بدی په ښېګنو بدلې کړو!

# الشّافي

له سبب پرته تاته شفا درکوي،

کله په ډېر کوچني او کمزوري سبب،

په حيرانوونکې وسيله،

کله په داسې څه شفا درکوي چې په اسبابو کې هم

نه حسابېږي،

او کله له وسيلې او سبب پرته شفا درکوي.

## الشافي یا شفا ورکوونکی

ایا دردونو او ستونزو ستړی کړی یې؟ ستا ناروغي د دې سبب شوې چې ژوند درته خاورې ایرې ښکاري؟ ایا نور خوښ نه لرې چې ډاکترانو تـه ولاړ شـې، د روغتونونو د لارو څخه ستړی شوی یې او د روغتونونو نوم او د ورتګ نېټې د ناروغانو له څېرو سره اوس هم ستا په ذهن کې د ګډوډۍ لامل شوي؟ ستا څه نظر دی چې تا له داسې څه څخه خبر کړم چې ستا روح د ستونزو او ستړیاوو څخه ومینځي او هغه روڼ وګرځوي؟ هغه څه د الله ﷻ یو نوم (الشافي) دی.

ستړې شوي نفس ته دې اجازه ورکړه چې لږ وخت ستا سره ملګرې ورکړي تر څو د الله ﷻ د دغه نوم اړوند مطالعه وکړي، هغه نوم چې د هغه د سیورې لاندې راحت کولو وروسته هغه ته ستا د اړتیا اندازه او له هغې څخه ستا د لرې والي اندازه په ډاګه شي.

## له نن وروسته به هېڅ کومه ناروغي ونه وینې

شافي د الله ﷻ هغه نوم دی چې د هغه په وسیله د هغه ذات ستاینه کـوو چې په دغه نوم نومول شوی دی او د شفا په صفت ستایل شوی دی. هغه یـوازې هغـه ذات دی چې د بنده ګانو بدنونو ته روغتیا او شفا ورکوي. شافي هغه نوم دی چې لـه خپل مانا او مفهوم پرده پورته کوي او د هغه ظاهر د خپل بـاطن رمـز او رازونـه منعکسوي. ناروغي د انسان په ژوند کې هغه امر دی چې په وار، وار راځي او په بېلا بېلو ډولونو او توپیرونو سره تر هر چا پورې رسېږي، د مثال په توګه هر هغه څوک چې د سترګو له نـاروغۍ شـفا پیـدا کـوي، د سر دردۍ احسـاس کـوي او د سر دردۍ لـه ورکېـدلو د مفصلونو او بندونو له دردونو کړېږي او کله چې دغه دردونه له منځه ولاړ شي، یـو ډول تبه پرې راځي. که چېرې د تبې ګرموالی د سوړوالی لور ته حرکت وکړي ښایي د کولو په پړسوب اخته شي او له هغې د جوړېدو او رغېدو وروسته د غاښ په درد اخته کېږي او په دې ترتیب داسې ورځ نشته چې د انسان بدن له درد څخه خـالي وي! که خپله روغ شي ورور ته یې ګوري چې هغه اسویلي وباسي، یا یې سترګې د مور ژړا تـه اوړي او یا یې هم ملګری له دردونو کړېږي.

ژوند د دردونو، ناروغیو او اهونو یوه ځمکه ده، د همدې لپاره الله ﷻ ځان شافي نومولی تر څو ستا دردونه د هغه د رحمت پر محراب کې په سجده پرېوزي او د هغه لوړ ذات قدرت ته سر ښکته کړي.

الله ﷻ ناروغي د مؤقت وخت لپاره د انسان د بدن لپاره مقدره کوي چې د ژوند ښکلا او تازه والی یې له خوړ سره مخ کړي، تر دې چې انسان په خپل ضعف او کمزورۍ اعتراف وکړي او پوه شي چې له الله ﷻ پرته بل قوت او قدرت شتون نه لري. الله ﷻ ناروغي انسان ته د دې لپاره مقرروي تر څو تر ټولو زیات ورته شي ته یې د یاد سترګې خلاصې شي چې هغه مرګ دی! په همغه ډول لکه ناروغي چې د ښکلا او ژوندانه د تازه والي پای دی، په همدې ډول مرګ هم ژوند ته د پای ټکی ږدي.

اې انسانه، ستا حقیقت مرګ دی او ستا د بدن هر څه له مرګ سره ورته دي. ستا خوب او ناروغي یو ډول مرګ دی. ستا د عمر تېرول د مرګ مخکې پړاو شمېرل کېږي. خواني د ماشومتوب او زوړوالی او زړبودي د ځوانی مرګ دی. ستا بدن ستا له ژوندانه مرګ ته زیات ورته دی! سره له دومره حقیقتونو بیا هم زموږ خیالونه او فکرونه موږ هغه لور ته هڅوي چې موږ داسې فکر کوو، موږ به تل وو، له همدې کبله ناروغي زموږ په بدن کې اواز کوي چې ستا مخ په خوړ او نابودۍ دی.

کله چې دغه کمزوری بدن د ناروغۍ پر بستر ځای نیسي، یوازې هغه کسانو ته چې ورته ځي او ترې ځي ګوري، په داسې حال کې چې د سلامتیا او روغتیا تاج پر سر لري. کله چې دغه ویني، په بدن کې یې د مرګ یاد ویښېږي او له سر تر پښو په کمزورۍ سره د قبر دننه فکرونه کوي.

کله چې ته ناروغ یې، ستا روح په ټرلو دروازو کې له مړو سره وخت تېروي او دننه حجروې خرابیو ننبې په سترګو او شونډو کې ښکاره کېږي او ستا د سر د لړزې سبب ګرځي. دا همغه دننه ژوندون دی چې د ناروغانو سره دمخه ښه پر وخت په خپلو لاسونو له هغې سره لاسونه ټینګوي.

کله چې ناروغي ستا په بدن کې پرمختګ کوي او ته په بشپړه توګه له دنیا لاس

مینځې، شفا ورکوونکی الله ﷻ ناروغې ته اجازه ورکوي چې ستا له بدن څخه مخ واړوي او روغتیا ته امر کوي چې تا خپل لومړي ژوند ته وګرځوي. په دغه وخت کې ستا د بدن او مخ رنګ پخواني حالت ته ستنېږي او هغه خندا چې د لیدلو پر وخت مړاوې شوې وه بیا ځلې ځوانېږي.

## له دلیل پرته تاته شفا درکوي

څکه هغه شفا ورکوونکی دی، له سبب پرته تاته شفا درکوي، په کمزورې وسیله، جالبو وسیلو، په هغه څه چې په وسیله کې نه شمېرل کېږي تاته شفا درکوي او یا له وسیلې پرته تاته شفا درکوي! کله په بوټو شفا درکوي، کله په یوه دوا او کله په ترکیبي دوا او کله هم یوازې په ډوډۍ او اوبو سره!

تر ټولو عجیب څه مې چې لوستي د ماشوم اړوند هغه مطلب دی چې د نري رنځ یا توبرکلوز او څو نورو ناروغیو نیولی و. ډاکټران باوري وو چې د ماشوم مرګ نېږدې دی، له همدې کبله یې د یو ماشوم مور او پلار ته اجازه ورکړه چې د ده د ژوند وروستۍ ورځې په تازه او رڼه هوا کې په کلي او طبیعي منظرو او ځمکو سره تېرې کړي او له هغې ګټه واخلي. یوه ورځ دغه ماشوم د کبک یوه ټوټه لاسونو کې نیولې وه او په لاره روان و چې یو سپین ږیری سړی ورسره مخ شو او په مړاوې شوو سترګو یې هغه ته وکتل او له هغې یې وپوښتل: بچیه، ایا غواړې ژوند وکړې؟ ماشوم د هو په اشارې سره ورته سر وخوځوه. سړي وویل: څنګه به ژوند ته لاسرسی پیدا کړې په داسې حال کې چې بې روحه او مړه ډوډۍ خورې؟! ته باید ژوندۍ غذا وخورې، لکه د غوښو ډولونه، سابه او مېوې او ټول هغه شیان چې الله ﷻ د انسان لپاره پیدا کړي دي او تر اوسه د خاورو تودوخه او د ژوند اثر او اغېز په هغه کې پاتې دي. هغه ماشوم وایي: د هغه سړي نصیحت زما زړه ته ننوته شو او په هغه باوري شوم، نو تصمیم مې ونیوه چې له دې وروسته یوازې ژوندۍ غذا وخورم، هغه غذا چې له ځان سره د ژوند تازه والی لري؟ د غوښو ډولونه، سابه او ګرمه ډوډۍ چې تازه یې غنم له ځمکې څخه ټول شوي وي، هغه مېوې چې تازه له ونې څخه بېلا بېل راشکېدلې وي.

وايي: په دغه ډول مې ناروغي په روغتيا بدله شوه. دا کار د دې سبب شو چې پلار مې يو ځل بيا روغتون ته بوزي، له څو ډوله ازموينو او ټسټونو وروسته د حيرانتيا له مخې د هغوی خولې پرانيستې پاتې شوې، ځکه نور مې په بدن کې د ناروغۍ نښه هم نه ليدل کېدله! دا کيسه د دې سبب هم شوه چې له دغه ماشوم څخه په لويوالي کې د تغذيې او غذايي رژيم يو مشهور عالم جوړ شي، ويل کېږي چې دغه ماشوم «وي ګيلورډ هاوز» دی او دا کيسه په «غذا معجزه راوړي» کتاب کې يې راوړې ده.

هو! ډاکټرانو هغه ماشوم په مرګ محکوم کړ، خو د دې عالم پاچا دغه پرېکړه صادره نه کړه. ډاکټرانو غوښتل په کلي کې يې ژوند ته د پای ټکی کېږدي، خو الله ﷻ دغه ونه غوښت. ډاکټران د هغه له درملنې عاجز شول، خو الله ﷻ نه ناتوانه کېږي او هغه په هر څه قادر دی.

## ايا نه پوهېږې يا د پام نه دی!

څا د شفا اسرار په سابو، غوښو او نورو بوټو او هغه شيانو کې چې د نړۍ بې وزله خلک هغه خوري ايښې دي؟ له شک پرته چې هغه يو الله دی، هغه ذات شفا ورکوونکی دی. څومره ډېر وختونه چې ته په ناروغۍ اخته شوی يې او له دې بې خبره يې او هغه دوډۍ چې ستا د ناروغۍ شفا په هغه کې نغښتې ده خورې، په داسې حال کې چې نه پوهېږې. په ناروغۍ اخته کېږې، بيا روغتياپيدا کوې او اصلاً له خپلې ناروغۍ او شفا څخه بې خبره يې!!

کله الله ﷻ د انسان شفا په اوبو کې ايښې وي، ټولو دغه حديث اورېدلی دی چې: «مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ.»[1]

ژباړه: د زمزم اوبه د ټولو هغو شيانو شفا ده چې د هغې لپاره څښل کېږي.

---

[1] ابن ماجه کتاب المناسک، باب الشرب من زمزم، د حديث شمېره: ۳۱۷۸.

همدارنګه: «طَعَامُ طُعْمٍ وَ شِفَاءُ سُقْمٍ».[1]

ژباړه: د زمزم اوبه هغه غذا ده چې وږی مړوي او د ناروغی لپاره شفا ده.

څومره ډېر ناروغان وو چې ناروغی تر پوزې راوستي وو، خو د دغه مبارکو اوبو په وسیله الله ﷻ هغوی ته شفا ورکړې ده. هر هغه څوک چې د شفا اړوند احادیث وڅېړي یو زیات شمېر نبوي دواوې به پیدا کړي. ابن قیم رحمه الله ځینې له هغوی په خپل کتاب «الطب النبوي» کې راټولې کړې دي.

ځینې له دغه دواګانو څخه عبارت دي له: بحري او هندي قسط، د غوا شیدې او د هغې غوړي، سنا[2]، زیره، سیاه دانه، تلبینه[3] او حتا د شپې بیدارېدل او لمانځه ته پاڅېدل. په ټولو دغه شیانو کې صحیح احادیث راغلي دي.

## د بیا ګرځېدو نور او رڼا

د تبوک د ملک عبدالعزیز روغتون په دیني او فرهنګي اداره کې ناست وو، چې یو څوک را دننه شول، په داسې حال کې چې وېرېدلې او خړه پړه څېره یې نیولې وه. په هغه شېبه کې یې ما خندا ونه لیدله. له هغه مې د پېښې پوښتنه وکړه، ویې ویل: زوی مې په پورتني پوړ کې بستر دی او د هغه پېښې له کبله چې دی ورسره مخ شوی و سترګې یې د لاسه ورکړې دي. څومره دردوونکې پېښه! زړه مې پرې ودردېده. د دغه پلار زړه د دغه پېښې له کبله څومره په درد او اندېښنه کې و! نوموړي په هیله مندی سره وویل: له تاسې څخه یو راسره ولاړ شئ چې هلته هغه ته دعا وکړو تر څو الله ﷻ شفا ورکړي. ملګری مې له ځنډ پرته پورته شو او له هغه سره ولاړ او له څو شېبو وروسته بیا راغی او ماته یې وویل چې هغه هلک ته مو دعا وکړه. بیا یې د هغه د پلار

---

[1] طبراني په معجم الصغیر کې راوړی (۲۹۵-۱/۱۸۶)

[2] سنا یو ډول بوټی دی، ګلونه یې ژېړ رنګ لري او څو ډوله مېوه ورکوي، مېوه او پاڼې یې تریخ خوند لري چې د پوډر په شکل پلورل کېږي.

[3] هغه شیروا چې شیدې ورسره ګډې وي.

لاس په لاس کې ونیوه او هغې ته یې په صبر او زغم وصیت وکړ او دغه حدیث یې ورته وراندې کړ: «دَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ»[1].

ژباړه: ناروغان مو په صدقه ورکولو سره تداوي کړئ.

ملګرې مې خبرو ته ادامه ورکړه چې دغه پلار له جیب څخه ۵۰۰ ریاله را وایستل او ماته یې وویل: د زوی د شفا په نیت دغه صدقه کړه! له دوو ورځو وروسته هغه سړی په یوه بله څېره اداري ته را دننه شو او له ملګري څخه مې یې وغوښتل چې ورسره ولاړ شي. ملګری مې تقریباً له نیم ساعت څنډ وروسته حیران را دننه شو او ویې ویل: زبری! اوس هغه ماشوم لږ لږ د هغه اتاق نور او رڼا لیدلی شي، بیا یې وویل چې پلار یې ۱۰۰۰ ریاله راکړل چې هغه هم صدقه کړي. هغه ورځ د اونۍ وروستۍ ورځ وه. د شنبې ورځ مې ملګري خبر را کړ چې د هغه ماشوم سترګې روغې شوې دي، زما باور نه کېده! دا ډول وه چې د هغې سترګې له سره جوړې شوې او بیا یې کولی شوی له سره نړۍ ووینې.

چا هغه ماشوم ته شفا ورکړه؟ چا د هغه د سترګو ژوند بیا ځلې نوی کړ؟ چا د بیا ځلې لپاره د هغه سترګو ته رڼا ورکړه؟ ﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ [یس/۸۲]

ژباړه: هغه خو چې کله د یو شي اراده وکړي، نو د هغه کار همدومره دی چې ورته حکم وکړي چې شه! او هغه کېږي.

## د هغه لور ته ور وګرځه

الله ﷻ یوازې غواړي چې ته د هغه لور ته وګرځې او خپل قدم په هغه لاره کېږدې چې پای یې د هغه ذات سره وي. په پاکۍ او خوبۍ سره د هغه ذات لور ته وګرځه! په سجده ، په توبه، په استغفار، په صدقه او په ګناه منلو سره.

د رحمت دروازه یې ور وټکوه بیا د روغتیا موندلو انتظار کوه. که چېرې الله ﷻ وته

---

[1] طبراني په معجم الکبیر کې راوړی (۱۹۶۱۰-۱۰/۱۲۸)

غوارې په دنیا کې به یو روغتون او طبي کمپلکس ستا درملنه ونه کړي. که چېرې د الله ﷻ اراده نه وي هېڅ ډاکټر نشي کولی ستا ناروغي تشخیص کړي.

یو شتمن سړی د پښتورګو د کار لوېدلو ناروغۍ باندې اخته و. زامنو یې د پښتورګي د پیوندولو لپاره هغه مصر هېواد ته بوتلو. هلته یې د یوې بې وزله کورنۍ د یوې پېغلې نجلۍ سره په ۱۰۰ زره سعودي ریاله توافق وکړ. سهار ټول په روغتون کې وو. سړي له عملیات مخکې وغوښتل هغه نجلۍ ووینې چې خپل پښتورګي خرڅوي. نجلۍ په ډېرې حیا سره د هغه لور ته راغله. سړي ورته وویل څه شی د دې سبب شوی چې خپل پښتورګی په یو سپین ږیري خرڅوې؟ ویې ویل: اړتیا او بې وزلي! کورنۍ مې بې وزله او وروڼه مې زده کړیالان دي. ما باید داسې کار کړی وی چې د هغوی اړتیا مې پوره کړې وی! د دغه پېغلې نجلۍ خبرې د سپین ږیري پر مخ یوه داسې درنه څپېړه وه چې نوموړی یې له ژور خوبه ویښ کړ، چې د هغه په وسیله یې د خپل بدن میکروبي وینه او غم هېر کړ او له ځان څخه یې وپوښتل: ایا دا عاقلانه خبره ده چې یو انسان دې د خپل بدن یوه غړي ته اړتیا ونه لري؟! ایا دا عاقلانه ده چې یو څوک دې د خپل ژوند او خپلې کورنۍ لپاره د بدن یوه مهمه برخه وپلوري؟! نو له همدې کبله یې وغوښتل چې د هغه زامن په چټکۍ سره د هغه لور ته راولي او هغوی ته یې وویل: هغه نجلۍ عربستان ته بیا ولېږئ، څکه هغه د پښتورګي له پلورلو لاس په سر شوه. همدارنګه یې وویل چې هغه ۱۰۰ زره ریاله د صدقې په ډول دغه نجلۍ ته ورکړئ او تاسې حق نه لرئ چې له هغې دغه ریالونه واخلئ!

زامنو یې نه غوښتل چې دغه موضوع د دوی قبوله کړي او د پښتورګي په پیوندولو یې ټینګار کولو، خو پلار یې تر بار لاندې ولاړ نشو، نو دوی مجبور شول چې د پلار خبره ومني او په غوسې سره عربستان ته وګرځېدل. د مصر څخه د راګرځېدو وروسته دغه سپین ږیری د پخوا په څېر د دیالیز لپاره روغتون ته ولاړ. ډاکټرانو په یو عادي ټېسټ او ازموینه کې په پوره حیرانتیا ولیدل چې پښتورګی یې په پوره ډول روغ شوی دی او د پخوا په څېر یې په فعالیت شروع کړې ده.

هو! دا و د شفا ورکولو لپاره د ټولو مخلوقاتو د پالونکي قدرت. هغه د جراحی چارې ته اړتیا نه پیدا کوي، ځکه هغه داسې پالونکی پاچا دی چې له ډېر لوړ ځای څخه خپله پاچاهي ګوري، ناروغ ته شفا ورکوي، له غمجن سره همدردي او خواخوږي کوي، مسافر خپلې کورنۍ ته راګرځوي او تپي ته روغتیا ورکوي.

**پخوانی وخت**

تا په ناروغۍ اخته کوي تر څو د هغه لور ته وګرځې او کله چې ور وګرځېدې ناروغي دې هم له منځه وړي، ځکه نور نو ناروغي ګټه نه لري. ناروغ کوي دې تر څو متواضع شې، کله چې متواضع شوې نو ناروغي درڅخه لرې کوي ځکه نور نو ناروغي ګټه نه لري. تا رنځوروي تر څو نور رنځوران هم احساس کړې او هغوی ته هم وګورې، که چېرې دې ولیدل نور نو ناروغۍ ته اړتیا نشته. تا په ناروغۍ اخته کوي تر څو ستا صبر او خوښي په ازموینه کې واچوي، کله دې چې صبر توبه کړ او د هغه په خوښۍ خوښ شوې ناروغې دې له منځه وړي، ځکه نور نو ناروغۍ ته اړتیا نشته.

الله ﷻ د هغه چا لپاره شافي دی چې که وغواړي لیدنې ته یې ورشي نو پخواني وخت ته به اړتیا نه وي، یا دا چې کم تر کمه له وعدې ځای او وخت مخکې ته هلته حاضر وې، ځکه هغه الله ﷻ دی. یوازې ووایه: یا الله! تر څو د الهي روغتون تر ټولو لویې دروازې ستا لپاره خلاصې شي، د هغه روغتون د رحمت، قدرت، لطف او شفا روغتون دی.

یو ملګری مې وایي: د موټر د ټایر لاندې مې د ماشوم د هډوکو خرچ تر غوږونو شو. موټر مې ودراوه او هغه مې روغتون ته ورسوه، په داسې حال کې چې زړه مې درزا او ټپ ټپ کوه. د هغه ماشوم پلار او بابا هم راغلل. حواس مې له لاسه ورکړي وو په ذهن کې مې هېڅ داسې څه نه راتلل چې یوه ورځ دې زه د یو ماشوم ژوند ته د پای ټکی ږدم! د ماشوم بابا زما لور ته راغی او ماته یې ډاډ راکړ او ویې ویل: څه چې الله ﷻ مقدر کړي دي هغه ترسره کېږي او موږ په تقدیر خوښ یو.

دغه بابا د ماخوستن لمونځ د روغتون په جومات کې مور ته په جماعت سره راکړ او «وبشر الصابرين» یې پکې تلاوت کړ چې ما د هغه په اوریدلو سره د زړه له تله وژړل. د لمونځ له ادا کولو وروسته ډاکټران د عملیات له اتاق څخه بهر شول او بابا ته یې وویل چې د ماشوم ژوندي پاتې کېدلو ته هیله مندي نشته؛ ځکه د سر کوپړۍ یې په ډېر بد حالت ماته شوې ده. زه په دغه خبر نور هم مات شوم، ناتوانه او ناهیلی خپل کور ته راغلم. یوه اونۍ کار ځای ته ولاړ نشوم، ځکه په یوه جالب ټکان کې را ګیر وم.

هغه بې غږه ماشوم ته د هغه د بابا له ایمان، د هغه د مور له دعا، د هغه د پلار له یقین او د هغه د کورنۍ له الله ﷻ سره د زړه تړاو پرته بلې دوا شتون نه درلود. له یوې اونۍ وروسته زه د هغه ماشوم لیدلو ته ورغلم، په داسې حال کې چې خندل یې او لوبې یې کولې او په لاره یې قدم وهلو او له ما سره یې خبرې کولې؛ الله ﷻ ربښتیا وویل او ډاکټرانو خطا وکړه. د هدوکو تړونکی ذات ربښتیا وایي: ﴿مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا﴾(فاطر/٢)

ژباړه: الله ﷻ چې د هر رحمت دروازه د خلکو لپاره پرانیزي، څوک د هغه بندوونکی نشته.

څوک کولی شي هغه ټوټې ټوټې شوي هډوکي او کوپړۍ روغه کړي او د هغه ماشوم شونډو ته خندا وګرځوي او بیا ځلې هغه بدن ته چې د قبر دروازه یې په خپلو سترګو ولیدله روح ور وګرځوي؟

## تکی کېږده

د پیغمبرانو پلار، ابراهیم ﷺ په روڼ او پاک زړه سره د پالونکي لور ته ولاړه، هغه د شرک د هغې کوچنۍ ذرې هم پاک و چې کمزوري زړونه پرې اخته کېږي. نوموړی وایي: ﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ﴾(شعرا/٨٠)

ژباړه: کله چې ناروغ شم هغه ذات ماته روغتیا راکوي. یوازې مومن انسان دی چې له دغه ابراهیمي خبرې درس اخلي او له تلپاتې الله پرته بل چاته پناه نه وړي.

یو تکی دلته کېږده، که هغه وغواړي چې ته روغ شې نو نور چاته به اړ نشې او که هغه اراده ونه کړي نو هېڅ څوک به گټه هم درته ونشي رسولی.

د چیچک ناروغی د ایوب علیه السلام ټول بدن ونیوه، کورنی یې تیت پرک شوه، مال او شتمني یې له لاسه ووتله او حتا خوښن خلک هم د هغه له درملنې ناهیلي شول، خو هغه همدارنگه صبر وکړ او دالله ﷻ شفا ته یې شېبې شمارلې. د درد شغلې او څرېکې د ایوب علیه السلام ټول بدن نیسي، خو نوموړی خپل سر د الله ﷻ په دروازه موښي او له څو کلونو درد زغملو او کړاوونو په ډېر احترام او حیا سره د عاجزۍ له مخې، په پوره یقین او باور سره الله ﷻ ته داسې وايي: ﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ (انبیاء-۸۳)

ژباړه: زه ناروغ یم او ته د ټولو مهربانانو څخه مهربانه یې.

زیات وخت نه تېرېږي چې د اسمان د رحمت دروازې پرانیستل کېږي او د اووم اسمان څخه د ایوب علیه السلام د روغتیا امر ورکول کېږي او په یوه شېبه کې ټولو هغو دردونو ته د پای ټکی ایښودل کېږي.

**ولې د نورو دربارونو ته منډې وهې؟**

ولې له الله ﷻ پرته بل چاته پناه وړې؟

ولې هغه متحرکو مړو ته چې ستا په شاوخوا کې دي پناه وړې او هغه تلپاتې ژوندی ذات هېروې؟

چا تاته چل او قناعت درکړ چې له الله ﷻ پرته بل شفا ورکوونکی شتون لري؟

هغه څوک چې له ډاکټر پرته یې ته ستا د مور له گېډې بهر کړې او ستا د مور په سینو کې یې تاته غوره روزي مقرره کړه او تاته چې تر اوسه دې هېڅ نه پېژندل هر څه در وښودل او دایې هم در وښودل چې د مور سینې ته څنگه لاس ورسوې. ایا هېره کړې دې ده، هغه څوک اوس هېروې چې ستا د مور په زړه کې یې تاته مهرباني پیدا کړه او هغې ته یې وړتیا ورکړه تر څو تا په غېږ کې ونیسي او ستا څارنه وکړي؟ ایا

دومره په چټکی دې هغه له یاده وتلی؟ ایا دا فکر کوې چې کولی شې له هغې بې نیازه وې؟ الله ﷻ تا رنځوروي تر څو هغه ذات ستا د ژوند لومړۍ ورځې ستا یاد ته درولي، په ناروغی سره درته سور څراغ درکوي او درته وایي: زما لور ته راشه! لکه څنګه مې چې ته له هیڅ څخه پیدا کړې، یوازې زه یم چې ستا د بدن څخه دردونه او کړاوونه لرې کولی شم.

## خوښي

ښايي شفا تاته له هغه څه نېږدې وي چې ته فکر کوې، مثلاً ایوب عليه السلام ته فرمان ورکړل شو چې په ځمکه خپله پښه ووهي: ﴿ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ﴾(ص/۴۲)

ژباړه: (موږ هغه ته امر وکړ) خپله پښه پر ځمکه ووهه، دا یخې اوبه دي هم د لمبېدو لپاره او هم د څښلو لپاره. دوا هغه ته ډېره نږدې وه او د الله ﷻ ارادې او پرېکړې ته اړتیا وه تر څو د شفا اسباب برابر کړي او کله چې الله ﷻ وغوښتل، ایوب عليه السلام د دوا ځای پیدا کړ او د الله ﷻ په امر دوا هغه ډول کار وکړ او نوموړی روغ شو.

ته هم د واشنګټن، پاریس او پکینګ ټکټ اخیستلو ته اړتیا نه لرې، ځکه ستا دوا هم نږدې ده ان شاءالله، بسنه کوي چې خپل ځان او خپل زړه ته د خوښۍ یو ټکټ واخلې او پرواز او الوتنه وکړې.

دَوَاؤُک فِیْک وَ مَاتَشْعُرُ      وَدَاؤُک مِنْک وَلَا تُبْصِرُ

ژباړه: ستا دوا ستا په خپل بدن کې ده، خو ته دا نه احساسوې او ستا درد هم خپل دی خو نه یې درک کوې.

آب در کوزه و ماتشنه لبان می گردیم      یار درخانه و ماگرد جهان می گردیم

«مولانا»

که چېرې له الله ﷻ خوښ شې، هغه هم تاته خوښي درکوي. ناروغي د خوښۍ تر ټولو ستونزمنه ازموينه ده، په داسې ډول که چېرې ستا ځوابونه په دغه ازموينه راضي وي د الله ﷻ په اجازه به يې پايله هم ستا لپاره د خوښۍ وي. ښايي څوک سوال وکړي چې ولې او څنګه په ناروغۍ خوښ شم، په داسې حال کې چې انسان په فطري ډول درد نه قبلوي؟ څنګه له هغه څه چې خوښ يې نه لرم راضي شم؟ امام ابن قيم رحمه الله دغه سوال ته په دې ډول ځواب ورکوي: په دې کې شک نشته يو څوک له دې کبله ناروغي خوښه ګڼي چې دی هغه لوري ته بيايي چې نوموړی يې خوښوي او د هغه درد په وسيله چې دغه کس پرې اخته وي هغه نه خوښوي، لکه بد خونده دوا چې پوهېږي د ده شفا پکې ده. نو په همدې ډول خوښي او بد ګڼل پکې يو ځای شوي دي.

ستا د کړاو او ځګو په منځ او د درد په وخت کې هغه څه ووايه چې خوږ پيغمبر ﷺ خپل امت ته توصيه کړي دي، ووايه: «رضيت بالله رباً و بالاسلام ديناً و بمحمد نبياً»[1].

ژباړه: په دې خوښ يم چې الله ﷻ مې پالونکی دی، اسلام مې دين دی او محمد ﷺ مې پيغمبر دی. دا دې په زړه ووايه، بلکې زړه دې ورته وهڅوه چې په مفهوم او معنی کې يې خپل فکر وځغلوي. زړه دې په هغه ومينځه، ځکه په قضا او قدر خوښي د ربوبيت پر شاخ خوښي ده، نو له همدې کبله کله چې له هغه خوښ شوې، بيا دې خوشحاله ساتي.

اجازه راکړه چې زړه دې د خوښۍ ساه واخلي او داسې کار وکړه چې له خوښۍ خوند واخلي، بيا دې په بدن کې وګوره، د شفا ننبې به د الله ﷻ په اجازه ستا په ټول بدن کې پيدا کړې. لاس دې را ټول کړه او د الله ﷻ نوم په خپله دعا کې ولوله بيا يې دې په بدن کش کړه، الله ﷻ په دغه کار هغه څه چې ستا له بدن سره يې مخه ښه کوله بيا ستا بدن ته ور ګرځوي. ناروغي ستا په بدن کې يو پسرلی وګڼه داسې پسرلی چې تا خپل پالونکي له دې لارې وپېژنده، هغه پالونکی چې نوم يې «شافي» دی.

---

[1] صحيح مسلم، کتاب الصلاة، باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، حديث شمېره ۳۸۶.

**د ګناه سیندونه**

په ژوند کې په وار وار ناروغ شوی یې، ایا داسې نه ده؟ چا تاته روغتیا درکړه؟ ایا الله ﷻ شفا درنکړه؟ ولې دا فکر کوې چې الله ﷻ نشي کولی د دغه ناروغی درملنه وکړي؟ دغه فکر د سزا وړ ګرځي. ښایي ستا دغه ناروغي ستا د همدغه باور یوه سزا وي، خو له همدې کبله دې له زړه څخه دغه ناروغي لرې کړه، بیا شافي ذات ته پناه یوسه تر څو تاته روغتیا درکړي.

ټول هغه ناروغان چې د روغتونونو پر بسترونو پراته دي، د شفا اجازه له شافي پالونکي څخه غواړي. هغه ذات د ناروغانو ټول اه او اسویلي اوري، هغه د درد ځای پېژني، هغه ذات د هغه اور څخه هم خبر لري چې د ناروغی له کبله د زړونو څخه پورته کېږي او د هغه ځارنه کوي.

کله چې الله ﷻ خپلې غوښتنې ترسره کړي او ستا د ګناهونو د سیندونو اه او اسویلي ستا له بدن څخه بهر کړي، روغتیا ته امر کوي او ته بیا د الله ﷻ په ځمکه په داسې حال کې قدم وهې چې له ټولو ګناهونو څخه پاک شوی یې، ځکه الله ﷻ تاته اوس شفا درکړې ده، پوه، حلیم او توانا الله ﷻ، ځکه الله ﷻ تاته شفا درکړې ده.

تاته په روغتیا درکولو سره د ډاکټرانو نوم او د هغه شمېرې ستا له ذهن څخه پاکېږي، د روغتونونو پتې او هغې ته د ورتګ ... هر څه ستا له یاده وځي. خو په خپله خونه کې یو نوی روغتون د «ملائکه ځای» په نامه جوړ کړه، سجدې ته ولوېږه او په زړه کې دې یوازې یو نوم ولیکه: «الشافي».

پالونکیه! اې شفا ورکوونکیه، ستا شفا او رحمت هر کمزوري روح، کړېدلي بدن او ستړي زړه ته وګرځوه. ځکه ته زموږ دعا اورې.

# الوکیل

که له الله ﷻ سره واوسې، خیالونه او خوبونه بـه دې په حقیقت بدل شي.

لوړې الوتنې به دې حقیقت پیدا کړي.

غوښتنې به دې خپل لوري ته رامنډې کړي.

په ډېره چټکۍ سره څه ته چې لېواله يې ستا لور تـه به راشي.

## الوکیل (ښه کار جوړوونکی)

ایا د کمزورۍ احساس کوې؟ احساس کوې چې دغه پراخه نړۍ له تا لویه ده؟ فکر کوې لکه هغه ښکه چې د ژوندانه په سخت طوفان کې بادونه یوې خوا بلې خوا اړوي ته هم داسې اندېښمن یې؟ ایا خپل ځان د هغه الوتونکي په شان وینئ چې وزرونه یې غوڅ شوي او کمزوري شوي وي او مرستې ته اړتیا لري؟ ایا داسې څه لرې چې وېرېږې هغه له لاسه ور نه کړې او غواړې هغه داسې چاته وسپارې چې ښه امانتدار وي؟ ستا اولادونه، ستا ښځه، ستا شتمني او ستا روغتیا؟ نو د دغه نوم وړانګو ته پناه یوسه او د وکیل خدای پټنځای خپل پټنځای وګڼه. له دغه وړانګین نوم سره خپله پېژندګلوي له سره تازه کړه، په مفهومونو کې یې فکر وځغلوه، خپل نفس له کمزورۍ، وېرې او اندېښنې ازاد کړه او هغه د وکیل یعنې کار جوړوونکي نوم تر سیوري لاندې ځای پر ځای کړه.

### الله ﷻ خپل کار جوړوونکی وټاکه

وکیل هغه څوک دی چې توکل کول یوازې له هغه سره ښایي، په هغه تکیه وکړئ او یوازې په خپله په هغه باور ولرئ او خپلې هیلې یوازې له هغه وغواړئ. په هر کار کې په هغه توکل وکړئ، ځکه که دغه کار ترسره کړئ نو په حقیقت کې مو خپل کار داسې چاته سپارلی دی چې د ټولو کارونو تدبیر د هغه په لاس کې دی. هغه څوک چې د اسمانونو او ځمکې واک له هغه سره دی او ټول هغه ته پناه وړي.

الله ﷻ د خپل لوړ ذات په هکله داسې وايي: ﴿رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا﴾ (مزمل/۹)

ژباړه: هغه د ختیځ او لویدیځ څښتن دی، له هغه پرته بل هېڅ خدای نشته، نو په همدې اساس هماغه خپل وکیل (کارجوړوونکی) ونیسه.

د ختیځ او لویدیځ خدای تاته امر کوي چې هغه خپل مدافع وکیل او خپل کار جوړوونکی وټاکه: بیا به له هغه وروسته ووینې چې اطمینان، د زړه ارامي، عزت، لویي

او بې اسبابو برياليتوب څنګه ستا دروازه در ټکوي. يوازې بسنه کوي چې د زړه لـه تلـه ووايې: اې الله ته زما وکيل او کار جوړوونکی يې.

ايا د ځمکې د کرې پر مخ داسې شتمن شته چې تاته ووايي يوازې له ما څخه مرسته وغواړه او يوازې پر ما تکيه وکړه؟ له شک پرته دا ډول شتمن انسان شتون نه لري، ځکه هيڅ انسان نشي کولی په ټولو کارونو کې ستا ملاتړ وکړي او په ټولو اړخونو کې ستا مرسته وکړي او ستا څخه څه شی ونه نيسي! يوازې اللهﷻ دی چې داسې وايي او پر دې کار ولکه هم لري.

توکل يو قلبي باور دی چې تا د يوې لويې چترۍ لاندې ځای پر ځای کوي تر څـو تا ته له غمونو او اندېښنو، د چلونو له باران او د دنيا له پرېشانه کوونکو سختو بـادونو څخه خلاصون درکړي. حقيقي بې برخې هغه دی چې دا چترۍ نه لري يا دا هڅه نـه کوي تر څو له دې چترۍ لاندې ژوند وکړي. د عالميانو پاچا له تا غواړي چې هغه کـار جوړوونکی وګڼې. له تا غواړي چې خپلې اړتيـاوې د هغـه دربـار تـه يوسـې او ستا شا يوازې په هغه ګرمه شي تر څو د چل او مکر چټل لاسونه او غشي ستا څخه لرې وي. تاته امر کوي تر څو ټول کارونه هغه ته وسپارې تر څو هغه ذات ستا ټـول کارونـه پـه غوره او بشپړ ډول ترسره کړي. اوس دلته دا سوال دی: نو د څـه لپـاره انتظـار باسـې؟ څه شی د دې سبب شوي چې دغه لوی فضيلت ونـه منـې؟ څـوک شـته چـې لـه دې ډېرې ګټې تاته رسوي؟ له بده مرغه موږ په وېروونکي ډول په دغه خـاورو زړه تړلـی او خوشحاله کړی دی!

دا ايات ولولـه: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ۲۱۷ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ۲۱۸ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾[شعراء/۲۱۷-۲۱۹]

ژباړه: او په هغه برلاسي او د رحمت څښتن باندې توکل وکړه، چې تا په هغـه وخت کې ويني چې تـه (عبادت تـه) پـاڅېږې، او پـه سجده کوونکـو کـې ستا ګرځېدو را ګرځېدو ته ګوري.

دا څه لوی کار، ستونزمن او شدید غم دی چې عزتمن خدای د هغه د ترسره کولو څخه عاجز دی؟! په داسې حال کې چې عزت یوازې د هغه په نوم سره معنی او تعبیر کېږي. هر عزت مو چې لیدلی، یا مو اورېدلی یا د هغه اړوند معلومات لرئ ټول یوازې هغه ذات دی. سره له دې څنګه ستا غمونه او اندېښنې کولی شي د هغه د عزت، لویې او عظمت پر وړاندې ټینګ شي؟

## کلنی کړنلاره

تر ټولو لوی شی چې غواړې او کولی شې په هغه کې په الله ﷻ توکل وکړې، عبادت دی. دا چې خپله پیاوړتیا او وړتیا څنګ ته وغورځوې او په زړه او ژبه دې داسې ووایې: ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾(فاتحه/۵)

ژباړه: موږ همدا ستا عبادت کوو او هم ستا څخه مرسته غواړو.

نو یوازې له هغه ذات څخه ملګري وغواړه او پر هغه توکل وکړه او له هغه ذات داسې وړتیا او قوت وغواړه چې وکولی شې د هغه په سمه توګه عبادت وکړې. دا یو نه اټکل کېدونکی کار دی چې الله ﷻ تاته امر کوي چې یوازې د هغه عبادت وکړې او یوازې پر هغه توکل وکړې او ته دغه کار وکړې، بیا تا په خپل حال پرېږدي او ستا ملګري ونه کړي!! دا یو ناشونی کار دی! څنګه شونې ده هغه پالونکی چې د بنده ګانو د عبادت ترې دی، خپل عبادت کوونکی او امر منونکی بنده د خپل دربار څخه خالي او تش لاس رخصت کړي؟! یوازې دا بسنه کوي چې د محمد ﷺ دغه دعا ډېره تکرار کړئ: «اللَّهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَى ذِكْرِكَ وَ شُكْرِكَ وَ حُسْنِ عِبَادَتِكَ»[۱].

ژباړه: پالونکیه! له موږ سره ستا په غوره ذکر کولو، شکر ایستلو او ښه عبادت کولو کې مرسته وکړه.

ومې ویل دا دعا زیاته تکرار کړه؟ نو ښسنه غواړم، نه یوازې چې هغه زیاته تکرار

---

[۱] ابو داوود (۱۵۴-۵۶۱/۱) او نسایي (۱۳۰۴-۵۳/۳)

کړي، هغې ته ستا په ورځنی کړنلاره او حتا په کلنی کړنلاره او د ژوند په اوږدمهاله لوړو موخو کې هم ځای ورکړه. ځکه که الله ﷻ ستا سره په دغه کار کې مرسته ونه کړي، بل هېڅ داسې قدرت به شتون ونه لري چې ستا مرسته وکړي. ځکه که هغه ذات ستا سره مرسته ونه کړي، هېڅکله نشې کولی لږ کار هم ترسره کړې! ځکه که هغه ذات ستا مرسته ونه کړي، نو په دنیا او اخرت کې به له زیان کارانو او تاوانیانو څخه وې!

ابن قیم رحمه الله له ابن تیمیه څخه نقل کوي چې نوموړی وايي: د تر ټولو غوره دعا اړوند په فکر کې شوم او پوه شوم چې تر ټولو غوره دعا د هغه دعا لوستل دي چې الله ﷻ ته خوښه ده او هغه مې په فاتحې سورت کې پیدا کړه، یعنې په ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾[فاتحه/۵] همدا رنګه وايي: د هر بنده زړه په دوو لویو ناروغیو اخته کېږي که پاملرنه ورته ونه کړي نو له خوړ او نابودۍ سره به يې مخ کړي او هغه دوې ناروغۍ ریا او تکبر دي چې د ریا دوا «ایاک نعبد» او د تکبر دوا «ایاک نستعین» ده. زیات مې اورېدل چې ابن تیمیه رحمه الله به ویل: «ایاک نعبد» ریا او «ایاک نستعین» تکبر له منځه وړي.

ایا په دې اړه د په خپل وروستي ادا کړي لمونځ کې فکر کړی دی؟ په الله ﷻ قسم چې که هغه ستا مرسته نه وی کړې نو تا نشوی کولی چې هغه ادا کړې!

### د الله ﷻ پر وړاندې متواضع اوسه

هغه مهربانه پالونکی دی. خپلې اړتیاوې یوازې د هغه دربار ته وړاندې کړه. یوازې عاجزي غوره کړه او متواضع اوسه، ځکه هغه له خپل عرش څخه ستا دغې حالت ته کتنه کوي او که چېرې حتا دعا هم ونه کړې دغه خاشعانه او متواضعانه حالت له تا څخه غواړي، له دې وروسته بیا باوري اوسه چې ستا اړتیا پوره کوي، ناروغي د لرې کوي او ستا پر شونډو د خوښی خندا رسموي. یوازې الله ﷻ ستا هیلې په حقیقت بدلولی شي او ستا غوښتنې یوازې له هغه ذات سره معنی پیدا کوي. که چېرې له هغې سره واوسې نو بیا چې څه خوښ لرې ستا لور ته به راشي او ستا هیلې به د حقیقت رنګ راوړي. ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ۲۱۷ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ﴾[شعراء/۲۱۷-۲۱۸]

ژباړه: او په هغه برلاسي او د رحمت پر څښتن باندې توکل وکړه، چې تا په هغه وخت کېويني چې ته (عبادت ته) پاڅېږې، اې هغه څوک چې د هغه لپاره لمانځه ته پورته کېږې، اې هغه کسه چې د هغه لپاره په خاورو خپله تنده موښې، اې هغه کسه چې د هغه پر وړاندې سر ښکته کوې، غوره ده چې اړتياوې دې هم له هغه څخه وغواړې، د ناروغۍ د شفا لپاره په هغه توکل وکړې، د ژوند پـه لوړو او ژورو او خپلو ټولو هيلو تـه د رسېدو لپاره د هغه پټنځای ته پناه يوسې او د هغه مرستې ته يوازې شېبې وشمارې.

أَلْزِمْ يَدَيْکَ بِحَبْلِ اللهِ مُعْتَصِماً فَإِنَّهُ الرُّکْنُ اِنْ خَانَتْکَ أَرْکَانُ

ژباړه: د الله ﷻ په رسۍ ټينګ لاسونه ولګوه، څکه هغه پياوړی او محکم تکيه ځای دی، که هر څو نور تکيه ځايونه ستا سره خيانت وکړي.

هلا ای يوسف خوبان به مصر آ ز قعر چه بـه حبل الله رستی
بگيرای چرخ پير و چنبری پشت رسن را سخت کز چنبر بجستی

«مولوي»

يوې نېکې ښځې يې له زوی سره تړون وکړ چې د زده کړو د دوام لپاره يوه اروپايي هېواد ته سفر وکړي، خو له دې هم خبره وه چې ځينې کسان هلتـه د زده کـړو لپاره تللي دي بيا د اخلاقي او عقيدوي بې لاريو سره مخ شوي دي، سره له دې يې نشوی کولی د زوی د سفر مانع او خنـډ شي. زيات دلايـل وو چې دې ورتـه د تسليمی سر ښکته کړ. له بل پلوه يې دا هم په زړه کې ټينګه وه چې توانـا او سـاتونکی الله ﷻ بـه يې ساتنه وکړي، له همدې کبله ځينې لمونځونه يې د خپـل زوی د سـاتنې د دعا لپاره ځانګړي کړل. څو کالـه وروسـتـه يـې زوی زده کـړې بشـپړې کـړې او خپـل هـېـواد تـه راغی، په داسې حال کې چې د جومات سره يې زړه تـړل شـوی و، داسـې څـوک چې هم به يې د تهجد لمونځ کولو او هم به يې په نېکۍ امر او له بدۍ منع کولـه! نوموړی له غوره فکرونو سره کورنۍ ته بيا را وګرځېده چې له دې مخکې يا وړاندې ورسره نابلده و! څنګه فکر کولی شو چې کار جوړوونکي الله ﷻ اجازه ورکولـه چې هغـه هلک بې لارۍ لور ته ولاړ شي، په داسې حال کې چې مور يې زارۍ او عـاجزي کوله چې اې

پالونکیه! زما د زوی ساتندوی شې. پالونکیه! پر تا توکل کوم زما د زوی اړوند زما لاسونه تش مه راګرځوه.

**خندېدونکې اوښکې**

که چېرې یو پاچا تاته ووایي چې کار دې ماته وسپاره، زه ستا حق له هغه ظالم سړي اخلم، ایا یوه ذره شک به هم ولرې چې ستا حق به تاته درنه کړي؟ پاچا خو څه چې حتا د یوه معاون امضا یې هم بسنه کوي تر څو هغه ظالم سړی په لړزېدونکو لاسونو ستا حق درکړي، اوس که پاچا دغه حکم تاته امضا کړي یا دا چې خپله د دغه کار لپاره قدم پورته کړي؟ د ترسره کولو اړوند یې څه فکر کوې؟

پاچا او معاون یې پرېږده او دغه ایت ته پاملرنه وکړه: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ﴾(فرقان/۵۸)

ژباړه: (اې محمده ﷺ!) پر هغه خدای توکل وکړه چې ژوندی دی او هېڅکله مړ کېدونکی نه دی. اوس دې په بدن کې ټولې اړتیاوې له منځه ولاړې! ایا داسې نه ده؟ نور ستا په زړه کې وېره، شک او احتمالونه شتون نه لري، ځکه الله ﷻ ستا ټول ځکلات او ستونزې په حل لارو بدلوي، ستا ټول دردونه رغوي، ستا ټولې هیلې په حقیقت بدلوي او ستا اوښکې په خندا بدلوي. حتا که دغه دنیا الله ﷻ ژوندی لري له تا وروسته ستا اولادونو ته حق ورکوي، نو له همدې کبله د غم او اندېښنې پر وخت د خپلو اولادونو په اړه اندېښنه مه کوه، ځکه ښایي ته تر یوه ټاکلي وخت پورې ژوندی وې او بیا مړ شې خو الله ﷻ هېڅکله نه مړ کېږي او هغه به له دوی سره وي. له هغوی سره به مهرباني وکړي، او مرسته به یې وکړي. باوري اوسه ژوند به یې له هغه ورځې چې ته ورسره وې غوره شي، ځکه هغه الله ﷻ ژوندی دی چې هېڅکله نه مړ کېږي.

**د ژوند اکسیجن**

حتی که چېرې چا په تا ظلم هم نه وي کړی، بیا هم په هغه ذات توکل وکړه. توکل یوازې د ظالمانو له شر څخه د خلاصون او یا د ځانګړي کار لپاره د مرستې

غوښتلو لپاره نه دی ځانګړی شوی، بلکې توکل د ژوند اکسیجن دی. ایا کولی شې له اکسیجن پرته ژوند وکړې؟ په خپلې روغتیا کې په الله ﷻ توکل وکړه. ستا د زړه ټکانونه، ستا د غړیو او جوارحو خوځښت، په رګونو کې د وینې ګرځېدل او د غذا انتقال ستا ګېډې ته او ... ټول یوازې الله ﷻ ته وسپاره. که الله ﷻ ستا سترګو ته د رب وهلو اجازه ور نه کړي، له شک پرته چې سترګې به دې له وچوالي وسوزي. که چېرې د زبېښلو قدرت درڅخه واخلي نو دنیا به ستا په نظر بې ګټې او پوچه وي. که چېرې د لامسې حس ستا له پوستکي واخلي، که چېرې دې بدن ټوټه ټوټه شي بیا به د درد حس هم ونه کړې!

د اولادونو په روزنه کې په الله ﷻ توکل وکړه. څومره ډېر مو ولیدل چې زامن یې په مسجدونو کې لوی شول خو بیا په ځوانۍ کې بې لارې او ګمراه شول او د الحاد او بې دینۍ لاره یې غوره کړه. داسې مو هم لیدلي چې مور او پلار یې خپلو اولادونو ته ټول شته امکانات برابر کړي خو بیا هم کاره شوي دي. یوازې الله ﷻ دی چې ستا د زوی په زړه کې د هدایت ځای پېژني، پرېږدئ چې هغه ذات یې زړونه په ایمان ډک کړي. په هغه توکل وکړئ او په عاجزۍ او تواضع هغه ته ووایئ: پالونکیه! دا زما زوی دی او ته زما او د هغه پالونکی یې، هغه ستا لارې ته برابر کړه، هغه ته لارښوونه وکړه او د هغه په روزنه کې زما ملاتړی شه. پالونکیه که تا له ما سره مرسته نه وی کړې هېڅکله به ما هغه لمانځه ته نه وی هڅولی. که ستا ملاتړ نه وی هغه لمونځ نشوی کولی، نو مونږ سره ستا په غوره یادولو، شکر ایستلو او غوره عبادت کې مرسته وکړه.

## له هغه پرته ژوند دوزخ دی

په خپله نېکمرغۍ کې په الله ﷻ توکل وکړه، ځکه له هغه پرته ژوند دوزخ دی. وایي: له ښځې سره دې په جزئیاتو خبرې وکړه او ستاینه یې کوه، له هغې سره وخانده او په مهربانۍ سره د هغې سره چلند وکړه. که دغه کارونه وکړې د هغه زړه او مینه به لاسته راوړې، هو دا سمه خبره ده، خو له ستاینې مخکې او وروسته ووایه: پالونکیه! زما ښځه زما لپاره نېکه وګرځوه. له هغه مرسته وغواړه، پر هغه توکل وکړه او دا ډول

دعا وکړه: پالونکیه! که ته ونه غواړې زما ټوله مسکا او خندا به زما ښځې ته ګټه ونه رسوي. په زارۍ او عاجزۍ سره هغه ته ووایه: پالونکیه! د هغه زړه ستا په لاس کې دی او زما په لاس کې نه دی، ته په خپله زموږ اړیکې غوره او نېکې وګرځوه.

الله ﷻ غواړي چې ته په خپلې کمزورۍ، ناتوانۍ او ناچیزه قدرت اعتراف وکړې، او یوازې هغه ذات قوي، عزتمن او لوی دی. که دغه کار وکړې له څلورو برخو دې درې برخې د توکل لاره وهلې ده، که دا کار ترسره کړې ستا شاوخوا ټول شیان به بدل شي، باور وکړه چې بدلېږي!

ستا اړتیاوې، خوبونه او غمونه دې څنګ ته پرېږده، بیا فرض کړه چې ته هېڅ خوب، هیله، غم او درد نه لرې، خو بیا هم د دې لپاره چې ستا ملاتړ وکړي او ستا سره مینه ولري په هغه ذات توکل وکړه. ایا خوښ نه لرې چې الله ﷻ ستا سره مینه ولري؟ ﴿فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾ (آل عمران/۱۵۹)

ژباړه: نو پر الله ﷻ توکل وکړه، د الله ﷻ هغه خلک خوښېږي چې د هماغه په ډاډینه کار کوي.

دا چې یو الله ﷻ د خپل بنده سره مینه ولري، دا معنی لري چې هر هغه څوک چې سوی زړه او سینه لري، له دې پرته نشي کولی زړه یې د مینې او لېوالتیا له مخې تکان وخوري او په اسانۍ سره د هغې ترڅنګ تېر شي. دا بې نیازه الله ﷻ دی چې ستا سره مینه لري! همدا دلیل کافي دی چې په الله ﷻ باندې د توکل لار کې د «وکیل» په لټه کې شې او له دغه نوم سره چې تا دغه لوی صفت او ځانګړنې ته لارښوونه کوي، مینه ولرې.

## زما لپاره الله ﷻ بسنه کوي

ځینې خلک ستا لوري ته راځي او ستا د بې تفاوته کولو لپاره له هېڅ شي لاس نه اخلي، د ژوندانه له بدیو او ستونزو څخه خبره کوي تر څو تا ووېروي، ستا باور او عقیده بدلوي، او تا ستا له اصولو او عقایدو څخه کړوي، په دغه شېبه کې خپل زړه د ایمان په اوبو پرېمینځه او ووایه ﴿حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ دلته به بیا نو د الله ﷻ په

نعمت او رحمت پربمینځل شي، په داسې حال کې چې تا او ستا عقیدې ته به هېڅ تاوان ونه رسېږي.

ولوله او فکر پکې وکړه: ﴿قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ۱۷۳ فَانقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ﴾

(آل عمران/۱۷۳-۱۷۴)

**ژباړه:** هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وويل: «ستاسې پر خلاف لويې لښکرې را غونډې شوې دي، له هغو ووېرېږئ.» نو د دې په اورېدلو يې نورهم ايمان پياوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چې زموږ لپاره الله ﷻ کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی. په پای کې هغوی د الله ﷻ له نعمت او لورينې سره ببرته ستانه شول، هېڅ راز زيان هم ورته ونه رسېده.

له شک پرته کله چې په الله ﷻ توکل وکړې هېڅکله به تاته تاوان ونه رسېږي، حتا که شر او بدي تر تا هم را ورسېږي او دا فکر وکړې چې ښايي زما لمن ونيسي، که توکل دې کړی وي نو تاته به لاره پيدا نه کړي، حتا ستا د بدن پر پوستکي داغ هم نه پرېږدي او د الله ﷻ په اجازه به هېڅکله پښېمانه هم نشې. د زړه په ژبه دې ووايه: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلاً﴾ (احزاب/۳)

**ژباړه:** پر الله ﷻ توکل وکړه، هماغه الله د وکالت لپاره کافي دی.

کله دې چې پر الله ﷻ توکل وکړ داسې فکر مه کوه چې بل څوک مې پيدا نکړ او پر ده مې توکل وکړ. نه هېڅکله هم نه! تا پر هغه لوی ذات تکيه کړې چې د ټولو بنده ګانو تکيه ځای دی.

ځينې خلک وايي: موږ له دعا پرته بله چاره نه لرو! د حيرانتيا خبره ده ايا د هغه څه څخه لوړ څوک شته چې ته يې له ځان سره لرې؟ دعا د توکل يوه ښکاره نښه ده او له دې مخکې چې ژبنی کلمې وي يو قلبي باور هم دی او دا باور چې الله ﷻ په هر څه قادر دی او دا همغه توکل دی چې په ښکاره توګه وړانګې خپروي.

څوک چې وايي فلانی له الله ﷻ پرته بل څوک نه لري، هغه تـه ووایـه: لـه الله ﷻ پرته ایا بل قوي ملاتړ شته دی؟ څه شی د هغه باچا لـه هسـتی کمبـړي کـه چـېرې د ختیځ او لوېدیځ الله ﷻ له ده سره وي؟

خُذُوا كُلَّ دُنْيَا كُمْ وَاتْرُكُوا ... فُـؤَادِيْ حَـرّاً طَلِيْقـاً غَـرِيْبـاً
فَـإِنِّيْ أَعْظَمُكُـــمْ ثَــرْوَةً ... وَإِنْ خِلْتُمُوْنِيْ وَحِيْداً سَـلِيْبـاً

ژباړه: تاسې ټوله نړۍ ونیسئ او زما زړه په خپل حال ازاد پرېـږدئ، تـر څـو پـه بې وزلۍ کې ژوند وکړي؟ ځکه زه له تاسې ټولو لویـه پانګـه لـرم، خیـر کـه تاسـې مـاتـه د یوازې کس په توګه فکر کوئ.

همه شب بر آستانت شده کار من گدایی
به خدا که این گدایی ندهم به پادشاهی

«عراقی»

### قانع کوونکی دلیل

ایا پوهېږې چې ولې یوازې پر الله ﷻ توکل بسـنه کـوي؟ ډېـر قـانع کـوونکی دلیـل شتون لري او هغه دا چې الله ﷻ د ځمکې او اسمانونو پاچا دی. ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا﴾(نساء/۱۳۲)

ژباړه: هو، د هغو ټولو شیانو، چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، یـوازې همـدا الله مالک دی، او د کار جوړونې لپاره یوازې هماغه کافي دی.

ایا له چا چې وېره لرې هغه د همدې خاورې نه دی؟ هغه هم د الله ﷻ په پاچـاهۍ او سلطنت کې شتون لري او الله ﷻ پر هغه ولکه لري. ایا همدغه ناروغي چې تـه یې اندېښمن کړی یې او د هغې لپاره دې درملنه پیدا نکـړه پـه دغـه خـاوره او ځمکـه کـې نشته؟ خو ناروغي هم د الله ﷻ په سـلطنت کـې قـرار لـري او کـولی شي هغـه تـه امـر وکړي چې ستا بدن پرېږدي.

ایا دغه ټولې ستونزې، کړاوونه، غمونه، ستړیاوې او مصروفیتونه په دغه ځمکه کې نه دي؟ نو پر هغه ځا چې د دې ځمکې څښتن دی توکل وکړه تر څو هغه په یوه کلمه ستا ټول دردونه، ستونزې، ستړیاوې او کړاوونه له منځه یوسي.

له هغه ځایه چې الله ﷻ د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی، نو د هر څه پایله هم د هغه سره ده، له همدې کبله پر هغه توکل کوو. ﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ﴾(زمر/٦٢)

ژباړه: الله ﷻ د هر شي هستوونکی دی او هماغه د هر شي ساتونکی دی.

په دغه قرآني ایت کې ښه فکر وکړئ ﴿حسبنا الله و نعم الوکیل﴾.

ژباړه: الله ﷻ زموږ لپاره کافي دی او هغه غوره کار جوړوونکی دی.

دا عبارت په دې معنی دی چې موږ له الله ﷻ پرته بل څوک نه لرو، او دا چې هغه تر ټولو غوره ملاتړ او کار جوړوونکی دی، نو له هغه پرته بل هېڅ لوی وکیل او ملاتړی نشته.

**څارونکی اوسه!**

پاملرنه وکړه چې بل څوک وکیل ونه نیسې، هوښیار اوسه چې له هغه پرته بل چاته پناه ور نه وړې، چې په دې حال کې به بیا ټمبلی، شکونه او وسوسې پر تا یرغل راوړي او ستا زړه بیا د هغې ښځه د خلاصون لپاره د دنیوي دروغجنو ژغورونکو په لټه کې کېږي. الله ﷻ فرمایي: ﴿أَلَّا تَتَّخِذُوا مِن دُونِي وَكِيلًا﴾(اسراء/٢)

ژباړه: له دې سپارښت سره چې زما څخه پرته بل څوک ښه وکیل (دوست، د کار جوړوونکی) مه نیسئ.

دا پر تا حرامه ده چې د بل چا دروازه ور ټک ټک کړې، یا په بل چا تکیه وکړې او یا له هغه پرته بل چاته پناه یوسې، په داسې حال کې چې هغه د تل لپاره شتون لري او تلپاتې او ژوندی دی.

پر هغه توکل کوې، ځکه هغه اورېدونکی دی. ځکه هغه هر هغه څه چې بنده ګان یې په پټه وایي اوري او ټول هغه کارونه چې په تیاره کې صورت نیسي پرې پوهېږي؛

نو څنګه له هغه ذات پرته پر بل چا تکیه کوې په داسې حال کې چې له هغه پرته بل څوک نه ستا اواز اورېدی شي او نه پرې پوهېږي؟! ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ (انفال/۶۱)

ژباړه: او پر الله توکل وکړه، په یقیني ډول هماغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی.

همدغه ظالم، څوک چې غواړي تاته تاوان ورسوي ستا د هغه پالونکي مخلوق دی چې له تا څخه ملاتړ کوي، نو په هغه توکل وکړه تر څو یې ظلم خپل ځان ته وګرځي. سر دې پورته کړه او په پوره عزت سره ووایه ﴿إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ رَبِّي وَرَبِّكُم مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا﴾ (هود/۵۶)

ژباړه: زما توکل پر هغه الله باندې دی چې زما رب هم دی او ستاسې رب هم، هېڅ ساکښ داسې نشته چې وچولی یې د هغه اللهﷻ په لاس کې نه وي.

که هر څومره هم شیطان د عسکرو او لښکرو لرونکی دی، همدارنګه د انسانانو په زړونو کې د وسوسو او وېرې اچولو خاوند دی او دا قدرت اللهﷻ ورکړی دی، بیا هم نشي کولی هغه چاته لاسرسي پیدا کړي چا چې په الله توکل کړی وي، لکه څنګه چې اللهﷻ فرمایي: ﴿إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾ (نحل/۹۹)

ژباړه: د هغه پر هغو خلکو تسلط نه وي چې ایمان یې راوړی وي او پر خپل رب توکل کوي.

په یاد ولره چې ﴿ومن يتوكل على الله فهو حسبه﴾.

ژباړه: هر څوک چې پر اللهﷻ توکل وکړي، نو هغه ورته کافي دی. یعنې که چېرې پر هغه توکل وکړې، پر هغه باور ولرې او هغه په خپلو کارونو کې مرستندوی وګڼې، هېڅ کله به بل چاته اړ نشې، ځکه هغه یوازې ستا لپاره کافي دی او ټولې بدی ستا څخه لرې کوي. له شک پرته که چېرې د اللهﷻ ملاتړ او ساتنه له هر لوري تا چاپېره نه کړي حتماً له هلاکت سره مخ کېږې. د دنیا ژوند د هغه څمکې په ډول دی چې له

ناروغي، آفت، چل، دسیسو او مارانو څخه ډکه وي چې له الله ﷻ او د هغه له ملاتړ پرته به حتماً تا دغه ماران تېروي.

نه غواړم تا ووېروم، خو دا یو حقیقت دی، نو ووایه: اې الله پر تامې توکل وکړ. ایا دغه جمله دې په زړه سره وویله؟ اوس وخانده، ځکه ټول هغه ماران له منځه ولاړل.

### تهدیدونه

کله چې له کوره بهر کېږې ښایي د ځینو پېښو ښکار شې، یا یوې پېښې سره مخ شې، یا دې ککړه هوا ناروغ کړي، یا په کنده کې ولوېږې، یا کوم څوک کنځا درته وکړي، یا کوم حاسد کینه درسره وکړي، یا له سخت نیوونکي کارگر څخه وځورېږې، یا چل ورکوونکی پلورونکی یو څه درباندې وپلوري، له همدې کبله کله چې له کور څخه بهر کېږې هغه دعا ولوله چې محمد ﷺ درته توصیه کړې ده: «بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ»[1].

ژباړه: د الله ﷻ په نامه، په الله ﷻ مې توکل وکړ، پالونکیه! تاته پناه در وړم له دې چې بې لارې شم او یا نور بې لارې کړم، څوک وښویوم او یا مې څوک وښویوي، ظلم وکړم او یا ظلم ووینم، څوک ناپوهي لوري ته کش کړم او یا ما څوک کش کړي. اوس په پوره اطمینان سره له کور څخه بهر شه، ځکه له ټولو شیانو چې ته وېرېږې، هغه اوس نشته.

کله دې چې غوښتل ویده شې په هغه پورې زړه وتړه او په هیله مندۍ سره دې کارونه هغه ته وسپاره او په هره شپه کې دا په یاد ولره چې داسې یو پالونکی شته چې تاته امر کوي چې پر هغه توکل وکړې. په هر صورت ته هغې ته اړ یې، دغه فرصت له لاسه مه ورکوه او هغه ډالۍ بیا مه ورگرځوه چې درته ډالۍ کړې یې ده، ځکه دا یو تلپاتې امتیاز دی.

پالونکیه! موږ پر تا توکل کوونکي وگرځوه، داسې چې یوازې تاته پناه در وړو. داسې کار وکړه چې په تا ایمان راوړو او دغه ایمان بیا داسې کره چې له تا پرته موږ له ټولو اړتیاوو او غوښتنو پاک کړي.

---

[1] سنن ابو داوود (۵۰۹۶-۴/۴۸۶)

# الشکوه

د الله ﷻ لطف او کرم تـول حسابونه او کتابونـه بدلوي، ځکه الهي لطف په حساب کې نه ځايږي!

## الشکور (یا په لږ عمل ډېر ثواب ورکوونکی)

له شک پرته چې له داسې پېښې سره مخ شوی یې چې له یو چا سره دې نېکي کړې وي خو هغه ستا نېکي هېره کړې وي، حتا په خبرې کې یې د دغه نېکی نښې هم نه لیدل کېږي، بلکې د پخوا په څېر تریو او تروش دی! له شک پرته چې دا دردوونکې ده. ژوند له دغه ډول خلکو ډک دی چې د «منته» له لفظ سره بلد نه دي او نشي کولی دا په ژبه راوړي چې الله ﷻ دې خیر درکړي، یا اصلاً د نېکی پر وړاندې خندا دوی ته معنی نه لري!! دوی پرېږده، ځکه عمر له دې ډېر لنډ دی چې ته د دغه ډله خلکو اړوند فکر وکړې. نو د «شکور» الله لور ته مخ واړوه تر څو ستا د زړه هغه غوټی چې دغه ډول خلکو په لغته وهلې بیا غوټی راوړي. له شکور سره ژوند وکړه، د دغه لوی نوم تر سیوري لاندې ودرېږه او د دغه ستړي ژوند د نامنظمو کړښو لوری د دغه لوی نوم په وسیله پاک کړه.

## که څه درکړي نو تا به حیران کړي!

الله ﷻ د هغه عمل په واسطه چې یو نېک بنده یې کوي منته کوي. «صالح عمل» یو بې حده او نامحدوده عبادت دی چې د هغه لویې کولی شي د اسمان او ځمکې فضا ډکه کړي. الله ﷻ تا ته په دغه صالح عمل امر کوي چې ستا د ژوند او اخرت بریالیتوب په هغه کې نغښتی دی، نو که هغه ترسره کړې، دا خپله په منته کولو ارزي، ځکه هغه ذات ته د دې کار کولو لپاره رهنمایي کړې یې او هغه یې درته اسانه کړی دی، یعنې ته باید له هغې منته وکړې چې پر تا باندې یې دا ډول لطف کړی دی، ایا همداسې نه ده؟ خو هغه ذات د هغه لطف او کرم له مخې چې لري یې له تا څخه د هغه صالح عمل په کولو منته کوي. ایا تر اوسه دې دا ډول لطف او کرم لیدلی دی؟ دا هغه سوال دی چې کلونه کلونه به یې په ځواب ویلو کې تېر شي خو ځواب به ورته پیدا نشي. په هماغه ډول لکه سترګې چې نشي کولی الله ﷻ ووینې، عقلونه هم د الله ﷻ د نومونو او صفتونو له کیفیت معلومولو عاجز دي. نو سره له دې مونږ باید په فکر کولو او تدبر سره له دغه لوی نوم سره بلد شو تر څو د هغه وړانګې په خپل ژوند

کې په خپلو سترګو ووینو.

د اللهﷻ د شکر کولو یو حالت دا دی چې: د ګناهونو بښنه کوي، په بشپړ ډول اجر او بدله ورکوي، بلکې نور یې هم ور زیاتوي. تاته روغتیا، زامن، شتمني او خوندور ژوند درکوي او ستا نوم او د هغې اوازه د خلکو په منځ کې په نېکۍ سره خپروي. ستا دعاوې قبلوي او د خپلې مینې او نږدېوالي احساس ستا په برخه کوي، تاته له هغه ناروغیو ژغورنه درکوي چې نور خلک یې له پښو غورځولي دي. تاته له بلاوو خلاصون درکوي، له هغه بلاوو چې نور خلک یې تر پوزې راوستي دي. تاته د نېکۍ لارې لارښوونه کوي په داسې حال کې چې ډېری خلکو لاره ورکه کړې ده. تا لار موندونکی جوړوي په داسې حال کې چې له تا ډېر هوښیار، پوه او ځیرک کسان لار ورکي شول او په بې لارۍ یې سر شو.

## ریاضیکي سوال

ولوله او فکر پکې وځغلوه: ﴿مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ﴾(بقره/۲۶۱)

ژباړه: کوم خلک چې خپل مالونه د اللهﷻ په لار کې لګوي، د هغو د لګښت مثال داسې دی، لکه چې یوه دانه وکرله شي او له هغې څخه اووه وږي زرغونه شي او په هر وږي کې سل دانې وي. ایا یوازې همدا ده؟ نه! ﴿يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ﴾.

ژباړه: په همدې ډول کله چې د چا عمل ته د الله خوښه شي، زیاتوالی په کې راولي. یوه دانه ستا په عمل کې په خپل الهي فضل او منني سره تاته په ۷۰۰ بدلوي او بدله او اجر درکوي! څنګه یو مساوي له ۷۰۰ سره ده؟ نېک عمل ترسره کړه تر څو د هغه په ډول اجر ترلاسه کړې او اللهﷻ ۷۰۰ ځلې د هغه عمل ثواب او بدله درکوي او د چا لپاره یې چې خوښه شي، نور یې هم ور زیاتوي.

د اللهﷻ لطف او کرم ټول حسابونه او کتابونه بدلوي، ځکه الهي لطف په حساب کې نه ځایېږي. اللهﷻ که تاته څه درکړي ته به خپله حیران شې. څوک دي او څوک شته

چې الله ﷻ دې هغه ته کوم نعمت نه وي ورکړی؟ موږ د ژوند په هره شېبه کې، بلکې په هره ثانيه کې د هغه له لوري بې شمېره ډالۍ ترلاسه کوو چې نشو کولی هغه وشمېرو.

**په دغه کتاب کې يې په ياد ولره!**

پيغمبرانو ښکلی عمل ترسره کړ او د خپل پالونکي د خبرو رسولو لپاره يې پوره هڅې وکړې. الله ﷻ دوی د دغه کار او کړنو له کبله رهبران او نمونه يي ځېرې وګرځولې چې په هغوی پسې اقتدا کېږي او د هغوی کيسې يې په خپل سپېڅلي او لوی کتاب کې د تل لپاره راجستر کړې او د هغوی له اصولو او عقيدو يې خپل ملاتړ اعلان کړ او داسې نور څه چې له پيغمبرانو څخه د الله ﷻ د مننې ښکارندويه دي. دا چې الله ﷻ له دوی څخه په خپل کتاب کې يادونه کړې ده او موږ تل هغه وايو: د الله ﷻ بنده ګانو څخه يو بنده چې هغه په خپل قدرت پيدا کړی او په لومړيو کې يې هېڅ نوم او نښان نه و لکه څنګه چې فرمايي [لم يكن شيئا مذكورا]

**ژباړه:** هېڅ د يادولو وړ څه نه وو.

بيا يې په کتاب کې د هغه اړوند وايي: ﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا﴾ [مریم/۴۱]

**ژباړه:** او په دې کتاب کې د ابراهيم ﷺ کيسه ياده کړه، بېشکه هغه يو رښتينی انسان او پيغمبر و.

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا﴾ [مریم/۵۱]

**ژباړه:** او په دې کتاب کې د موسی ﷺ يادونه وکړه، هغه يو غوره کړای شوی شخص و.

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ﴾ [مریم/۵۴]

**ژباړه:** او په دې کتاب کې د اسماعيل ﷺ يادونه وکړه، هغه په وعده کې رښتينی و.

الله ﷻ په قرآن کريم کې له خپلو پيغمبرانو يادونه کوي او له هغوی څخه يې مننه

کړي او هم يې ستايلي دي: ﴿إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا﴾.

ژباړه: موږ هغه صابر او زغم لرونکی وموند.

لږ فکر وکړه اوس عبارت بشپړ کړه: ﴿نِعْمَ الْعَبْدُ﴾(ص/۴۴)

ژباړه: ډېر ښه بنده.

عالم پاچا د خپل یوه بنده اړوند وايي: څه ډېر ښه بنده! سبحان الله! که وغواړي لطف او احسان وکړي، څومره بې انتها او بې پايه احسان کوي!

د اللهﷻ مننه د خپل پيغمبر محمدﷺ څخه چې په څه ډول يې خپل کرم پرې لورولی دی: ﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ رَبِّكَ﴾(زخرف/۳۲)

ژباړه: ايا ستا د رب د رحمت وېش دوی کوي.

پيغمبري يې هغه ته ځانګړې کړه: ﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾(انعام/۱۲۴)

ژباړه: اللهﷻ ډېر ښه پوهېږي چې د خپلې پيغمبرۍ کار له چا واخلي.

﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾(مائده/۶۷)

ژباړه: اللهﷻ د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی.

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾(قلم/۴)

ژباړه: او بې شکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې.

نه يوازې دا بلکې وګوره چې څنګه يې د هغه نوم په اذان او شهادتينو کې د خپل مبارک نوم سره يو ځای د تل لپاره ځای پر ځای کړ.

وَضَمَّ الْإِلٰهُ اِسْمَ النَّبِيِّ إِلَى اسْمِهِ ⁂ إِذْ قَالَ فِي الْخَمْسِ الْمُؤَذِّنُ أَشْهَدُ

وَشَقَّ لَهُ مِنْ اِسْمِهِ لِيُجِلَّهُ ⁂ فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُودٌ وَ هٰذَا مُحَمَّدُ

ژباړه: پالونکي د محمد ﷺ نوم د خپل نوم سره پیوست کړ، هغه وخت چې مؤذن په پنځه وخته اذان کې وايي. پالونکي خپل نوم د محمد ﷺ لپاره بیا وګرځوه تر څو هغه لوی کړي، د دې لپاره چې خپله محمود او پیغمبر محمد دی.

خورده است خدا ز روی تعظیم　سوگند به روی همچو ماهست
ایزد که رقیب جان خرد کرد　نام تو ردیف نام خود کرد

عبدالرزاق اصفهانی

د محمد ﷺ ملګرو ته هم وګوره، هغه چا چې خپل ځانونه، مالونه او عمرونه یې د بریالیتوب په لار او د الله ﷻ له دین څخه قربان کړل او الله ﷻ د دوی د دغه سرښندنې له کبله خپله خوښي اعلان کړه او د هغوی د کړنو بدله یې ورته څو برابره کړه او له استثنا پرته یې ټول اصلاح کړل او هغوی یې د تاریخ تر ټولو غوره نسل معرفي کړ او په هکله یې داسې وویل: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾(فتح/۱۸)

ژباړه: الله له هغه مؤمنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی لـه ونې لاندې ستا سره بیعت کاوه.

او فرمايي: ﴿وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ﴾(نساء/۹۵)

ژباړه: الله ﷻ دواړو ټولیو ته نېکه وعده ورکړه.

محمد ﷺ هم د خپلو ملګرو د فضیلت اړوند ډېر احادیث ویلي دي چې ډېری یې مشهور او معروف دي. دغه ټول څه د محمد ﷺ د دوستانو او ملګرو اړوند یوازې د الله ﷻ د منني یوه برخه وه چې هغه د محمد ﷺ پر ربنتیني ګڼلو، د الله ﷻ په لار کې د جهاد له کبله او د هغه مال له کبله چې د الله په لار کې یې خرچه کړ، یادونه وکړه.

## د نېک کار یوه ذره

په هماغه ډول لکه هر کریم انسان چې د نېک کار په سبب منته کوي، الله ﷻ هم له هغې لوړه منته کوي، هغه ذات په هغه ډول منته کوي څنګه یې چې له لطف او

کرم، عزت او لويی سره ښايي. داسې منته نه لکه د انسان منته، ځکه هغه شکور ذات دی او که چېرې د نېکۍ يو کار له تا څخه ووينې پرله پسې توګه له تا څخه منته کوي. هو! هغه شکور ذات دی او د هر کوچني او لوی عمل په بدل کې له خپل بنده منته کوي. په دې شرط چې عمل يې د اخلاص له مخې وي او له هر ډول ريا څخه پاک وي. الله ﷻ يوازې د لويو کړنو او اعمالو له کبله منته نه کوي بلکې که يوه ذره هم نېک کار وکړې د هغې پاداش او اجر درکوي او هغه څو برابره کوي:

﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ (زلزال/۷)

ژباړه: بيا چا چې يوه ذره قدرې نېکي کړې وي، وبه يې ګوري.

يوه برخه د نيمې خرما او بله برخه د يوه تږي سپي د اوبولو له کبله جنت ته تللې دي. حتا هغه سړی چې ټول عمر يې له ګناهونو سره تېر کړی و او زامنو ته يې وصيت وکړ چې له مرګ وروسته يې بدن وسوځوي او ايرې يې وشيندي، ځکه وېرېده چې الله ﷻ به حتماً عذاب ورکوي، الله ﷻ يې د همدغه وېرې له کبله په ټولو ګناهونو خط ورته کش کړ. يو سړی يوازې د هغه نېکۍ له کبله چې ملګري ته يې څه مال صدقه کړی و جنتي شو او هغه بل سړي قتلونه کړي وو او يوازې د دې په خاطر چې د الله لور ته يې هجرت وکړ وبښل شو.

د الله ﷻ د منتې له ډرانګو څخه يو دا ده چې د صدقه ورکوونکي اجر او بدله ډېره په چټکۍ سره ورکوي او په مال کې يې برکت اچوي او هغه ته له هر لوري نعمتونه ورکوي، لکه څنګه چې محمد ﷺ فرمايي: «إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ صَدَقَةَ عَبْدِهِ بِيَمِينِهِ وَيُرَبِّيهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ»[۱].

ژباړه: الله ﷻ د خپل بنده صدقه په خپل ښي لاس قبلوي او مني او هغې ته روزنه او پراختيا ورکوي په هماغه ډول لکه تاسې چې يو شيدې رودونکي ته روزنه ورکوئ. دغه د الله ﷻ منته او ښېګڼه ده د خپل بنده د اطاعت پر وړاندې.

---

[۱] صحيح بخاري، کتاب الزکاة، باب الصدقة من کسب طيب، د حديث شمېره: ۱۴۱۰.

لس کاله وړاندې د یوه لوی پلورنځي تر څنګ ناست وو، هغه سړي د هغه پلورنځي کیسه ماته په دې ډول وکړه: د دغه پلورنځي کار کوونکی معمولي سړی و. له ښځې سره یې یو ځای پریکړه وکړه تر څو تنخوا یې را ټوله کړي او د عمر لپاره یو کور پرې جوړ کړي. کله یې چې پیسې یوې کافي اندازې ته ورسېدې، سړی د لمانځه د ادا کولو لپاره مسجد ته ولاړ او د یوه دعوتګر دغه جمله چې خلک یې د جومات جوړولو لپاره رابلل واورېده: «مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِداً وَلَوْ كَمَفْحَصِ قَطَاةٍ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ»[1].

ژباړه: هر څوک چې مسجد جوړ کړي که څه هم د مرغۍ د ځالې په اندازه وي، الله ﷻ به ورته په جنت کې یو کور جوړ کړي. دغه حدیث د ده په زړه عجیب اغېز واچوه، له همدې کبله کور ته ولاړ او ښځه یې له دې نیت څخه خبره کړه چې غواړي ټولې جمع کړې پیسې د جومات جوړولو لپاره ځانګړې کړي. ښځې یې هم په بشپړې خوښۍ ټولې پیسې هغه ته ورکړې او له هغه یې وغوښتل چې دا هم د جومات د جوړېدو پروژه کې ورسره ګډون وکړي.

ایا دا فکر کولی شې چې څنګه هغه کړنلاره چې دوی د هغه لپاره کلونه کلونه خولې تویې کړې وې د یوې شېبې په اوږدو کې بدله شوه؟ له شک پرته چې دغه بدلون د الله ﷻ له لوري و او د هغه ژوندي زړه څخه یې سرچینه واخیسته چې یوازې الله ﷻ او اخرت غواړي.

د جومات له شروع څخه وروسته یې بیا خلې سپما ته شروع وکړه او د هغه سړي په فکر کې تجارت غوره وګڼل شو، نو کوچنی پلورنځی یې پرانیست. د پلورنځي په پرانیستلو سره د هر لوري پېرودونکي پرې راټول شول! لږ وخت نه و وتلی چې مال او دارایي له هر لوري د باران په ډول پرې اورېدله او سړي هم دغه پلورنځي ته پراختیا ورکړه او له یو څه وخت وروسته یې نورې څانګې هم یعنې دوهمه او دریمه هم پرانیستلې. ملګري مې وویل: اوس هلته د شرقیه ساحه کې دیارلس برخې لري! له دې پېښې لس کاله تېرېږي او اوس تري خبر نه لرم چې څنګه او څومره به یې

---

[1] ابن ماجه، کتاب المساجد والجماعات، باب من بنی لله مسجداً، د حدیث شمېره: ۷۸۷.

شتمني زیاته شوې وي. پاک دی هغه الله ﷻ چې له بنده ګانو څخه داسې ډول منته کوي او هېڅوک د هغې سره په معامله او سوداګرۍ کې تاوان نهویني.

یوه ورځ مې یو سړی ولید چې کورنی نوم یې «الرحیلي» و، په شوخی سره مې هغه ته وویل: ته په جده کې د تېلو د مشهور پمپ «الرحیلي» څښتن یې؟ ویې ویل: نه، خو هغه زما له خپلوانو څخه دي. بیا یې وویل: راشه چې د «الرحیلي» کیسه درته وکړم: الرحیلي د کار په لومړیو کې بې وزلو ته زیاته صدقه ورکوله او د یتیمانو سرپرستي یې کوله او د ځینې خپلوانو سره یې هم نېکي او مرسته کوله، ډېر وخت ونشو چې الله ﷻ یې کار ته ښکلا ورکړه او الله ﷻ ورته دغه پمپ او نور زیات درآمد لرونکي کارونه ورکړل. دا هغه کار دی چې شکور الله ﷻ یې د خپلو بنده ګانو د کړنو او اعمالو پر وړاندې کوي!

## خرچه او انفاق وکړه ترڅو پر تا خرچه وکړم

محمد ﷺ فرمایي: «مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ»[1].

ژباړه: په صدقه کولو سره د بنده مال نه کمېږي. موږ باید په دغه خبره قلبي ایمان ولرو. همدارنګه زموږ پالونکی په قدسي حدیث کې فرمایي: «يَا عَبْدِيْ أَنْفِقْ، أُنْفِقْ عَلَيْكَ»[2].

ژباړه: اې زما بنده، خرچه وکړه تر څو په تا خرچه وکړم. کله چې ته د یوه بې وزله په لاس کې کمې پیسې ږدې، الله ﷻ د هغې په ډول حتا له هغه ډېرې تاته درکوي، هغه هم د روغتیا، خوښی، ورکړې او بښنې په ډول.

یو بې وزله زده کړیال د جمعې لمانځه ته په لاره روان و چې د مسجد د صدقاتو د بکس سره نږدې یې د یوه سړي غږ واورېده چې اواز یې کوه: اې زما بنده، خرچه وکړه تر څو په تا خرچه وکړم. ځوان یې جیب وپلټه او ټولې پیسې چې ۵ پنځه ریاله وې له

---

[1] سنن ترمذي، کتاب الزهد، باب ماجاء مثل الدنيا مثل اربعة نفر، د حدیث شمېره: ۲۴۹۵.
[2] صحیح بخاري، کتاب التفسیر، باب وکان عرشه علی الماء، د حدیث شمېره: ۴۶۸۴.

جېب څخه را واخیستې او د صدقاتو د بکس دننه یې په داسې حال کې وغورځولې چې په زړه کې یې د یقین غږ پورته کېده: پالونکیه! ما په خپلې بې وزلۍ سره خرچه وکړه، ته په خپلې شتمنۍ سره پر ما خرچه وکړه! د شپې یې ورور له دې پرته چې په دغه څه خبر شي هغه ته وویل: یوه اندازه پیسې مې په حساب کې شته چې زه ورته اړتیا نه لرم، بیا یې دوه زره سعودي ریاله له خپل حساب څخه هغه ته ورکړل، په دې ډول الله ﷻ سر په سر سترګو په هغه خرچه وکړه!

څو کاله وړاندې مې په یوه مجله کې یوه کیسه ولوسته چې یو چا د خپل ځان په اړه ویلې وه چې: یوه ورځ سوالګر زما د کور زنګ وواهه او ما سل ریاله له خپل جېب څخه را واخیستل او هغه سوالګر ته مې ورکړل، په داسې حال کې چې یو شي مې په زړه کې دا غږ کوه! یا الله ، لس برابره! لس برابره! پخلنځي ته دننه شوم او خپل ځان او ښځې ته مې سباناری چمتو کړه. ښځه مې هم پاڅېده او دسترخوان ته راغله. د سباناري خوړلو پر وخت یې راته وویل: د مېز په سر یوه بسته ده چې تېره ورځ د پُست ادارې مسؤل هغه ماته وسپاره. زه پورته شوم تر څو د هغه بستې او کڅوړې اړوند معلومات وکړم. په هغه کې هغه حواله شوې پیسې وې چې زما د یوې لیکنې او مقالې اړوند یوې رسنیزې ادارې ماته رالېږلې وې، جالبه دا وه چې هغه پوره (۱۰۰۰) ریاله ووُ!

## نېک کار وکړئ

دا ډېره د تاسف او خواشینۍ خبره ده چې ستا ټولې زړه ترړنې او غوښتنې دنیوي او مادي وي، په داسې حال کې چې هغه ثوابونو او بدلو ته چې الله ﷻ یې ستا لپاره ذخیره کوي، ته به هغه ته ډېره اړتیا ولرې! د الهي شکر او منښې د روښانه وړانګو څخه دا ده چې یو څوک له خپل مور او پلار سره نېکي وکړي، د دغه ډله خلکو ژوند د بریالیتوب لوري ته ځان سموي او د ژوند په ټولو کړنو کې بریالیتوب ته رسېږي، تر دې چې دا فکر کېږي، په ژوند کې بریالیتوب د نیکي کوونکو په ولکه کې دی. که چېرې د بریالیو خلکو ژوند ته پاملرنه وکړو، پیدا به کړې چې د دوی بریالیتوب د هغوی د مور او پلار سره د ښه چلند له امله دوی ته په برخه شوی دی.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وافعلو الخير﴾.

ژباړه: نېک کار وکړئ، که هر څو نېک کار کوچنی هم وي، ځکه شکور خدای د هغه له کبله منته کوي: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ [زلزال/۷]

ژباړه: بيا چې چا يوه ذره قدرې نېکي کړې وي، وبه يې ګوري.

سره له دې چې يوه ذره په سترګو هم نه ليدل کېږي، خو که ته حتا په همدغه اندازه د خير کار وکړې د قيامت په ورځ به يې بدله ووينې، او ستا همدغه لږ کار د دې انتظار باسي تر څو الله ﷻ تا د هغه په وسيله خوشحاله کړي، او ستا زړه په هغه ورځ باوري، ټينګ او ارامه کوي په کومه ورځ چې ماشومان د هغه له وېرې زړېږي[1]. کله چې تر سره څراغ لاندې درېږې او د خپل موټر څراغ مړ کوې تر څو مخامخ تلونکي کسان د هغې له نور څخه اذيت نشي، ښايي دوی له هغه کار څخه بې خبره وي چې تا ترسره کړ او يا اصلاً ورته پاملرنه نه کوي، خو دا فکر هېڅکله ونه کړې چې شکور ذات به د دغه کار چې تا ترسره کړ بدله در نه کړي، وايې په څه ډول؟ ښايي په راتلونکې کې په تاروغۍ اخته شې او سترګې له لاسه ورکړې، يا ښايي په يوه پېښه کې موټر له لاسه ورکړې يا په بل مشکل اخته شې، خو ستا د همدغه کوچني خيريه کار له کبله الله ﷻ تاته له هغه خلاصون درکوي!

دا چې د شپې په ارامۍ سره دروازه پرانيزې تر څو نور له خوب څخه وېښ نشي، د مسجد په دروازه کې هغه سپين ږيري ته نوبت ورکوې تر څو هغه په ارامۍ مسجد ته ننه شي، يا دا چې د موټر چټکتيا دې کموې تر څو هغه تېرېدونکې پيشو ته تاوان ونه رسېږي، يوه ماشوم ته ستا خندا، د خونې ترتيب کول، هغه مسلمان ته ستا دعا چې له دنيا تللی دی او ته پوهېږې چې هغه خپلوان نه لري ترڅو هغه ته د خير دعا وکړي، د اوبو د نل تړل، د لارې څخه د ونو د شاخونو پرېکول، دغه کارونه د خير کارونه دي چې بايد ﴿وافعلو الخير﴾.

---

[1] د قيامت ورځ، لکه د مزمل سورت په ۱۷ آيت کې چې ورته اشاره شوې ده. [ژباړن]

ژباړه: نېک کار ترسره کړئ.

## غلی شه، چوپ شه!

یو له تر ټولو غوره خیریه کارونو څخه دا دی چې قرآن کریم را واخلې او د هغه تلاوت ته پابند اوسې، بیا به ووینې چې ستا سترګې، بلکې ستا زړه د هغه نېکو کارونو لټه کوي چې الله ﷻ په قرآن کریم کې ته د هغه ترسره کولو ته هڅولی یې. بیا به ووینې چې نفس به دې ارامه او هوسا نه شي تر هغه چې هره ورځ د خیر کار ترسره نه کړې. ته د دغه کار په ترسره کولو سره تر ټولو لوی کار هم ترسره کولی شې، ته اوس هغه کار هم کولی شې چې الله ﷻ د هغه لپاره قرآن نازل کړی دی. ښايي وپوښتې چې تر ټولو لوی د خیر کار کوم دی چې باید ترسره شي؟ ځواب دا دی چې په خپل ټول وجود سره د الله ﷻ لور ته پاملرنه وکړې، دا چې د یو واقعي مسلمان په توګه د خلکو سره چلند وکړې، د یو حقیقي مسلمان په ډول ورته وګورې، خبرې وکړې، احساس وکړې او په پایله کې له دې دنیا مسلمان ولاړ شې.

له امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه سوال وشو چې ایا هغه څوک چې په اسلام او سنتو سره مړ شي، په خیر او نېکۍ سره مړ شوی؟ هغه ځواب ورکړ چې: چوپ شه! بلکې په ټولو نېکیو سره مړ شوی.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ﴾ [بقره/۱۱۰]

ژباړه: تاسې چې د خپل عاقبت له پاره څه نېکي سرته رسوئ، ورانديې یې ولېږئ. د الله ﷻ په وړاندې به هغه موجودې وموموئ. هره نېکي او خیر چې د خپلې راتلونکې لپاره کېږي، بیا به یې ووینې چې شکور ذات هغه ساتلی دی او هغې ته یې روزنه ورکړې تر څو د قیامت په ورځ هغه تر هغه لوی او بې شمېره ووینې چې په دنیا کې دې ترسره کړی و! لکه څنګه چې خپله فرمايي: ﴿وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا﴾ [مزمل/۲۰]

ژباړه: کومه نېکي چې تاسې وړاندې د خپل ځان لپاره ولېږئ، هغه به د الله ﷻ په

وراندې موجوده وويني، هماغه ډېره ښه او د هغې اجر ډېر لوی دی. ﴿وَمَا يَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ﴾ [آل عمران/۱۱۵]

ژباړه: او دوی چې هر څه نېکي وکړي د هغې بې قدري به ونشي.

په حدیث کې راغلي دي چې: «صَنَائِعُ الْمَعْرُوْفِ تَقِي مَصَارِعَ السُّوْءِ».[۱]

ژباړه: نېک کارونه انسان له بد مرګ څخه ژغوري. دا د الله ﷻ منته ده چې ستا نېک کار نه ضایع کوي، بلکې هغه د هغه ډال په ډول ګرځوي تر څو تا ته له بد مرګ څخه خلاصون درکړي. نو له همدې کبله که چېرې یو بنده دا درک کړي چې الله ﷻ شکور دی او د دنیا ټولې ښېګنې د هغه له لوري دي، په هغه ډول قلبي یقین او باور لاس پیدا کوي چې فکر کوي یوازې هغه لوی پالونکی بې دی چې له هغه سره نېکي کوي.

## چېرې څو؟

یوه کوچني ته یې وویل: یوه ورځ به ته مړ شې! ویې ویل: له هغې وروسته بیا چېرې ځم؟ ورته وویل شول: د الله لور ته. کوچني وویل: ولې د هغه ذات لور ته ورتګ ته خوښ نه شم چې له نېکۍ پرته مې بل څه نه دي ور څخه لیدلي؟!

د الله ﷻ پر وړاندې د دغه کوچني زړه څومره له احساس او لوېې هیلې ډک و! قرآن کریم دغه موضوع په دې ډول بیانوي: ﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ﴾ [نحل/۵۳]

ژباړه: تاسې ته چې هر نعمت در په برخه شوی دی، د الله ﷻ له لوري دی.

وایې هر څه؟ که دې شاوخوا ته وګورې څواب به دې په خپله ووینې. روغتیا، مال او شتمني، هوساینه، خوندیتوب، خوښي، ټول د الله ﷻ له لوري دي.

لکه څنګه خپله فرمايي: ﴿وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا﴾ [نساء/۱۱۳]

ژباړه: او پر تا د الله ﷻ مهرباني ډېره زیاته ده.

---

[۱] طبراني په معجم الکبیر کې راوړی، (۸۰۱۴-۲۶۱)

شپېته یا اویا کاله ژوند کوې او کم عبادت کوې او ډېری دغه وخت په مباح کارونو، خوب او یا ورځنیو کارونو کې تېروې، سره له دې تا هغه جنت ته دننه کوي چې د هغه پراخوالی د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی او د تل لپاره به هغه ستا استوګنځی شي.

هغه پالونکی د هېڅ له کبله دا ډول ورکړه کوي، اوس نو که چېرې بنده یو کار ترسره کړي نو هغه ته به څه بدله ورکړي؟ په دې هکله ستا نظر څه دی چې الله ﷻ ستا او د نورو بنده ګانو ترمنځ توپیر ایښی او هغوی ته یې نعمتونه ورکړي دي، داسې کار وکړه چې د هغه خوښي لاسته راوړې؟ او داسې نه چې فکر وکړې کریم ذات به ستا سره لطف او کرم ونه کړي! شکور ذات به ستا څخه مننه ونه کړي، او یا دا چې حمید به ستا ستاینه ونه کړي.

### د خلاصون لار

درې کسانو د باران له کبله یوې سمڅې ته پناه یووړه، شپه یې په هغه غار کې تېره کړه، خو سهار د وتلو پر وخت د غار خوله د یوې لویې تیږې په وسیله تړل شوې وه او هر کار یې چې وکړ وېې نشوی کولی هغې ته ټکان ورکړي، نو د الله ﷻ دربار ته یې لاسونه پورته کړل او د اړتیا لپې یې ورته ونیولې او د خپلو کارونو سره په هغه ذات متوسل شول. الله ﷻ د دوی د نېکو کارونو د شکرانو ادا کولو له کبله هغوی ته له دغه لویې بلا خلاصون ور نصیب کړ، په همدې ډول له دوی څخه هر یوه خپل نېک کار وسیله وګرځوه او په هره وسیله ګرځولو سره تیږې له ځای څخه ټکان وخوړ تر دې چې د وروستي کس خبرې نه وې خلاصې شوې چې د غار له خولې څخه تیره لرې شوه او د ژوند رڼا بیا د هغوی نفسونو ته وګرځېده.

حضرت عیسی علیه السلام خپل ټول عمر الله ﷻ ته وقف کړی و. له هغه وخت چې په زانګو کې یې لومړی خبره په ژبه راغله چې «زه د الله بنده یم». بني اسرائیلو هغه ته دسیسه جوړوله چې هغه په قتل ورسوي، خو الله ﷻ په حیرانوونکي ډول له هغه مننه

وکړه، یعنې هغه یې خپل ځان ته لوړ ور وباله. په دې ډول یې هغه ته له غمونو، چلونو او اندېښنو خلاصون ورکړ او په اسمانونو کې یې پرېښود، تر څو چې له پرښتو او نېکو بنده ګانو سره ژوند وکړي.

له شک پرته که له الله ﷻ سره وې نو ته به له یوه تړلي، تلپاتي او ګټور تجارت سره ژوند وکړې. الله ﷻ قادر دی چې تاته هم له غمونو، اندېښنو او ستونزو څخه خلاصون درکړي. زه ښه پوهېږم چې ته دومره غمونه لرې چې د هغې څخه د ژغورلو لپاره د «خلاصون لار» له عبادت پرته بل څه نشي کولی ګټه ورسوي. نو څومره چې کولی شې د خیر کار وکړه تر څو الله ﷻ تاته د هغه په وسیله نجات درکړي، لکه څنګه چې د یونس ؑ تسبیح او ستاینه د ماهي د ګېډې څخه د هغه د نجات وسیله شوه. تا د هغه الله سره معاملې ته را دانګلي چې هغه بې اندازې فضل او کرم لري. د الله ﷻ په بازار کې هېڅ ډول زیان او ضرر شتون نه لري، نو له هغه سره اوسه بیا به ووینې چې هغه څنګه ستا د ملګرې د شکرانې له کبله ستا سره فضل او کرم کوي. باوري اوسه چې هغه به هېڅکله تا پرېنږدي، باوري اوسه هره سجده چې ته د هغه لپاره کوې له تا څخه به منته وکړي، هغه ډول منته چې د هغه له لوړ ذات سره ښایي، یوازې دومره بسنه کوې چې له هغه سره واوسې!

پالونکیه! موږ ستا د نعمتونو شاکر او منندوی وګرځوه، موږ د خپلو ذاکرینو له ټولي څخه وګرځوه، موږ د هغه اعمالو لورې ته لارښوونه وکړه چې د هغه په وسیله کولی شو ستا منته او شکر ترلاسه کړو، اې شکور او حمید ذاته!

# الجبّار

هر وار مو چې خوب مړ کېږي، الله ﷻ له هغې درته ښه خوب پیدا کوي، او هر کله دې چې په زړه کې خاطره رنګ بایلي الله ﷻ له هغې ښه خاطره درته جوړوي!

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

ژباړه: پالونکیه! ماته بښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ماته روزي راکړه، او ماته له خپل ځان سره تړاو راکړه [کارونه مې جبران کړې]. فکر کېږي چې موږ هره ورځ ماتېږو او اړتیا لرو چې الله ﷻ زموږ ماتې راټولې او یو له بل سره تړاو ورکړي!

۱۸ کاله وړاندې زما د خور لور د هغه د مور پر وړاندې له دنیا څخه خپلې سترګې پټې کړې. وروستۍ چیغه یې وکړه، د هغه چیغه زما تر غوږونو شوه. سهار نږدې و چې د خور لورې ته ورغلم، زړه ماتې وه او له غمونو او اندېښنو یې زړه ډک و! سترګې یې سترې او بې خوبه وې، څکه یوه شېبه هم نه وه ویده شوې او اه او اسویلي یې کول. هغې ته مې د دغه دعا سپارښتنه وکړه: «اللَّهُمَّ اَجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ، وَاخْلِفْ لِيْ خَيْراً مِنْهَا»[1].

ژباړه: پالونکیه! ماته په دغه غم کې ثواب او بدله راکړه او له هغې ماته غوره راکړه.

خور مې چې غږ یې له غم او اندېښنو سره ملګرى و دغه دعا زمزمه کوله. د هغه ماتې ګوډې کلمې تر اسمان پورته شوې.

د هغه چیغې د بنده ګانو د زړونو رغوونکي ته ورسېدلې، هو! الله ﷻ د هغه غږ واورېده او د دغه لور پر ځای ې هغه ته غوره او نېک زامن او لوراني ورکړې او په دې ډول یې پر هغه او موږ دغه ډول لطف او احسان وکړ.

کله دې چې دننه شغلې کېدلې، کله دې چې خوبونه د سوزېدلو په حال کې وو، هغه وخت چې ستا روحي ساختمان او ودانۍ د نړېدو په حال کې وه، په خپل ټول وجود سره ووایه: یا الله...

﴿وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِيْ﴾.

تېر کال له یوه داسې زده کړیال سره مخ شوم چې ژبه یې بندېدله او نه یې شوی کولی حتا یوه کلمه دې څو ځله له تکرار پرته تلفظ کړي. لاس مې یې ونیوه او هغه ته مې دا توصیه وکړه: هر کله دې چې لمونځ ادا کولو په سجدو کې دا دعا ولوله: ﴿وَاحْلُلْ

---

[1] صحیح مسلم، کتاب الجنائز، باب ما یقال عند المصیبة - د حدیث شمېره: ۹۱۸.

عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ۲۷ يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾[طه/۲۷-۲۸]

ژباړه: او زما د ژبې غوټه خلاصه کړه او هغه وسپړه، تر څو چې خلک زما په خبره وپوهېدلی شي.

سږ کال مې بیا له هغه سره لیدنه وشوه چې دا څل یې ډېرې فصیحې او بلیغې خبرې کولې. له هغه مې په داسې حال کې د دلیل پوښتنه وکړه چې خپل نصیحت مې له یاده وتلی و. ویې ویل: هماغه دعا ﴿وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي﴾. جبار ذات یې د ژبې غوټه سپړلې وه. هغه جبار دی، هېڅ داسې غم او اندېښنه شتون نه لري چې هغه یې دې له منځه یونسي، هېڅ داسې ناروغي نشته چې هغه دې شفا ورنه کړي او هېڅ داسې بلا او ناورین نشته چې هغه یې دې له منځه یونسي.

دردونه د یو بنده په زړه داسې چاپېره کېږي چې هغه فکر کوي چې د وتلو لپاره ورځخه لاره شتون نه لري، خو جبار الله هغه دردمن زړه رغوي او د یوې میاشتې په اوږدو کې دردمن بنده ټول هغه دردونه هېروي، ځکه الله ﷻ نه یوازې چې هغه یې ټول له منځه وړي دي، بلکې کوم ځای یې چې مات شوی هغې ته هم پټی ورکوي. په همدې ډول هغه ته له هر ډول ماتې او درد پاک زړه ورکوي!

که غمونو هر څه درځخه واخیستل او مصیبتونو له هر لوري پر تا یرغل راووړ، ژړا او زاریو ته ادامه مه ورکوه او هغه مه اوږدوه، بلکې یوازې د قبلې لور ته جاینماز (د لمانځه توټه) وغوړوه تر څو ستا ټول غمونه او مصیبتونه په څو شېبو کې له منځه ولاړ شي.

**الله ﷻ ستا له موسکا سره مینه لري**

له ماښام لمانځه وروسته په مات زړه سره کېناست او په استغفار ویلو یې پیل وکړ. ټوله شتمني یې یوازې څو ریاله وه، چې د هغه د ژوند د اړتیاوو پر وړاندې اصلاً هېڅ وه. هر چا چې له لرې ځخه ورته پام کېده نو د هغه مات زړه او بې وزلی ته یې پام اوښت، خو جبار الله، د زړونو رغوونکي خدای له اسمان ځخه د هغه لور ته کتنه کوله او هغه شپه یې د ده لپاره داسې کړه چې له غمونو لرې او هوسا خوب وکړي. هو! جبار ذات په

هغه شپه د هغه اړتيا له داسې ځايه ورته پوره کړه چې هېڅ فکر يې نه کېده.

الله ﷻ ستا له موسکا خوند اخلي، نو څکه غوره ېښي ستا لپاره مخې ته وړاندې کوي تر څو ستا شونډو ته موسکا ډالۍ کړي او پرېږدي چې ستا خندا ستا په څېره کې د غمونو نښې لرې کړي.

که چېرې مو مات زړی انسان وليد، مات زړه يې ورغوئ، ته همغه څوک شه چې الله ﷻ تا د هغه د ټپونو رغولو لپاره سبب کوي. د شپې په داسې حال کې چې ګاونډی دې وږی دی مه ويده کېږه. کله دې چې ورور خپه و، مه خانده. کله چې د ژمي ساړه بادونه د هغه کس کمزوري هډوکي په لړزه راوستل، ته د بخارۍ تر څنګ ارامه مه کېنه.

## لاسي ګاډی

ملګري مې ويل: يوه سپين سرې ښځه مې وليدله چې په حرم کې يې يوه لاسي ګاډی له سامانونو ډکه کش کوله، ډېر عمر يې په لاسونو روغ ځای نه و پرېښی، کله مې چې هغه وليده نو مور مې را په زړه شوه، ټول بدن مې په هغه بوډۍ وسوځېد او له سترګو مې اوښکې روانې شوې. هر څه مې چې په جېب کې وو هغه مې را وويستل او هغې بوډۍ ته مې په داسې حال کې چې غم او اندېښنې په سر اخيستی وم، ورکړل.

ده وويل: اصلاً په زړه کې مې دا نه ګرځېده چې ما دې له هغې سره مرسته کړې وي يا دا چې د هغې په بدل کې زه له منندوی خدای څخه د کوم نعمت انتظار ولرم، ما يوازې هغه تشه ډکوله چې د هغې ماتې څېرې په ليدلو ورسره زما مينه پيدا شوه، که څه هم په دې کار کې بريالی نشوم! تر اوسه يوه مياشت نه وه تېره شوې چې يوه لويه اندازه پيسې چې تر اوسه ما په ژوند کې نه وې لاسته راوړې زما بانکي حساب ته راغلې!

الله ﷻ هېڅکله اجازه نه ورکوي چې ته د يو مات زړي انسان ټپونه ورغوې او تا بيا بې له اجر او بدلې پرېږدي او له تا څخه منه ونه کړي، څکه هغه شکور او حميد دی.

كُنْ بِلَسماً اِنْ صَارَ دَهْرَک أَرْقَماً      وَحَلَاوَةً اِنْ صَارَ غَيْرَک عَلْقَماً

زړاوه: رغوونکی شته که څه هم ژوند یو وژونکی او زهري مار وي، ته خوږ اوسه که ټه هم خلک د «ابو جهل هندواڼې» په ډول ترخه وي.

تو نیکویی کن و در دجله انداز          که ایزد در بیابانت دهد باز

«سعدي»

داسې یوه کړکۍ اوسه، چې تازه او رڼه هوا هغه دود وهلو زړونو ته رسوي. خپل ځان د جبر په اخلاقو (ماتې جوړوونکی، رغوونکی) سره وپوښوه. هڅه وکړه تر څو لاس دې د ورکړې شي نه د لاس نیونې.

رسولﷺ د هغه یهودي سړي پوښتنه وکړه چې ناروغ و. ابوبکر صدیقؓ د ړندې بوډۍ کور جارو کړ او د هغې لپاره یې ډوډۍ پخه کړه. کله چې عبدالله بن مبارک مړ شو، بې وزله کسانو هغه مرستې چې سهار وختي مهال به هغه په خپله شا ورته راوړلې له لاسه ورکړې او د هغه له مړینې وروسته پوه شول چې دغه مرستې ده له هغوی سره کولې.

دغه خلکو یو لوی ماموریت ته اوره ورکړې وه، هغه ماموریت چې په هغه کې مات زړونه ورغوي، دا اللهﷻ و چې له دوی څخه یې د دغه ماموریت لپاره ګټه واخیسته.

۸۴

یو ملګري مې ویل زه یو وخت د ام القری پوهنتون زده کړیال وم. یوه ورځ مې د پوهنتون پر لاره یو عمره کوونکی ولید چې له ما څخه یې د پولیسو پته غوښتله. ما هغه ته وویل زه بیړه لرم، ځکه د ادبي نیوکې د درس ټولګی شروع کېده او راتلونکې اونۍ د دغه درس ازموینه هم وه. سره له دې مې ونشوی کولی د هغه له څنګ څخه بې تفاوته تېر شم او سپور مې کړ تر څو هغه د هدف ځای ته نېږدې کړم. د لارې منځ کې هغه سړي ماته وویل: درې ورځې مخکې مې په حرم کې بټوه، ټلیفون، پېژندپاڼه او څه مې چې په جېب کې وو ورک کړي، نه پیسې لرم چې ډوډۍ وخورم او نه د خوب لپاره ځای لرم او نه کولی شم چې چا سره د ټلیفون له لارې په اړیکه کې شم. ستړی شوم! د دغه جملې په ویلو سره یې په ژړا پیل وکړ او ادامه یې ورکړه چې درې ورځې کېږي له خلکو

سوال کوم او په کوڅو کې ويده کېږم. هغه په رښتيا زړه ماتی شوی و!

ملګرې مې وويل: ما هغه ته تسلي او ډاډ ورکړ او له الله ﷻ څخه مې ورته يادونه وکړه او ورته ومې ويل: الله ﷻ دا وسايل په حرم کې د دې لپاره نه دي ورک کړي تر څو ته له هغه پرته بل چاته لاس اوږد کړې، يوازې بسنه کوي چې هغه ذات ته سجده وکړې او له هغه يې وغواړې، وبه وينې چې هغه به تاته بيا وګرځوي. بيا مې هغه ۸۳ رياله چې په جېب کې وو هغه ته ورکړل او هغه په داسې حال کې پلې شو چې پر شونډو يې موسکا خپره وه.

له دوو اونيو وروسته يې د ادبي نيوکې مضمون نمرې اعلان کړې، اصلاً هغه ازموينه چې خوابونه مې يې په سمه توګه نه وو ورکړي او فکر مې کاوه چې زه پاتې راځم، خپل ځان مې د بيا چانس درس لپاره چمتو کاوه، خو کله مې چې وليدل هېڅ باور مې ونه کړه، له سلو نمرو څخه مې ۸۳ اخيستې وې! په هغه اندازه چې ما هغه سړي ته ورکړې وې.

هو! ډېرې داسې شيان شتون لري چې که موږ هر څومره وغواړو د هغه له شتون څخه انکار وکړو په ډېر واضح او څرګند ډول ښکاره کېږي او چې هر وخت ونه غواړو هغه واورو، په لوړ اواز چيغه وهي: اې زما ملګريه، هغه الله ﷻ دی!

کله چې الله ﷻ له هغه څخه د هغه عمره کوونکي کس د ماتو ټېونو رغولو لپاره ګټه واخيسته، په حقيقت کې هغه کس له الله ﷻ څخه منته کړې وه.

**د خدمت کوونکي خونه**

که ټول خلک د پاچاهانو دروازه ور ټکوي، ته د نړۍ د پاچا دروازه ټک ټک کړه! که دوی ټول د پاچا او مشر پر وړاندې په عاجزۍ ولاړ دي، ته د نړيوالو د پالونکي پر وړاندې ودرېږه! که دوی له يوه روغتون څخه بل روغتون ته منډې وهي، ته په نيمه شپه کې ويښ شه او ووايه: يا الله...

ځکه د ټولو کيلي ګانې د هغه ذات په لاسو کې دي. روغتيا او سلامتيا يوه لويه او ارزښت لرونکې خزانه ده، خو ايا پوهېږې چې دا خزانه چېرې ده؟ هغه له الله ﷻ سره ده، لکه څنګه چې خپله فرمايي: ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ﴾ [حجر/۲۱]

ژباړه: هيڅ شی داسې نشته چې د هغه زېرمې (خزانې) زموږ سره نه وي.

ايا هغه پاچا سره مخه ښه کوې چې ټول شيان د هغه په لاس کې دي او هغه بنده ته مخ اړوې چې د هغه په وس کې هيڅ ګټه، تاوان، مرګ او ژوند نشته؟ دا د خندا وړ ده چې انسان له الله ﷻ سره خبرې اترې او ملګرې پرېږدي او د خدمت کوونکي خونې ته ولاړ شي او له هغې سره خبرې اترې وکړي!

### ياد، خوب او خاطره

په ورځو ورځو له جبار خدای سره ژوند وکړه، د هغه لوړې او ښکلې مانا وې دې پر زخمونو او ټپونو کېږده، پرېږده چې همدا ستا د روح او روان د دردونو لپاره رغوونکی مرهم شي. د هغه په وسيله دې په خپل بدن کې غوټۍ وغوړوه. په خپلو فکرونو په هغه کې داسې لمر جوړ کړه چې ستا د ژوند تياره فضا په رڼايي بدله کړي.

زموږ پيغمبر ﷺ په داسې حال کې له طايف څخه د يوه مات زړه، سختو غمونو او دردونو څخه بيا را وګرځېد چې هغه احمقانو د ده مبارک بوټونه او پښې له وينو ډکې کړې. د عالميانو پاچا، د دنيا او اخرت پاچا خپل حبيب په دغه حالت کې ګوري، د هغه زړه يې ليده چې له غمونو او اهونو ډک دی، نو ځکه يې جبرائيل عليه السلام او د غرونو پرښته هغه ته ور ولېږله تر څو د حبيب د زړه دغه اور ته د پای ټکی کېږدي. الله ﷻ دوی د يوه ځانګړي ماموريت لپاره لېږلي وو، دا چې پر طايفوالو غرونه را چپه کړي.

د غرونو پرښتې زموږ پيغمبر ته وکتل، هغه د غمونو او پرېشانيو سره د طايف ښار پرېښودلو په حال کې و، کله چې «قرن الثعالب» ته ورسېد، د غرونو پرښتې هغه ته سلام وکړ او ويې ويل: که وغواړې چې د شاوخوا دوه غرونه يې پر سرونو را چپه کړم![1]

---

[1] صحيح بخاري، کتاب بدء الخلق، د حديث شمېره: ۳۲۳۱. صحيح مسلم، کتاب الجهاد و السير،

که الله ﷻ وغواړي ستا مات زړې ورغوي، ستا په خاطر د ټول ښار خلک هم هلاکوي، خو د رحمت استازی ﷺ د دوی له دغه کړني تېر شو او هغوی ته يې ښښنه وکړه.

کله چې د نوح ﷺ زړه د کافرانو په سوزوونکو مسخرو او ټوکو سوځېده، د اسمان لور ته يې وکتل او له پالونکي يې په دې الفاظو غوښتنه وکړه ﴿اني مغلوب فانتصر﴾.

ژباړه: پالونکيه زه مات شوی يم، زه مغلوب شوی يم! ته زما غږ واوره. تـو لـه دغه غږ وروسته د نړيوالو پالونکي د اسمانونو دروازې پرانيستلې او لـه اسمان څخه يـې د سېلابونو په راوستلو سره دغه جبار ذات د خپل مات زړي پيغمبر د مات زړه اواز تـه پـه دې ډول هرکلی ووايه او ټوله ځمکه يې ډوبه او غرقه کړه!

ايا له الله ﷻ پرته بل څوک کولی شي دغه ډول روحي، رواني او قلبي ماتې بيا ورغوي؟ ځينې کسان باور کوي چې د دوی ماموريت دا دی تر څو تا له منځه يوسي، د دوی دنده دا ده تر څو ستا د دوستانو پر وړاندې تا کم راولي، خو کـه جبار ذات نه وی، نو د هغه دسيسو به ته له منځه وړی وی.

ستا سترګو ته دننه کېږي، تر څو ستا ښکلي او غوره خوبونه له خنډ سره مخ کړي، زړه ته دې لاره پيدا کوي تر څو ستا غوره خاطرې ستا له زړه څخه پاکې کړي، خو له دې بې خبره دي چې کله يو خوب مړ کېږي، الله ﷻ بـه ستا لپاره تـر هغې بلـه ښه خاطره او خوب پيدا کړي، که ستا په زړه کې خـاطره پاکـه شي، الله ﷻ بـه د هغې پر ځای تر هغې غوره خاطره ځای پر ځای کړي.

## د چای يا قهوې يوه پياله

الله ﷻ زموږ په ژوند کې داسې ټپ رغوونکي مرهم او پټی، پانسمانونه او دواګانې ځای پر ځای کړې چې موږ يې يو څه پېژنو او له زياتو يې بې خبره يو، يـوازې دا چې موسکا وکړو، په سر لوړی سره ژوند وکړو، يوازې د هغه عبادت وکړو او په ارامه او پټو

باب ما لقي النبي ﷺ من أذى المشركين والمنافقين، د حديث شمېره: ۱۷۹۵.

ځایونو کې د هغه سره مناجات وکړو. کله چې غوره او اغېزمنه دوا خورو او کله چې سالمه غذا خورو او یا پاکې اوبه څښو زموږ تیږونه رغول کېږي. کله چې د نورو په څېره کې موسکا او خندا وینو، کله چې د یو چا ګرم لاسونه په خپلو اوږو وینو، کله چې ښې او غوره خبرې اورو زموږ روح او روان ارامه کېږي.

کله چې له هغه زړه سره مخ کېږو چې زموږ مینې ته لېواله دی او هغه لاسونه چې زموږ د ملګرۍ لور ته را اوږدېږي او هغه خوندور یوه پیاله چای چې موږ یې له خپل محبوب سره څښو، زموږ ستونزې پرې حل کېږي.

هو! داسې شیان شتون لري چې کله یې ښکلي طبیعت ته ګورو، زموږ دننه ټپونو ته رغونه او التیام ورکوي. کله چې د اوبو د شر شر غږ اورو، کله چې هغه مرغۍ ته ګورو چې خپلو بچیانو ته غذا ورکوي، زموږ دننه ډېرو شیانو ته التیام ورکوي او هغه رغوي.

لمونځ زموږ په روح کې د ناهیلۍ څخه ټوکېدلې فضا ډکوي او «سبحان ربي العظیم» (پاک دی زما لوی پالونکی) زموږ دننه خوښي را ټوکوي چې موږ یې خوند په خپلو ژبو کې وینو، او «سبحان ربی الاعلی» موږ اسمانونو ته وړي، موږ د الله ﷻ عرش ته الوزوي.

زموږ دعا زموږ د ژوند په ساړه ژمي کې تودوخه راکوي او د ژوند په فشارونو او ستونزمن پړاو کې د یوه ملګري لیدنه خوندوره وي. له ګاونډیانو پوښتنه کول د روح څخه خړ رنګ لرې کوي او هغه په ښکلو رنګونو سره رنګوي.

د مالتې یوه پیاله اوبه موږ یوې موسکا ته هڅوي. یوه خوږه ټوټه یو ځانګړی خوند لري، یو ګرم حمام زموږ ستړیا له منځه وړي او موږ ته د هوساینې او ارامۍ احساس ډالۍ کوي.

لکه څنګه چې وینو، ژوند له پانسمانونو او رغوونکو مرهمونو ډک دی، پالونکی له موږ څخه غواړي چې مرسته وکړو، موسکا وکړو او غوره ژوند وکړو.

## سجده کوونکی شه!

څه علت او سبب دی چې د الله ﷻ په لار کې ورو ورو حرکت کوې؟ کوم شي ته له هغه کاروان څخه شاته پرېښی یې چې عاجزي کوي، توبه کوي، خپل رب ته ور ګرځي او په نیمه شپه کې قرآن کریم تلاوت کوي؟

د مور په رحم او ګېډه کې د جنین شکل هغه انسان ته ډېر ورته دی چې الله ﷻ ته سجده کوي. نو لکه څنګه دې چې د مور په ګېډه کې الله ﷻ ته سجده کوله په ژوند کې هم سجده کوونکی اوسه. که داسې شې الله ﷻ ستا په رزق او روزۍ کې برکت اچوي، او تر ټولو تنګ او کوچني ځایونه درته پراخه کوي او تا په خپل رحمت سره چاپېروي.

په زړه سره دې سجده وکړه، که څه هم سر دې لوړ وي! د زړه په ټکانونو او د شونډو په خندا او موسکا ووایه: سبحان ربي الاعلی.

په رګونو او شریانونو سره دې دا زمزمه کړه! اې د ماتو زړونو رغوونکیه، زما مات زړه بیا ورغوه، بیا هغه معجزې ته په دقت وګوره چې ستا د روح په بیا رغولو کې مرسته کوي.

پالونکیه! زموږ مات زړونه او روحونه، ستړي او کړېدلي بدنونه ورغوه، څکه ته په هر کار برلاسی یې.

# الهادي

تاته په دې خاطر لارښوونه نه کوي چې ته څوک او د چا زوی یې، بلکې د دې په خاطر چې هغه خپله غوښتي تر څو ته لارموندونکی شې: ﴿وَاللَّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾[بقره/۲۱۳]

ژباړه: د الله ﷻ چې چاتـه خوښـه شي سـمه لاره ورښيي.

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

## الهادي يا لارښوونکی

ايا اندېښنې او لار ورکی ته په ځان کې ډوب کړی يې؟ ايا دا احساسوې چې ستا عقل له دې ناتوانه دی چې سم له ناسم بېل کړي؟ له دوه هغه دندو چې تاته پيدا شوې نه پوهېږې کومه يوه غوره کړې؟ ايا د دوو لارو په سر کې پاتې يې او نه پوهېږې له دوو هغه کسانو سره چې هر يو يې ځانګړې ځانګړنې او صفات لري کوم يوه سره واده وکړې؟ ايا د ګمراهۍ او بې لارۍ له لارې ستړی شوی يې او غواړې چې الله ﷻ پر تا احسان وکړي او تا د رڼا لور ته لارموندونکی کړي؟ نو اوس ته د دې لپاره چمتو يې چې په «هادي» نوم سره يو نوی پيل او دوران واخلې.

ته دې ته اړ يې چې د دغه لوی نوم سره بلد شې، تر دې چې هادي ذات تاته نېکه لاره وښيي او د لار ورکی او پرېشانی لښکرې ستا دننه تم کړي او تا په مستقيمه او نېغه لاره روان کړي.

### تودوخه

هدايت له لغوي اړخه په ميل او لېوالتيا دلالت کوي، فکر کېږي چې هدايت له خطا څخه ميل او د سمو کارونو لور ته ميل، له ګمراهۍ، لارموندنې او له ضلالت او کږوالي څخه هدايت ته ميل دی. الله ﷻ تاته هدايت کوي او ستا تګلوری له بې لارۍ، لارموندنې او له ضلالت هغې لور ته چې روښانه او استواره وي بدلوي.

په همغه ډول چې تاته هدايت کوي، نور شيان هم تاته برابروي تر څو ستا لارښوونه پرې وکړي، نو هغه شيان چې ستا ژوند پرې پايښت پيدا کړي تاته در رسوي، مثلاً هغه څمکې ته چې ته پکې استوګنه لرې اوبه رسوي، هغه ځای ته چې ته هلته ژوند کوې غذا در رسوي او اکسيجن ستا سږو ته رسوي.

هغه سبحانه و تعالی ټول مخلوقات د شرايطو او حالاتو اړوند لار موندونکي کوي، مثلاً د ړوند انسان هدايت دا دی چې په لار قدم کېږدي. د کاڼه هدايت دا دی چې د بل په خبرو پوه شي او د ناتوانه هدايت دا دی چې خپلې موخې ته ورسېږي.

که ماشوم له هغه ځه ځان وساتي چې هغه ته ضرر رسوي، په حقیقت کې هدایت ورته شوی دی. د حیواناتو هدایت دا دی، څه یې چې تر ژوند پورې تړلي، په خپل بدن کې پیاوړي کوي، نو په خپله غریزه په ښه شي پوهېږي او د هغه لور ته ځي او څه چې ورته تاوان رسوي له هغه ځان ساتي او کوم خطرونه چې ورته متوجه وي پوهېږي او د هغه پر وړاندې مقاومت کوي.

الله ﷻ ټولو ته هدایت کوي:

سرګردانه ته په دښته کې لار ورښيي...

لوستونکي ته د مشخص ځای په ښوونه لار ورښيي...

مخترع ته د اختراع په کولو کې لار ورښيي...

مجتهد ته په مسایلو کې د دلیل په پیدا کولو سره لار ښيي...

داعیانو ته د دعوت په لاره کې لار ورښيي...

پلار ته د خپلو اولادونو د دیني روزنې او نصیحت اړوند لار ورښيي...

**نابېره نه ده!**

الله ﷻ تا د هغه څه په وسیله هدایت کوي چې ته ورته نابېره فکر کوې. د هغه ایات په وسیله چې ته یې په لمانځه کې اورې یا هغه خوب چې ته یې وینې، یا د یوه نصیحت کوونکي په وسیله تا سمې لارې ته هڅوي، په وېره، مینه، مرګ او ...

قرآن ته غوږ نیول د ټولو لارموندنو اصل او بنسټ دی او دا هغه اصل دی چې الله ﷻ د خپلو بنده ګانو ټول اسباب او وسایل پکې ابښي دي، ځکه چې الله ﷻ خپله فرمایي: ﴿إِنَّ هَـٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾ [اسراء/۹]

ژباړه: حقیقت دا دی چې دغه قرآن هغه لاره ښيي چې بیخي سمه سیخه ده.

نو دا ناشونې ده چې یو څوک دې په قرآن عمل وکړي او بیا دې کوږ او بې لارې شي.

زموږ د سردار عمرؓ کیسه ډېره مشهوره ده. نوموړی په داسې حال کې چې قهر او غوسه یې په څېره کې له ورایه معلومېده د خور کور ته ددنه شو، خو کله یې چې په صحیفه کې د «طه» مبارک سورت لومړني ایاتونه ولوستل، زړه یې د ایمان په محراب کې سر په سجده کېښود او تر هغه وخته یې ایمان ټینګ وساته تر څو یې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه.

رښتیا، هلته یې په هغه شېبه کې څه احساس وکړ؟ په هغه شېبو کې یې کوم یقین په زړه نازل شو؟ الله ﷻ پوهېږي، څومره ډېرې لارښوونې په قرآن کریم کې نغښتې دي چې موږ له بده مرغه خپلې د تدبر سترګې پر هغه تړلې دي، او څومره ډېر نصیحتونه دي چې موږ خپل زړونه د هغه د لاسته راوړلو پرمخ قلف کړي دي!

## لا...ولا

د هدایت له ورانګو یوه بله دا ده چې ته یو خوب وینې چې ستا شفا په هغه کې ده او یا غواړې تاته زنګ وکړي او یا تاته توصیه وکړي.

یوه کیسه ده چې یو څوک ناروغ شو، په خوب کې یې ولیدل چې د هغه شفا په «لا» او «لا» کې ده. نوموړی د یو عالم لورې ته ولاړ او له هغه یې د تعبیر پوښتنه وکړه. هغه عالم وویل: د خوب په تعبیر دې نه پوهېږم، خو زه قرآن کریم په هرو دوو ورځو کې ختموم، ماته وخت راکړه ښایي په قرآن کې یو څه پیدا او بیا ستا خوب پرې تعبیر کړم. له دوه ورځو وروسته بیا هغه عالم ته ورغی او نوموړي ته یې وویل: ستا شفا د زیتون په غوړیو کې نغښتې ده، لکه څنګه چې الله ﷻ د نور په سورت کې فرمایي: ﴿يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ﴾[نور/۳۵]

ژباړه: او هغه ډېوه د زیتون د یوې داسې بختورې ونې له تېلو څخه بله شوې وي چې نه ختیځه وي او نه لویدیځه، چې د هغې تېل په خپل سر بلېږي. که اور ورته ونه رسېږي هم، (په دغه ډول) د رڼا له پاسه رڼا (د زیاتېدو ټول عوامل را غونډ شوي

وي). د الله ﷻ چې هر چاته خوښه شي، د خپل نور په لوري ورته لارښوونه کوي.

دغه لارښوونه د خوب په وسیله وه. یو بل ډول هدایت هغه ستا له خوب سره ورته دی، په دې ډول چې په هغه کې استنباط او استدلال شتون لري او یوه مسئله په بله مسئله چې له هغې سره ورته وي استنباط کېږي، لکه د هغه عمل په وسیله شفا غوښتل چې د نظر وړ ناروغی سره ځانګړی نږدېوالی ولري.

یو سړی یو عالم ته راغی او د استسقاء ناروغۍ څخه یې ورته شکایت وکړ. استسقاء هغه ناروغي ده چې د هغه له کبله انسان په بدن کې مایعات جمع کېږي او حتا کله کله د مرګ سبب هم کېږي. هغه عالم هغه ته توصیه وکړه چې کوهي وکني او د الله ﷻ په لار کې یې وقف کړي. هغه سړي د عالم په توصیه کوهي وکینده او د الله ﷻ په اراده هغه ته روغتیا ورکړل شوه.

دغه عالم په بدن کې د اوبو ټولېدل په ځمکه کې د اوبو لیدلو سره ورته وبللې، نو څکه یې دا فکر وکړ چې دغه عبادت (د څاه کیندل) د ناروغۍ له تنبو سره ورته والی لري او ښایي د هغه شفا پکې نغښتې وي.

یوه همکار مې خبره کوله چې یوه ورځ مې وغوښتل جومات ته د لمانځه ادا کولو لپاره ولاړ شم او په خپل موټر کې چې ماډل یې جیپ دی له دې پرته سپور شوم چې پوه شم وربره مې ترې لاندې کړې ده. له تللو وروسته د هغه پلار هغه په داسې حال کې روغتون ته بوتله چې له مرګ سره لاس او ګرېوان وه. ډاکټرانو مې ورور ته ویلي وو چې اتیا سلنه شونې ده چې مړه شي.

زما همکار او زما د عمه زوی له هغه سره اړیکه ونیوله او هغه ته یې سپارښته وکړه چې فوراً د هغې د شفا په نیت یو پسه قرباني کړي او غوښه یې خیرات کړي. هغه د عمه زوی په سپارښتنه عمل وکړ، تر اوسه سهار شوی نه و چې هغه نجلۍ له عملیات څخه په بریالیتوب سره وتلې وه.

الله ﷻ زما همکار او د عمه زوی ته لارښوونه وکړه او د قربانۍ د غوښې او د هغې

نجلی غوښې چې تر موټر لاندې شوې وې سره تناسب ورکړ. هو! د الله ﷻ شفا د ډاکټرانو له وړاندوینې سمه ده.

### د واعظ په وسیله هدایت

یو نېک انسان د هغه اواز ویونکي تر څنګ تېرېده چې ډېر ښه اواز یې درلوده، دغه وخت کې یې هغه ته وویل: څومره ښکلی غږ لرې! اې کاش چې په دغه زړه وړونکي غږ سره دې قرآن تلاوت کولی! هغه سړي د دغه خبرې په اورېدلو سره له څنډ پرته توبه وکړه.

د نصیحت په وسیله هدایت له دې واضح او چټک دی چې وغواړو د هغه لپاره مثالونه او بېلګې راوړو.

### په فکر کولو سره هدایت

کله الله ﷻ تاته په فکر کولو سره هدایت کوي، د دغه ډول هدایت تر ټولو روښانه بېلګه د حضرت ابراهیم ؑ کیسه ده. کله چې د شپې تیاره را ورسېده او ستوری یې ولیده او نوره هغه کیسه [۱] چې په قرآن کریم کې راغلې ده. دلته ابراهیم ؑ پرېکړه وکړه تر څو مشرکین د الله ﷻ د هستی په نښو سره دې ته وهڅوي تر څو د الله ﷻ په لټه کې شي، چې همدغه د دوی د هدایت سبب هم شول.

### د رڼا څراغ

الله ﷻ د عرش له پاسه هغه لارورکي ویني چې په لارو او غرونو کې یې لاره ورکه کړې وي او په پرله پسې توګه یوې او بلې خواته منډې وهي. الله ﷻ له خپل نور او رڼا څخه په شپه کې د دوی په زړونو کې څراغ روښانوي، په هغې سره لار ویني او یوې

---

[۱] د کیسې بوره تفصیل د انعام سورت له ۷٦ آیت څخه تر ۸۳ آیت پورې په مشهورو قرآني تفسیرونو او له اسرائیلیاتو پاکو قرآني کیسو په کتابونو کې هم کتلی او لوستلی شئ! [ژباړن]

لوبې لارې او کوڅې ته ځان رسوي.

تاته له دې کبله هدایت نه کوي چې د چا زوی یې، بلکې د دې له کبله چې هغه خپله غوښتي او غواړي تاته هدایت وکړي: ﴿وَاللَّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾ [بقره/۲۱۳]

ژباړه: د الله ﷻ چې چاته خوښه شي سمه لاره ورښيي، نو له همدې کبله د خپل ځان په اصلاح سره خپل زړه د دغه الهي درنې ارادې لور ته وړاندې کړه!

کله الله ﷻ تاته هدایت کوي، خو ته هغه کارونه ځنګ ته پرېږدې چې ته هغه ته د لاسرسي لپاره باید هغه ترسره کړې، لکه شکر ویستل او د هغه پر غوښتنو عمل کول. نو ځکه الله ﷻ دغه هدایت ستا څخه اخلي، لکه د هغه سړي په شان چې الله ﷻ د هدایت نښې ورکړې وې، خو هغه: ﴿فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ [اعراف/۱۷۵]

ژباړه: څو هغه یې له عملي کولو څخه ووت. په پای کې شیطان وریسې شو، تر دې پورې چې هغه له لار ورکو څخه شو.

ځینې وخت هم تاته هدایت کوي او ته د هغه شکر ادا کوې او د هدایت په غوښتنه هم عمل کوې، نو هادي ذات پر تا بل هدایت هم لوروي او په همدې ډول که له هر هدایت وروسته شکر ادا کړې او د هغه په غوښتنو عمل وکړې نو تاته به بل هدایت هم درکړي، دا کار تر هغه ادامه پیدا کوي چې ستا د ژوند ټول هدایتونه او لارښوونې سره وتړي.

د مثال په ډول الله ﷻ لومړی د کهف خاوندانو ته هدایت وکړ او بیا یې د ایمان په نور وېوښول، بیا یې هدایت ورته وکړ چې په دې سره د دوی په زړونو کې ایمان ټینګ شو او صبر یې خپله توښه وګرځوه، بیا یې هدایت ورته وکړ او د خلاصون لار یې ور په ګوته کړه. په همدغه ډول چې وینو یې، د هغه له یو هدایت وروسته بل ورته راتله او په پای کې یې داسې حالت د هغه لپاره برابر کړ چې د هغه په وسیله کلونه کلونه په غار او سمڅه کې پاتې شول، لکه څنګه چې خپله فرمایي: ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ [کهف/۱۳]

ژباړه: هغوی خو ته زلیان وو چې پر خپل پروردګار یې ایمان راوړی و او موږ هغوی ته په هدایت کې پرمختګ ورکړ.

## ورکه شوې قطب نما

د تیاره دښتې په منځ کې یوازې او له توښې پرته پاتې یې او نه پوهېږې کوم لوري ته ولاړ شې، دغه ته پېژندګلوي په دې معنی ده چې مرګ حتمي دی. ناڅاپه یو احساس تاته وایي چې د یوه مشخص لوري خوا ته ولاړ شې، په داسې حال کې چې نه له ستوري پېژندنې پر څه پوهېږې، قطب ښودونکې هم در څخه ورکه شوې او له دوستانو دې وروسته پاتې یې! په هر حال هغه لوري ته حرکت کوې او پس له دې چې د ریګونو غونډۍ یو پر بل پسې وهې، ناڅاپه ستا سترګې د نور پر وړانګو لګېږي. هو! هغه ستا ملګري دي او د ژوند په وروستی نقطه او تکي کې په لېوالتیا سره ستا انتظار باسي.

له ما سره د هغه احساس اړوند خبره وکړه! کومه معادله د دې سبب شوه چې دغه ډول احساس په هغه وخت کې ښکاره شي؟ ولې دا احساس درته پیدا شو او ولې تر ډېره بریده دقیق و؟

الله ﷻ په هغه شیبه کې ستا په زړه کې وېره او ډار لیده او ستا د زړه نا ارامه ټکانونه یې اورېدل او پوهېده چې ستا په بدن کې مرګ وړانګې خپروي، نو څکه ستا دننه بربښنا ته یې لمبه ورکړه تر څو ستا احساس ته لاره پیدا کړي او خپلو ملګرو ته په سلامتی سره ورسېږې.

په تجربه او مهارت سره زړه مه خوشحاله کوه، دا چې یو څه دې تجربه کړي نه وي او ته د هغه سره له مخامخ کېدو وېره لرې. له شک پرته چې تا یا ستا ګاونډیانو دې ډول پېښو ته ورته پېښو سره ژوند کړی دی. خو د پورته کیسې څخه مهم سوال دا دی چې څوک او چا په هغه پرېشانه روح کې چې یوازې یو ټکان ته یې اړتیا وه هدایت کېښود؟ له شک پرته چې هغه هادي ذات دی.

وَ اِذَا الْعَنَايَةُ لَاحِظَتْکَ عُيُوْنُهَا        نَمْ فَالْمَخَاوِفُ کُلُّهُنَّ اَمَانٌ

ژباړه: کله چې د الله ﷻ عنایت او پاملرنه په خپلو سترګو سره ستا لور ته شوه، هوسا ویده شه، ځکه بیا ټولې ویرې هوسا او ارامه دي.

دقیقاً کله چې سمندري څپې له هغې کښتۍ سره لوبې کوي چې ته پکې سپور یې، باد ته امر کوي چې په هغه شیبه کې له ښي لوري ور والوزي، ځکه د خلاصون جزیره او ټاپو په ښي لوري کې ځای لري. که چېرې هغه بادونه چې هادي ذات د کښتۍ لور ته ور والوزول نه وی الوزولي، نو له شک پرته چې د کښتۍ بادوانونه به مات مات وی.

ابن تیمیه په داسې حال کې له کور څخه بهر کېږي چې د یو ایات د تفسیر اړوند یې په زړه کې ډول ډول نظریې دي. د هغه اړوند لسګونه تفسیرونه مطالعه کوي، خو هنه تفسیرونه هغه ته قناعت نه ورکوي او نه شي کولی هغه ته له پرېشانۍ خلاصون ورکړي، نو ځکه خپله تنده د الله ﷻ پر وړاندې ږدي او وایي: اې د داوود ښوونکیه، ماته یې راوښیه، او اې د سلیمان ؑ لارښوونکیه او ښوونکیه ماته یې را وښیه. له دې وروسته حل لاره پیدا کوي او د هغه ایات اړوند یې په ذهن کې سم تفسیر تېرېږي. په دې ډول د الهي نور او هدایت په وسیله هغه مسئله ورته معلومېږي.

اِذَا لَمْ يَكُنْ عَوْنٌ مِنَ اللهِ لِلْفَتَى        فَأَوَّلُ مَا يَجْنِيْ عَلَيْهِ اِجْتِهَادُهُ

ژباړه: که الله ﷻ له انسان سره مرسته ونه کړي، لومړی څه چې ورسره جنایت کوي، هنه د ده خپل کوښښ او هڅه ده.

از شرم تو گل ریخته در پای جمالت        و ز لطف تو هر خار برون رفته ز خاری

از غار به نور تو به باغ ازل آیند        ای یار چه یاری تو و ای غار چه غاری

برکار شود در خود و بی کار ز عالم        آن کز تو بنوشید یکی شربت کاری

«مولوی»

**بیا یې ورته لارښوونه وکړه**

د الله ﷻ هدایت یوازې انسانانو ته نه دی ځانګړی شوی، بلکې ټولو مخلوقاتو ته هدایت کوي، لکه څنګه چې الله ﷻ د موسی علیه السلام له ژبې داسې وایي: ﴿قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى﴾[طه/٥٠]

ژباړه: موسی علیه السلام ځواب ورکړ: زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته یې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بیا یې ورته لار وښودله.

شیخ محمد راتب نابلسي د دغه هدایت انځورونه داسې وړاندې کوي: یو ماهی له اقیانوس څخه د امریکا خوږو اوبو ته راځي، هګۍ اچوي او بیا اقیانوس ته ځي. له څو میاشتو وروسته کوچني ماهیان (کبان) له هګۍ بهر ته وزي او له څنډ پرته هغه لور ته ځي چې هلته یې مور ده، یعنې په سلګونو کیلو متره واټن وهي، لامبو وهي، تر څو اقیانوس ته ځان ورسوي او خپله لار نه ورکوي. څوک هغوی ته لاره ښيي؟ له شک پرته چې هادي ذات ورته خپله لاره ښيي.

یوه سړي یو کیشپ ولید چې مړ مار وخوري بیا د بوټي لور ته ځي او له هغې هم پاڼه خوري. بیا را ګرځي او د مار په خوړلو سره مصروفه کېږي او بیا هغه بوټی خوري. هغه سړی حیران شو او وېې غوښتل چې د هغې بوټي راز پیدا کړي، نو ځکه یې له ریښې وویست. کیشپ بیا ولاړ چې د هغه بوټي پاڼې وخوري، خو هغه یې پیدا نکړ او یو څه وخت تېر نشو چې مړ شو! چا هغه کیشپ ته ور ښودلي وو چې د مار د زهرو دفع کوونکی شی په دغه بوټي کې شتون لري؟ له شک پرته چې الله ﷻ ورته لارښوونه کړې وه.

لېوه په هوسۍ حمله کوي، هوسۍ په چټکۍ سره سر څوړند کوي تر څو ښکرونه یې د لېوه په غاړه کې بند شي، چا هوسۍ ته ور ښودلې چې په سر کې یې تېره چاقو شتون لري؟ چا ورښودلې چې د دغه کار په کولو سره ته خلاصون پیدا کوې؟ هغه هادي خدای دی.

که چې ماشوم وم يوه پيشو مې لرله چې نوي يې څو بچيان راوړل. بچيانو يې څه نه ليدل او سر يې د مور تر ګېډه لاندې کوه او د مور د سينو پلټنه يې کوله او په شيدو خوړلو يې پيل کاوه. چا دغه کمزوري او بې تجربې مخلوق ته ور وښودل چې که دغه کار وکړي ژوندی پاتې کېږي او له هغه پرته له مرګ سره مخ کېږي؟ له شک پرته چې هادي خدای هغوی ته ور وښودل.

ډنډ

د الله ﷻ تر ټولو لوی هدايت خپل لوري ته د خپلو بندګانو لارښوونه کول دي. هغه ذات د توبې دروازې د هغه کسانو پر مخ پرانيزي چې هغوی د ګناهونو له کبله مړاوي شوي وي.

د شپې په تياره کې له کور څخه بهر شو تر څو د الله ﷻ نافرماني وکړي. ټول بدن هغه د ګناه ډنډ ته د ور دانګلو لپاره وهڅاوه، خو الله ﷻ په هغه برخليک تاکونکې شېبه کې هدايت ته امر کوي چې هغه ډنډ ته له لوېدلو مخکې هغه خپل زړه ته ورسوي. د ټولو په حال کې و چې ټول هغه خوبونه او ښکلي لرونکي خيالونه چې په ذهن کې يې وو له منځه ولاړل او يوه وحشتناکه لړزه پرې راغله. ټولو شيانو يې تر ځنګ الوتنه کوله، د بې وزلې احساس يې کولو، خپل لوري ته يې بدلون ورکړ، نور هغه ډنډ ته نه تلو بلکې هغه لوري ته يې چټک ګامونه اخيستل چې د هغه ګل غوټۍ له لرې ښکاره کېدلې. په همدې ډول هغه سړي له خپل هادي خدای سره يو نوراني تړون لاسليک کړ.

د کاغذ يوه پاڼه

که الله ﷻ وغواړي چې تاته هدايت وکړي، حتا د کاغذ د هغې پاڼې په وسيله چې په ځمکه پرته وي تا هم خپل لور ته ور ګرځوي!

يو مست او خمار سړی د ښار په کوڅو کې ورخطا ورخطا ګرځېده. ناڅاپه يې په نيم خلاصو سترګو يوه کاغذي پاڼه تر سترګو شوه چې د الله ﷻ نوم پر هغه ليکلی و، زړه يې له غم ډک شو او په ژړاغوني غږ يې وويل: د الله ﷻ نوم پر ځمکه لوېدلی دی؟!

هغه پاڼه يې را واخيسته او کور ته يې راغی، هغه يې معطره کړه او بيا يې مچو کړه او په لوړ ځای کې يې کېښوده. هغه د شپې ويده شو او په خوب کې يې وليده چې يو اواز کوونکی هغه ته وايي: زما نوم دې پورته کړ، زما په لويي او عزت سوګند چې ستا نوم به لوړوم! کله چې پاڅېد خپل زړه يې د هدايت له نور څخه ډک شوی و او له بې هدفه او بې مسؤليته سړي څخه په يوه صالح او نېک سړي بدل شو.

که هغه ستا هدايت غوښتی وي، ستا غوږ ته يې غږ رسوي چې له خدايه وويرېږه او دا ډول ستا زړه ويښوي. موږ هغه مشهوره نبوي کيسه پېژنو چې يو له هغه دريو کسانو څخه چې په غار کې بند پاتې شول، هغه ځوان و چې د خپل کاکا لور ته يې د بدکارۍ بلنه ورکړې وه. هغه ښځه د خراب مالي وضعيت او سختې اړتيا له کبله دغه کار ته راضي شوه او يوازې مخکې له دې چې هغه ځوان خپل شوم او بد هدف ته ورسېږي، ښځې هغه ته وويل: له الله ﷻ وويرېږه او دا کار مه کوه! ځوان په داسې حال کې چې وېرېدلی و پورته شو او دغه جملې «له الله وويرېږه» يې په زړه کې يوه ذره شهوت هم پرېنښوده.

### د خلاصون رسی

د هېرولو او نسيان له ستونزې سره لاس او ګرېوان يې، خو هغه يې تاته په ياد راوړي. د ګناه په تر ټولو سخت او بد حالت کې قرار لرې خو تا پوهوي. تا د ګناه ډنډ له منځه بهر کوي او ستا روح او روان پاکوي. د ګمراهۍ په ژوره ځاه کې لوېدلی يې، ناڅاپه دې د خپل سر له پاسه د هدايت رسۍ وينې!

الله ﷻ تا په بېلا بېلو ډولونو سره هدايت کوي: د هغه مينې په وسيله چې ستا زړه پرې ډکوي، د هغه وېرې په وسيله چې بدن دې ورسره لړزه کوي، هغه ناروغي چې ستا غرور له منځه وړي، يا هغه اړتيا چې تا خوار او ذليل ګرځوي، په هغې بې وزلۍ سره چې ستا اوږې په څمکه سولوي يا په هغه «تشې» سره چې ستا روح او روان شکنجه کوي. په هر ډول تا خپل لوري ته ور ګرځوي، د نور او وړانګو پر لور. له هغې وروسته تا مسجد ته د تلونکو کسانو څخه ګرځوي چې ډېرې وخت به تا له لرې د هغه

لور ته کتل او نشوی دې کولی چې د هغه لور ته ولاړ شي. ستا لاسونو ته ورښيي چې په څه ډول پس له ډېرو کلونو لرې والي او بېلوالي پورتـه ولاړ شي. پس لـه دې چې ژبه دې ډېر وخت په پوچه موسيقۍ، بې معنی سندرو ويلو عـادت کـړې وه، هغـه ذات په خپل ذکر سره تازه او لمده ګرځوي.

له کور څخه بهر کېږې او مسجد ته د تللو اراده لرې، ناڅاپه ستا لوری د بل مسجد لوري ته بدلوي، له لمانځه وروسته د يوه دعوتګر خبرې اورې چې ستا دننه شيانو تـه بدلون ورکوي، هغه ډول خبرې چې ښايي ستا عقيده او لوری ستا دننه بدل کړي.

ژوندی زړی بنده او هغه چې لوړ روح لري د الله ﷻ هـدايت پيـدا کـوي او پـوهېږي چې توله هستي هغه پيدا کړې ده او هغه خپله د کايناتو هرې وسيلې ته هدايت کـوي او کله هم - العياذ بالله - د کايناتو په هستۍ کې په يوه وسيله باندې هغه ګمراه او بې لارې کوي.

البته بايد وويل شي چې الله ﷻ هېڅکله يو څوک نه ګمراه او بې لارې کوي، مګـر دا چې خپله بنده د خپل زړه دروازه د هدايت او دين پر مخ وتړي.

له همدې کبله که د الله ﷻ له لوري تاته هدايت ونه رسېږي، دغه ژوند به ستا لپاره يو د ګمراهۍ او بې لارۍ ډک ژوند وي. په مخکنيو پاڼو کې مې په دښته کـې د لارورکـي بېلګه وړاندې کړه، خو د الله ﷻ، مسجد، الله اکبر د لارې لـه لاسـه ورکـول، اللهـم انـت السلام ومنک السلام، په څو چنده د دښتې له لار ورکې سخت او وحشـتناکه دي. مـوږ له دې پرته په بې حده بې وزلۍ او ولکه کې قرار لـرو، د هغـې مرغـۍ لـه بـې وزلـۍ هـم سخت چې د ژمي موسم کې يې خپله ځاله ورکه کړې وي او نشي کولی کده بار کړي او ښايي چې د ژمي بې رحمه واوره يې تولې هيلې او خوبونه کنګل کړي!

پالونکيه! له خپل لوري موږ تـه هـدايت را پـه برخـه کـړه، داسـې هـدايت چې موږ د ګمراهۍ له بې سره دښتې څخه وژغوري او تاته مو ورسوي او موږ د هغه په وسيله هغـه جنت ته داخل کړې چې پراخوالی يې د ځمکې او اسمانونو د پراخوالي څخه زيات دی.

# الغفور

گناهونه به دې ژوند تباه کړي، روح به دې خوار او ذلیل کړي او داسې به وکړي چې رنځې اوبه به هم له ستوني ښکته نه کړې، غذا به دې په خوله کې ترخه شي، شپه به دې له وحشت څخه ډکه او ورځې به دې ستړیا او تنبلي راوړي.

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

## الغفور یا زیات ښېونکی

که له ګناهونو ستړی شوی وې او دا احساس کوې چې د هغه د بدی له کبله تر پوزو راغلی یې او د هغه تیارو ستا د ورځو رڼا اخیستې او ستا د سترګو څخه یې په پټه کې ارامي او هوساینه اخیستې ده، که چېرې له ملانځه، دعا او عبادتونو خوند نه اخلې؟ پوه شه چې هغه وخت رسېدلی دی چې د ښېنې په عالم کې ګام کېږدې او د غفران په معانیو کې فکر وکړې او د «الغفور» مبارک نوم په ټول بدن سره لمس کړې.

ته اوس دې ته اړتیا لرې چې د مغفرت په معنی پوه شې، دا چې ستا پالونکی څنګه غفور دی او څنګه ستا ګناهونه ښېي. ته باید پوه شې چې ستا د عمر په ټولو پړاوونو کې دغه ښېنې ته د اړتیا اندازه څومره ده؟

## زندان

په ګناه باندې د انسان اخته کېدل له دې ډېره لویه او سخته ده لکه بدن چې په ناروغی اخته شي. هو! ښایي کله ستا بدن د ګناه څخه د څو شېبو لپاره خوند واخلي، خو ستا روح د ګناهونو تر پېټي لاندې له ځوړ سره مخ کېږي او د هغه څه لټه کوي چې هغه الله ﷻ دی.

فکر وکړه چې د یو ضرب یو متر په اندازه زندان کې بندي یې، څومره د نفس تنګی او زړه تنګی احساس به وکړې؟ ګناهونه ستا روح هم په داسې یو حالت کې غورځوي.

ګناهونه پر تا ولکه ټینګوي لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيـَٔتُهُۥ﴾ [البقرة/۸۱]

ژباړه: او د خپلو خطاوو په چاپېریال کې ایسار شي. کله چې ګناهونه پر یو چا ولکه ټینګه کړي دا د دې سبب کېږي چې روح یې د کلک نیونې احساس وکړي. که جنت او دوزخ هم شتون ونه لري، ګناهونه په خپله یوازې دوزخ او دردوونکی عذاب دی.

که چېرې موږ پوه شو چې «غفور، غفار او عفو» د هغه له مبارکو نومونو څخه دي او یوه خانګړنه یې دا ده چې هغه ګناهونه ښېي، نو د دغه تنګ زندان دېوالونه به په نړېدو پیل وکړي.

**ایا پوهېږې؟**

وروایه: استغفرالله! مه وایه، یوازې په هغه کې فکر وکړه: استغفرالله! ایا له دې عبارت بل ښکلی شی شتون لري او که هغه وواېې په هغه سره دې له زړه څخه ټولې وېرې او وسوسې تښتېدلې کوي.

ایا پوهېږې چې ټولې ستونزې، ناروغي، دردونه، او غمونه یوازې ستا د ګناهونو پایله ده؟ دا ایات کې فکر وځغلوه: ﴿وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ﴾[شوری/۳۰]

ژباړه: پر تاسې چې هر مصیبت راغلی دی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی، او له ډېرو ګناهونو څخه (الله ﷻ) همداسې تېرېږي.

هو! غیبت، دروغ، چل، کینه، سپکاوی، د مور او پلار نافرماني، نامحرمو ته کتل او د دیني واجباتو په ترسره کولو کې ځنډ کول د ټولو دردونو، غمونو او مصیبتونو پایله ده.

د کم پور په اخیستلو سره خپل ځان د نورو پر وړاندې ټیټ راولو او خپلې ابرو ته خطر پېښوو او ښایي همدا مالي اړتیا د ګناه کولو سبب وګرځي. که په عاجزۍ او مات زړه او روح سره «استغفرالله» ووایو، هېڅ اړتیا به ونه لرو چې د نورو پر وړاندې غاړه کږه کړو او خپل ځان خوار او ذلیل کړو.

د ډاکټر او دوا پلټنه کوو تر څو خپله اندېښنه او غم له هغه سره شریک کړو. رواني ډاکټرانو ته ورځو تر څو زموږ د روحي او رواني وېرو او بدلونونو د حل لار راته پیدا کړي، په داسې حال کې چې ښایي دغه ټولې ستونزې زموږ د ګناهونو له کبله منځته راغلې وي. که په ویښ او ژوندي زړه او په پښېمانه او توبه کوونکي زړه سره «استغفرالله» ووایو، نو بیا به هېڅا او هېڅ بل شي ته اړتیا ونه لرو.

**زما خیانتونه**

کله چې د محمد ﷺ د سیرت د کتاب پاڼې اړوو د مغفرت له حقیقي ځانګړنې سره مخ کېږو؟ هغه شی چې په بل ځای کې یې بېلګه نشو پیدا کولی؟ د مثال په ډول عمر

بن خطاب رضي الله عنه مسلمانان له خپل دين څخه منع کول، قمچينه يې په خپلو پياوړو لاسونو رانيوله او د خپلې وينزې شا به يې توره پرې واړوله او چې ستړى به شو قمچينه به يې په ځمکه غورځوله او ويل به يې: ته مې ځکه پرېښودې چې له وهلو دې ستړى شوم؟ مسلمانانو ته د عمر رضي الله عنه ايمان راوړل ناشوني ښکارېدل؛ ځکه د هغه دښمني له اسلام سره ډېره زياته وه، خو غفار ذات د توبې دروازه د هغه پر مخ پرانيستله تر څو په عمر فاروق بدل شي. الله ﷻ هغه قمچينې چې هغه به خپلو مريونو او وينزو ته ورکولې، وبښلې او د هغه نوم يې لوړ کړ.

خالد بن وليد رضي الله عنه د احد په غزا کې د رمات غره څخه بره خېژي او د هغه په وسيله عبدالله بن جبير او نور هغه کسان چې د غره په لمن کې وو په شهادت رسېږي. نوموړى د هغه لويې ماتې سبب شو چې قومانده او مشري يې هم د محمد ﷺ پر غاړه وه، هغه جنګ چې په هغه کې يې رباعي غاښ هم مات او شهيد شو او مبارک مخ او شونډې يې پکې تپي شوې. خالد بن وليد د دې سبب شو تر څو د اسلام د مبارک پيغمبر مخ په وينو رنګ شي تر دې چې خپله يې وفرمايل: «اشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلَى قَوْمٍ دَمَّوْا وَجْهَ رَسُوْلِهِ»[1].

ژباړه: د الله ﷻ قهر دې په هغه قوم نازل شي چې د هغه د پيغمبر څېره يې په وينو رنګ کړه. خو الله ﷻ دغه ايت نازل کړ: ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ﴾ [آل عمران/١٢٨]

ژباړه: [اې پيغمبره ﷺ] د فيصلې په واکمنۍ کې ستا څه برخه نشته. د الله ﷻ واک دى که يې خوښه شي وبه يې بښي او که وغواړي په سزا به يې ورسوي؛ ځکه چې هغوى تېرى کوونکي دي.

خالد رضي الله عنه د هغه کسانو له ټولي شمېرل کېږي چې الله ﷻ هغوى ته ښښنه کوي! خالد رضي الله عنه اسلام راوړي او غفار ذات ورته ښښنه کوي او د مسلمانانو او اسلام پر وړاندې

---

[1] مسند احمد، (٢٦٠٩-٣٦٩/٤).

بې بر کړو اقداماتو د ببښنې او مغفرت قلم کش کوي. په همدې ډول د احد په غزا کې د مسلمانانو د ماتې مهم سبب د اللهﷻ په ويستلې توره بدلېږي! او هغه پاکې وينې چې پر ځمکه تويې شوې، هغه ستونزې او کړاوونه چې پيغمبرﷺ په هغه غزا کې وليدل او هغه نوراني مخ يې چې په وينو ککړ شو، ټول اللهﷻ ورته وبښل.

يو سړی د ګناهونو له ډک زړه سره محمدﷺ ته راغی او ويې ويل: ستا نظر د هغه چا اړوند څه دی چې نه يې غټه او نه يې وړه ګناه پرېښې وي او داسې ګناه دې نه وي چې نه مې وي ترسره کړې؟ ايا سره له دې د توبې دروازه د هغه پر مخ پرانيستې ده؟ د رحمت استازيﷺ هغه ته وويل: ايا اسلام دې راوړی دی؟ ويې ويل: شاهدي ورکوم چې له اللهﷻ پرته بل څوک د عبادت لايق نشته او ته د هغه رالېږلی استازی يې. پيغمبرﷺ ورته وويل: هو، کولی شې توبه وکړې، نېک او غوره کارونه وکړې او ګناهونه پرېږدې؟ اللهﷻ ستا ټول ګناهونه ببښي او ستا لپاره يې په نېکی بدلوي. ويې ويل: حتا زما خيانتونه او نافرماني هم؟! ورته ويې ويل: حتا ستا خيانتونه او نافرماني هم درته ببښي.[۱]

ولې دا فکر کوې چې ستا ګناه په نړۍ کې يو لوی شی ده؟ ايا دا دې هېره کړې چې اللهﷻ ببښونکی او مهربان دی؟

ايا دا دې هېره کړې چې اللهﷻ په توبې خوشحاله کېږي؟

صحابه (رضی الله عنهم) يوه وحشت وهلې ښځه وليدله چې هر لور ته يې د خپل ورک ماشوم پلټنه کوله، کله يې چې هغه پيدا کړ د هغه مينې او محبت له مخې چې له ويرې سره يو ځای و هغه يې په غېږ کې ټينګ ونيو او مچو يې کړ. صحابه کرام له دغه مينې او خوشحالۍ حيران شول. محمدﷺ وفرمايل: «اللَّهُ أَشَدُّ فَرَحاً بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا».[۲]

---

[۱] طبراني، معجم الکبير، (۷۲۳۵-۳۱۴/۷).

[۲] صحيح بخاري، کتاب الادب، باب رحمة الولد و تقبيله و معانقته، د حديث شمېره: ۵۹۹۹، صحيح

ژباړه: الله ﷻ د خپل بنده په توبې سره له دغې ښځې ډېر خوشحاله کېږي چې خپل ورک شوی زوی یې پیدا کړ.

د څه انتظار باسې؟ همدا اوس ووایه: «استغفرالله»

دغه جمله په خپل زړه، روح او ژبې ووایه تر دې چې ستا ګناهونه د دې هڅه هم وکړي چې تا ته په دې قناعت درکړي چې نه ښښل کېږي بیا هم ووایه: استغفرالله!

دننه دې په استغفرالله سره اواز وکړه، په الله ﷻ قسم چې غفور ذات ستا د ګناهونو ښښنه کوي، نه له دې کبله چې تا اواز کړی، بلکې له دې کبله چې هغه ښښونکی او مهربان دی.

ابو سفیان، صفوان بن امیه، عکرمه بن ابي جهل، عمرو بن عاص او نور ډېر خلک د ډېرو لویو ګناهونو مرتکب شوي وو، هغه هم دا ډول لکه: شرک، د اسلام له دین سره جګړه، د صحابه وو په شهادت رسول، خو اسلام یې راووړ او توبه یې وکړه او غفور خدای هم خپل د عفوې او ښښنې قلم د دوی پر ګناهونو راکش کړ او د محمد ﷺ په صحابه وو بدل شول. پوهېږې چې د صحابه وو مانا څه ده؟ صحابه یعنې له پیغمبرانو څخه وروسته تر ټولو غوره خلک!

وګوره چې ښښنې او عفوې له عکرمه، صفوان او د دوی په مثال له نورو سره څه وکړل؟ هغوی یې د صحابه وو د قاتلانو څخه د محمد ﷺ په قدرمنو صحابه وو تبدیل کړل!

هغه ګناهونه چې پر تا یې ولکه ټینګه کړې ده د دې سبب کېږي چې روح دې پرېشانه وي او ستا فکرونه د خوړتیا او تیارې لور ته میل پیدا کوي او د دې سبب کېږي چې ستا خبرې تیت پرک وي، نو له همدې کبله کله چې غواړې دغه ګناهونو ته نبردې شې، ووایه: استغفرالله، تر څو ستا اندېښنې، پرېشاني، خوړتیا او تاریکي له منځه ولاړه شي.

---

مسلم، کتاب التوبة، باب في سعة رحمة الله ﷻ و انها سبقت غضبة، د حدیث شمېره: ۲۷۵۱.

هغه چاته زېری دی

کله د «استغفرالله» په ویلو سره ګناهونه بښي، کله په توبې سره: ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [ال عمران/۸۹]

ژباړه: البته هغه کسان به وژغورل شي چې له دې وروسته توبه وباسي او خپل عملي چلن سم کړي، الله ﷻ بښونکی او رحم کوونکی دی.

کله په نیکي کولو ګناه بښي: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ [هود/۱۱۴]

ژباړه: په حقیقت کې نېکي بدي له منځه وړي.

کله د الهي ازموینې په وسیله ګناهونه بښي: ما يزال البلاء بالمؤمن في نفسه وولده و ماله حتا يلقى الله ﷻ وما عليه خطيئة[1].

ژباړه: مسلمان د تل لپاره په خپل ځان، اولاد او مال سره په ازموینه او ابتلاء کې لوېږي تر دې چې له ګناهونو پاک شي. بیا له الله ﷻ سره ملاقات کوي. ایا پوهېږئ چې څه شی باید په دغه ژوند کې زیات تکرار کړې او هېڅکله له هغې ستړی نشې؟

استغفار! زموږ خوږ پیغمبر ﷺ فرمايي: «طُوبَى لِمَنْ وَجَدَ فِي صَحِيفَتِهِ اِسْتِغْفَاراً كَثِيراً».[2]

ژباړه: د هغه چا په حال خوښي ده چې د چا د اعمالو په لیک کې استغفار زیات وي.

له شک پرته د قیامت په ورځ به د دنیا د زیات استغفار ویلو له کبله خوشحاله شې او هغه وخت به په ټول وجود سره چیغې ووهې: ﴿هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴾ [الحاقة/۱۹]

ژباړه: ها وګورئ، زما عملنامه ولولئ! د قیامت په دښته کې به دې زیات ملګري ووینې او هغه لیک او عملنامه به دې دوی ته ور وښیې چې له استغفار ډکه ده او وايي الله ﷻ مې ټولې دعاګانې قبولې کړې دي، او کوم استغفار مې چې په دنیا کې

---

[1] کتاب الزهد، باب ما جاء في الصبر على البلاء، د حدیث شمېره: ۲۳۹۹.

[2] ب الادب، باب الاستغفار، د حدیث شمېره: ۳۸۱۸.

ويلی و د هغه په بدل کې يې ښښنه راته کړې ده!

استغفار او له الله ﷻ څخه ښښنه غوښتل يوازې د ګناه ترسره کولو وروسته بايد ونه ويل شي، بلکې له هر عبادت وروسته هم بايد موږ له الله ﷻ ښښنه وغواړو.

ايا د هر لمانځه د ادا کولو وروسته درې ځله «استغفرالله» نه وايو؟ ځکه موږ پوهېږو چې زموږ ګوډ او مات عبادتونه له استغفار ويلو پرته اسمان ته نه پورته کېږي.

## مه ناهيلې کېږئ!

الله ﷻ خپل ځان غفور معرفي کړی دی، ځکه ته له مغفرت پرته له منځه ځې او د غمونو او غصې په وسيله ښکارکېږې، د واقعي تيونې احساس به وکړې او د تل لپاره به وژاړې. که دا ګمان کوې چې ستا ګناهونه د الله ﷻ له مهربانۍ او ښښنې لوی دي او هغه عالم چې تا د هغه څخه ستا د ګناهونو اړوند فتوی اخيستې ستا د ګناهونو له جزئياتو څخه خبر نه دی او حتا نشي کولی هغه تصور هم کړي او تاته داسې ځواب درکوي چې ستا له سوال سره زيات واټن لري، د خپل پالونکي اواز تـه غـوږ ونيسه، هغه پالونکی چې د آدم ﷺ له وخت څخه تر قيامته پورې د ټولو بنده ګانو په ګناهونو پوه دی؛ لکه څنګه چې فرمايي: ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ [زمر/۵۳]

ژباړه: زما هغو (مؤمنو) بنده ګانو ته چې پر خپلو ځانونو يې تېری کړی دی، ووايه: د الله د رحمت څخه مـه نـاهيلي کېږئ، پـه يقينـي ډول الله ټـولې ګنـاوې ښـي، هغه ښبونکی او مهربان دی.

ايا اوس دې وسوسې ختمې شوې؟ چا چې دغه خبره کړې ده، هغه د قرآن نازلېدو پر وخت پوهېده چې ته په کومه ورځ کومه ګناه تـرسره کـوې، سره لـه دې تاتـه وايـي چې زه ستاسې ټولې ګناوې ښښم. په دې ښه پوه شئ چې ستاسې ګنـاوې د الله ﷻ لـه رحمت او ښښنې لويې نه دي.

اړينه دا ده چې د «استغفرالله» له ويلو او غفور الله څخه د بښنې غوښتلو وروسته له ګناه څخه لاس واخلې، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې راغلي دي: ﴿فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾[بقره/۱۹۲]

ژباړه: بيا که هغوی منع شول، نو وپوهېږئ چې الله بښونکی او رحم کوونکی دی.

ځنګه وايې: پالونکيه زما ګناهونه وبښه په داسې حال کې چې په ګناه کې لاس او پښې وهې؟ څنګه دې ګناهونه پاکوې، بيا ور ګرځې چې هغه بيا له سره وليکې؟ نو له ګناه لاس واخله او ودرېږه. که چېرې «استغفرالله» سم او د زړه له تله وي، له شک پرته چې د هغه پر مخ د اسمان دروازه پرانيستل کېږي.

## تر ټولو لويه اراده

الله ﷻ ستا لپاره زيات شيان غواړي: ستا پيدا کېدل، ستا روغتيا، ستا هغه عقل چې ته د هغه په وسيله اوس لوستلی او اورېدلی شې، خو سره له دې پوهېږې چې د الله ﷻ تر ټولو لويه اراده چې د هغه په وسيله يې پر تا احسان کړی څه دی؟

دا دی چې ګناهونه دې درته وبښي!

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاء وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاء وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [آل عمران/۱۲۹]

ژباړه: په اسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي، د هغو څښتن الله دی. چاته يې چې خوښه شي بښنه کوي او چاته يې چې خوښه شي عذاب ورکوي. هغه بښونکی او مهربان دی.

دغه الهي اراده څومره لويه ده چې تا په خپل رحمت سره جنت ته داخلوي!

چاته چې بښنه وشي، ښايي د نورو خلکو په شان په ناروغۍ اخته شي، خو له هغه څخه خندا نه اخيستل کېږي!

چا ته چې الهي بښنه وشي، د نورو کسانو په ډول له مالي ستونزو سره مخ کېږي، خو هېڅ وخت د خوږ سره نه مخ کېږي.

هغه څوک چې د الله ﷻ تر رحمت او بښنې لاندې راشي له سترګو يې اوښکې هم بهېږي، خو هېڅکله يې له رحمت څخه نه ناهيلی کېږي.

غمونه، دردونه او ناروغۍ ځنګ ته پرېږده، دا د ټولو خلکو لپاره دي، ځکه چاته چې بښنه شوې، د شپې په بالښت هوسا او ارامه ويده کېږي؛ ځکه تر ټولو جالب انتظار يې دا وي چې مړ شي! خو له هغه وېره نه لري. که مړ شي څه به رامنځته شي؟ هغوی چې له ټولو ګناهونو څخه پاک شوي دي؛ هغه هم هغه ډول ګناوې چې د ځينو خلکو لپاره تر بد مرګ هم ناوړه دي. د الله ﷻ په خاطر دغه ايات ولوله، بلکې په ټول وجود سره هغه احساس کړه: ﴿وَمَن يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ [نساء/۱۱۰]

**ژباړه:** که څوک بد عمل وکړي يا پر خپل ځان ظلم وکړي او له هغه وروسته له الله ﷻ څخه بښنه وغواړي، نو الله به بښونکی او رحم کوونکی ومومي.

ايا خوښ نه لرې چې الله ﷻ بښونکی او مهربان ومومې؟ نو همدا اوس له هغه څخه بښنه وغواړه!

## تر ټولو ښکلي...

غفور ذات پوهېږي چې ګناهونه به ستا ژوند در تباه کړي، روح به دې قهرجن کړي، رنې او پاکې اوبه به تاته ترخې وګرځوي او خوندوره غذا به درته بې مزې کړي. شپه به درته له وحشت او ورځ به درته سترړيا وګرځوي، نږدې خلک به درته دوزخ او ملګري به درته چل ورکوونکي او ورځنی ژوند به درته وهم او خيال وګرځوي، خوب به درته وېروونکی او نيوونکی او يوازيتوب به درته ژړا او چيغې وګرځوي؛ له همدې کبله تاته وايي: ﴿أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [مائده/۷۴]

**ژباړه:** نو ايا دوی الله ته توبه نه باسي او له هغه څخه بښنه نه غواړي؟ الله ډېر بښونکی او رحم کوونکی دی.

ایا توبه کول او د ښېښې غوښتل د هغوی لپاره ښکلی او غوره نه دی؟ ایا د ګناهونو له دردونو او ستونزو نه دي ستړي شوي؟ ایا دوی د زړه له تله یوې خندا ته لېوالتیا نه لري؟ نو ولې استغفار نه وایي؟!

**مه ویرېږه**

غفور، پرله پسې ښېښنه کوي او په خپل کرم او لطف سره د خپلو بنده ګانو له ګناهونو ور تېرېږي، هغه شیان ښيي چې انسانان له هغه څخه نه تېرېږي.

هغه د تل لپاره ښېښنه کوي:

د یوه او بل لمونځ ترمنځ، د دوه عمرو ترمنځ، د تېر کال او سږ کال د روژې میاشتې ترمنځ، د دوه حجونو ترمنځ، البته په دې شرط چې بنده له لویو ګناهونو څخه ډډه وکړي.

په دې ترتیب سره د بنده ټول ژوند د دوه ښېښنو ترمنځ تېرېږي، فکر وکړه؛ د سهار لمونځ ادا کوې، بیا په ورځنیو کارونو مصروفه کېږې او په دغه وخت کې کوچنې یا صغیره ګناهونه کوې، بیا اودس کوې او د ماسپښین لمونځ ادا کوې، تر اوسه دې السلام علیکم ورحمة الله نه وي ویلي چې ټول ګناهونه دې مینځل کېږي، او دا پروسه له هر لمانځه وروسته دوام لري، په رښتیا که زموږ پالونکی ښېښونکی نه وی موږ به څه کار کوه؟

الله ﷻ په خپل لطف او کرم ښېښنه کوي؛ هغه سبحانه و تعالی د یوه کال ګناهونه په یوه ورځ روژه نیولو هم ښيي.

همدارنګه په سل ځله «سبحان الله و بحمده» ټول ګناهونه ښيي. یعنې په دوه دقیقو کې ستا د هغه اویا کلونو ګناهونه ښيي چې تا په دغه اویا کلونو کې ترسره کړي دي! ایا دا ډول لطف او کرم دې تر اوسه لیدلی دی؟

هغه شی ښيي چې انسان تر هغه نه تېرېږي: الله ﷻ د یوه فاسق شخص ټول ګناهونه د یوه تږي سپي په اوبو سره وبښل.

## د هغه څه ښېښنه کوي چې انسان ورته ګوته په غاښ شي

د دغه ډول ښېښنې ښېګه کولی شو د بدر له غزا څخه وړاندې کړو، الله ﷻ هغه مسلمانانو ته چې په دغه جنګ کې وو زېرى ورکړ او ويې ويل: هر کار چې ترسره کوئ هغه ترسره کړئ، ما تاسې ته ښېښنه وکړه! په دې ترتيب ټول ګناهونه يې چې ترسره کړي وو او په راتلونکي کې يې ترسره کول هغه ورته وبښل.

يو له هغه کسانو څخه چې د بدر په غزا کې ورته ښېښنه وشوه حارث بن سراقه وو؛ هغه نوى ځوان چې د مجاهدينو د مرستې لپاره بهر شوى و، نه د جنګ لپاره! نوموړى هغه ځوک و چې له لرې يې د جګړې څارنه کوله، د اوبو څښلو لپاره ولاړ خو د بې هدفه غشي ښکار شو او په شهادت ورسېد. کله چې پيغمبر ﷺ له بدر څخه را وګرځېده، د حارث مور د هغه ښه راغلاست ته راغله او ويې ويل: اې د الله ﷻ رسوله، ايا د حارث اړوند زما سره څه خبره نه کوې؟ که په جنت کې وي هېڅکله د هغه لپاره نه ژاړم او که مسئله سرچپه وي نو ټول عمر به پرې وژاړم! پيغمبر ﷺ وفرمايل: په جنت کې زيات باغونه شتون لري او ستا زوى په يوه غوره باغ کې چکر وهي.[۱]

ابن کثير وايي: په دغه پېښه کې د بدر خلکو لپاره لوى زنګ دى؛ ځکه چا چې د جګړې ميدان کې ګډون نه درلوده، بلکې له لرې څخه څارونکى و او په داسې حال کې چې په اوبو څښلو پسې ولاړ او بې هدفه غشي په شهادت ورسولو، لوړ جنت ته ولاړ، اوس د هغه چا په اړه څه فکر کوئ چې د دښمن پر وړاندې مخامخ په جګړه بوخت وو؟

### بيا خلې پيل وکړه!

په غفور نوم سره يو نوى پيل واخله، خوښ اوسه ځکه هغه د ګناهونو ښښونکى دى؛ په ښېښنه غوښتلو کې بېړه وکړه، ځکه دا کړنه د امر په منلې او د نهې څخه په ځان

---

[۱] صحيح بخاري، کتاب الجهاد و السير، باب من اتاه سهم غرب فقتله، د حديث شمېره: ۲۸۰۹.

...الو بوري تړاو لري؛ لکه څنګه چې خیله فرمایي: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [آل عمران/۳۱]

ژباړه: خلکو ته ووایه: که تاسې په ریښتیا له الله ﷻ سره مینه لرئ، نو زما د پیروۍ لاره غوره کړئ، الله به ستاسې سره مینه وکړي او ستاسې خطاوې به در وبښي. هغه ډېر بښونکی او د رحمت څښتن دی.

بالوڼکیه! زموږ ګناهونه وبښه، د هغه پټ او ښکاره، مخکني او وروستني او موږ د هغه کسانو په ټولي کې ځای پر ځای کړه چې د قیامت په ورځ یې د اعمالو په لیک کې استغفار تر ټولو زیات وي.

# القریب

یوه ورځ مې زما د لیدلو لپاره یو ملګری د پوهنتون لیلیې ته راغی، مخکې له دې چې زما سره مخه ښه وکړي، ویې ویل: په دغه پاڼه کې زما لپاره یوه جمله ولیکه تر څو هغه ووایم، خپلې خونې ته ولاړم او ورته ومې لیکل: همدا اوس هغه ذات تا ویني! نوموړي وروسته ماته وویل چې ستا جملې زه څومره په ستونزو کې ښکېل کړم!

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

## القریب (ډېر نږدې)

ایا د وېرې او وحشت احساس کوې؟ خپل نږدې ملګري دې ته پرېښی یې؟ احساس کوې چې ستا او ستا د ملګري ترمنځ واټن مخ په زیاتېدو دی او ستاسې اړیکې له ځوړ سره مخ دي؟ نور لکه د مخکې په شان تاته څه نه وایي؟ ایا ستا روح ستا د ملګري د مینې له بېلوالي چیغې وهي؟

ستا نظر څه دی چې دا ځمکني ملګري یو څنګ ته پرېږدې او داسې چاته مخ واړوې چې هغه له ملګرو سره بې وفایي نه کوي؟ خپل پالونکي ته مخ واړوه! هغه څوک چې د غاړې له رګ څخه تاته نږدې دی، هغه څوک چې په ملګرۍ سره یې ستا ژوند له مینې او نېکمرغۍ ډک کېږي. هغه یو لوی نوم لري؛ هغه نوم چې ډېر لوړ دی: «القریب». که مونږ بنده ګان د دغه نوم ماناوې زده کړو، نو ځان ته به د هغه د نږدېوالي په خپله احساس کړو او د هغه سره د خبرو او مناجات خوند به د شپې په یوازېوالي کې وڅکو.

**یا الله...**

هغه ذات پر عرش تکیه کړې، له تا غواړي چې دا یقین ولرې چې ستا د غاړې له رګ څخه هغه تا ته نږدې دی! دا چې هغه ستا خبرې اوري، ستا کارونه ویني او ستا هېڅ کار له هغه پټ نه دی.

یو ځل پیغمبر ﷺ جومات ته دننه شو او ویې لیدل چې صحابه کرام (رضی الله عنهم) په لوړ غږ سره له الله ﷻ غوښتنه کوي. پیغمبر ﷺ وفرمایل: «ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا قَرِيبًا»[۱].

ژباړه: له خپلو نفسونو سره نرمي وکړئ؛ ځکه تاسې له کاڼه او غایب څخه غوښتنه نه کوئ، بلکې له داسې چا غوښتنه کوئ چې هغه پوه او اورېدونکی دی.

---

[۱] صحیح بخاري، کتاب المغازي، باب غزوة خیبر، د حدیث شمېر: ۴۲۰۵، او صحیح مسلم، کتاب الذکر والدعاء و التوبه و الاستغفار، باب استحباب خفض الصوت بالذکر، د حدیث شمېره: ۲۷۰۴.

څنګه چې بنده له دعا څخه اوزګارېږي، په همغه شېبه کې یې دعا اورېدل کېږي او که وغواړي قبلېږي هم؛ څکه الله ﷻ دومره بنده ته نږدې دی چې هېڅ عقل هغه نشي درک کولی.

یوه سږي خپله سورلی ورکه کړه، نوموړي یو لوري بل لوري حیوان لټوه. ابراهیم بن ادهم هغه ولید او له هغه یې د پېښې پوښتنه وکړه. هغه سږي وویل: زما سورلی ورکه شوې ده. ابراهیم ولاړ شو او ویې ویل: یا الله! بل ګام به هم پورته نه کړم تر څو چې د دغه سږي حیوان نه وي راغلی؟ په همغه شېبه کې د لارې په اوږدو کې حیوان ښکاره شو!

## ستا په خاطر

یوه ملګري مې کیسه کوله، چې یو خل د لمانځه ادا کولو لپاره جومات ته دننه شوم او تر اوسه مې په غوږونو د اوداسه اوبه پرتې وې. په لومړي صف کې د کولر پر وړاندې په لمانځه ودرېدلم چې د کولر باد به نېغ پر نېغ زما په مخ لګېده. له څو شېبو وروسته مې په غوږ کې د شدید درد احساس وکړ. په ژبه مې څه ونه ویل، بلکې په زړه کې مې له خپل خدای سره وویل: اې الله! دا درد ستا لپاره دی! لږ وخت نه و وتلی چې د غوږ درد مې له منځه ولاړ!

دا څومره نږدې اړیکه ده چې مقابل لوری ستا د زړه زمزمې هم اوري، له دې پرته چې په ژبه دې حتا څه ویلي وي او شونډې دې یو پر بل لګېدلې وي!

تر ټولو غوره حالت چې یو بنده الله ﷻ ته ډېر پکې نږدې دی هغه د سجدې حالت دی؟ هغه وخت چې «سبحان ربی الاعلی» وایې د اسمان دروازې ستا پر وړاندې خلاصېږي او قریب خدای ستا غږ له څنډ پرته اوري. نو هېڅ وخت داسې فکر ونه کړې چې الله ﷻ ستا څخه لرې دی او هغه کارونه چې ته ترسره کوې له هغه پټ پاتې کېږي.

یو خل محمد ﷺ په نیمه شپه کې له کوره بهر شو او د ابی بن کعب کور ته ورغی او دروازه یې ور وټکوله. ابی بهر شو، پیغمبر ﷺ هغه ته وویل: الله ﷻ ماته امر کړی چې د

فاتحې سورت پر تا ووايم. ابی په حيرانتيا سره وويل: زما نوم يې هم واخيست؟ پيغمبرﷺ وويل: هو، ابی د دغه خبرې په اورېدلو سره وژړل.[1]

## د مېړې حرکت

اللهﷻ ټولو مخلوقاتو ته نېږدې دی؛ هغوی ويني او له هغوی ملاتړ کوي. رښتيا که اللهﷻ خپلو مخلوقاتو ته نېږدې نه وی، څنګه يې کولی شوی پر هغوی يې دې ولکه ټينګه کړې وی؟ څنګه کېدی شي چې پالونکی او قريب دې نه وي.

د اللهﷻ نږدېوالی هغه نږدېوالی دی چې له علم، اورېدلو، ليدلو او پر مخلوقاتو ولکه لرلو سره ملګری وي، نه فزيکي نږدېوالی، ځکه لوړ اللهﷻ له دغه ډول نږدېوالي څخه پاک دی او لامکان ذات واله دی.

د اللهﷻ د نږدېوالي اړوند کولی شو د شپې د وروستۍ برخې کړنه وړاندې کړو، چې اللهﷻ له کيف پرته د دنيا اسمان ته ښکته کېږي او وايي: «**هل من سائل فاعطه، هل من داع فاجيبه، هل من مستغفر فاغفر له**».[2]

**ژباړه:** ايا څوک شته چې له ما غوښتنه وکړي تر څو يې ورکړم؟ ايا څوک شته چې ماته بلنه راکړي او زه يې قبوله کړم؟ ايا څوک شته چې بښنه راڅخه وغواړي تر څو ورته بښنه وکړم؟

د هغه سبحانه و تعالی له نږدېوالي دا هم ده چې په توره شپه کې په توره تيره باندې د تور مېږي د تللو غږ هم اوري. اللهﷻ فرمايي: ﴿**وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا**﴾ [انعام/٥٩]

**ژباړه:** له ونې څخه کومه رالوېدلې پاڼه داسې نشته چې هغه پرې عالم نه وي.

---

[1] صحيح بخاري، کتاب التفسير، د حديث شمېره: ۴۹۶۰. او صحيح مسلم، کتاب صلاة المسافرين و قصرها، باب استحباب القراءة القرآن على أهل الفضل والحذاق فيه و ان کان القاری أفضل من المقرؤ عليه، د حديث شمېره: ۷۹۹.

[2] صحيح مسلم، کتاب صلاة المسافرين و قصرها، باب الترغيب فی الدعاء، د حديث شمېره: ۷۵۸.

یوه شیبه فکر وکړه، د ځمکې پر مخ څومره ونې شتون لري؟ څومره پاڼې لري؟ اوس د مني موسم ته فکر وکړه، د پاڼې توییدلو موسم! الله ﷻ د ټولو څخه خبر دی! او د هغوی شمېر، بڼې، ډولونه او د هغوی ټولې ځانګړنې پېژني او پرې عالم دی!

یوه ښځه د پیغمبر ﷺ حضور ته راغله او له خپل مېړه څخه یې شکایت کوه. حضرت عایشه رضي الله عنها د خونې په بل لوري کې وه چې د هغه ښځې ځینې خبرې یې اورېدلې او ځینې یې نشوی اورېدلی. له دغه بحث او خبرو اترو وروسته، جبرائیل پیغمبر ﷺ ته دغه ایت راوړ: ﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ [مجادله/۱]

**ژباړه:** په یقیني توګه، الله ﷻ د هغې (ښځې) وینا واورېدله چې د خپل مېړه په اړه ستا سره بیا بیا غږېږي او الله ﷻ ته فریاد کوي؟ الله ﷻ ستاسې دواړو پوښتنه او ځواب اوري، هغه د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی. دا څه عجیبه نږدېوالی دی چې الله ﷻ یې له خپل بنده سره لري! څه بې نهایته علم او څه نامحدوده اورېدل او لیدل، چې له ټولو شیانو څخه خبر دی او هر څه اوري او هر څه ویني.

### همدا اوس تا ویني!

همدا اوس د هغه لوري ته لاس وغځوه او د هغه نږدېوالی حس کړه! لاس دې اورد کړ؟ هغه دې احساس کړ؟ باید په دغه امر ایمان ولرې. یوه ورځ مې یو ملګری وکړې، ویې ویل: په دغه پاڼه کې زما لپاره یوه جمله ولیکه تر څو هغه ووایم، خپلې خونې ته ولاړم او ورته ومې لیکل: همدا اوس هغه تا ویني! نوموړي وروسته ماته وویل چې ستا جملې زه څومره په ستونزو کې ښکېل کړی یم!

د الله ﷻ نږدېوالی تا وېروي، باید همداسې وي!

د هغه نږدېوالی مینه راوړي، باید مینه راوړي!

د هغه نږدېوالی ستا بدن ته تودوخه ورکوي!

د هغه نږدېوالی له تا څخه یو قوي او پیاوړی شخص جوړوي...

یوه شببه موسی علیه السلام ته ستا د پالونکي په دغه خبر کې فکر وکړه. موسی غواړي له خپل ورور سره د فرعون حضور ته ولاړ شي او له دغه کړنې وېرېږي، خو پالونکی هغه ته داډ ورکوي او فرمايي: ﴿قَالَ لاَ تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى﴾[طه/٤٦]

ژباړه: وېې فرمایل: «مه وېرېږئ، زه ستاسې سره یم. هر څه اورم او وینم». همدا بسنه کوي؛ د هغه نږدېوالی تاته ستا تر ټولو لوی او قوي ملاتړ دی. څنګه چې هغه درسره دی نو له فرعون مه وېرېږئ، بلکې باید د هغه پر وړاندې خپل سرونه اوچت وینئ او قوي او زوړور اوسئ.

د عقیدې په کتابونو کې راغلي دي چې الله ﷻ دوه ډوله معیت او ملګري لري: ځانګړې او خاصه ملګري چې له خپلو ملګرو او دوستانو سره یې ده، یعنې هغه ملګري چې له محبت، ملګرۍ او توفیق سره وي. دوهم ډول ملګري عامه ده چې د ټولو مخلوقاتو لپاره ده چې همغه د علم، اورېدلو، لیدلو او پرمخلوقاتو د ولکې ملګري ده. د موسی او هارون سره د الله ﷻ ملګري د ځانګړي ډول څخه ده چې د هغه مرسته یې تر شا وه؛ هغه ډول مرسته او بریا چې په الهي توفیق سره پای مومي. نو هغه به څنګه وېرېدلي وی، په داسې حال کې چې الله ﷻ دوی ته د خپل نصرت او توفیق وعده ورکړې وه؟

دغه ډول ملګري او معیت یوازې د موسی او هارون لپاره نه دی، بلکې هر هغه څوک چې په علم او هدایت سره په نېکۍ امر کوي او له بدۍ منع کوي، الله ﷻ به ورسره تر ټنګ ملګری وي؛ دا د قلبي ایمان او د پالونکي په امر باندې د عمل کولو له کبله منځته راځي؟ له همدې کبله ټول هغه کسان چې په نېکۍ امر کولو او له بدۍ منع کولو باندې مصروف دي، خپل دننه یو لوی قدرت، شجاعت، پایښت او توفیق ګوري؛ په داسې ډول دوی اطمینان لري چې د الله ﷻ ځانګړې ملګري له دوی چاپېره ده او هغه ذات د دوی مرسته کوي.

وخانده!

د الله ﷻ د نږدېوالي تر ټولو روښانه ايات په دې ډول دی: ﴿الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ۲۱۸ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾ [شعراء/۲۱۸-۲۱۹]

ژباړه: چې تا په هغه وخت کې ويني چې عبادت ته پاڅېږې، او په سجده کوونکو کې ستا ګرځېدو را ګرځېدو ته ګوري.

کله چې لمانځه ته ولاړېږې، لاسونه پورته وړې او الله اکبر وايې، څومره د مينې او ملګرۍ احساس کوې؟ ځکه الله ﷻ تاته ويلي چې هغه ذات دغه عمل ته خانګړې پاملرنه کوي، ځکه هغه ټول خلک ويني؟ چې څوک ورته د راز و نياز لپاره ولاړ شي او هم هغه کس چې دغه کار نه ترسره کوي. په هر صورت کله چې بنده د لمانځه لپاره ولاړېږي او د خپل پالونکي سره راز و نياز ته ګرځي، نو الله ﷻ ورته خانګړې ډالۍ چې هغه خانګړې کتنه او پاملرنه ده، ورکوي؟ هغه کتنه چې په مينې، قبوليت، اجابت او مغفرت سره پوښل شوې وي.

پورته مطلبونه لمونځ کوونکو بنده ګانو ته د الله ﷻ د خانګړې پاملرنې اړوند وو، خو سربېره پر دې الله ﷻ ځينې غږونو ته هم په خانګړې ډول غوږ نيسي. لکه څنګه چې په صحيح بخاري کې له محمد ﷺ نقل شوي دی چې: «مَا أَذِنَ اللَّهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ».[1]

ژباړه: الله ﷻ له دې پرته هېڅ شي ته چې يو پيغمبر ښه غږ واله وي او قرآن په لوړ غږ ولولي، بل څه ته غوږ نه نيسي.

دلته «أذن» د «استماع» يعنې غوږ نيولو په معنی دی. د دې مانا دا ده چې د پيغمبرانو په تلاوت کې يو ښکلی غږ چې وېره ورسره ملګرې وي، شتون لري. سربېره پر دې، الله ﷻ د خپلو ټولو بنده ګانو غږونو که نېک وي او که بد غوږ نيسي؛ لکه څنګه چې عايشه ﷺ وايي: هغه پالونکی پاک او سپېڅلی دی چې د ټولو غږونه اوري. خو د هغه

[1] صحيح بخاري، كتاب التوحيد، باب قول الله ﷻ، ولا تنفع الشفاعة... د حديث شمېره: ۷۴۸۲.

غوږ نيول د خپلو مؤمنو بنده ګانو تلاوت ته ځانګړی او ډېر دی. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلاَ تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا﴾ [يونس/٦١]

ژباړه: (اې پيغمبره ﷺ!) ته چې په هر حالت کې اوسې او له قرآن څخه چې هر څه اورې، او اې خلکو تاسې هم چې څه کوئ؛ د هغو ټولو په دوران کې موږ تاسې ګورو. خو د پيغمبرانو تلاوت ته د الله ﷻ غوږ نيول ځانګړي دي.

هغه وخت چې وېرې او وحشت تاته ځېږه درکړه، وخانده او د الله ﷻ نږدېوالی خپل ځنګ ته په ياد راوړه! ځکه له ټولو شيانو چې ته وېره لرې، له الله ﷻ تاته نږدې نه دي!

کله چې پېښو او ناورينونو ستا له چاپېر ولکه وکړه، نېک ګمان ولره او په دې فکر سره چې هغه ذات د غاړې له رګ څخه تاته نږدې دی، هغوی ځيرې ځيرې کړه.

څو کاله وړاندې مې د يوه خطيب له خولې جالبه کيسه واورېده چې د اورېدلو وړ ده: يو مسافر په دښته کې د تېرېدو په حال کې و چې په ناڅاپي ډول غله د هغه مخه ډب کړه او د هغه توري په وسيله چې له تيکې يې باسلې وه د هغه د وژلو پرېکړه کړې وه. مسافر غله ته وويل: هر څه چې لرم ستا دي او ما پرېږده. غله وويل: نه! لومړی تا وژنم او بيا ستا مال له ځان سره وړم! سړي وويل: نو د دوه رکعته لمونځ وخت او اجازه راکړه. غله اجازه ورکړه. دغه سړي چې له قرآن څخه څه ياد وو دغه شېبه کې ترې هېر شول او يوازې يې دغه ايت ذهن ته ورغی: ﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ﴾ [نحل/٦٢]

ژباړه: څوک دي چې د بې کس، بې وس دعا اوري، کله چې هغه يې وبلي او څوک د هغه کړاو ايسته کوي؟ په لمانځه کې يې دا ايت ولوست او تر اوسه پای ته نه و رسېدلی چې ناڅاپه په اس يو سپور سړی راغی او په توري سره يې د غله سر غوځ کړ.

## ته سپېڅلی او پاک يې!

الله ﷻ تل ستا سره نږدې شتون لري، يوازې دا بسنه کوي چې ستا شونډې د هغه په ذکر او ياد سره وخوځېږي، تر څو د اسمان دروازې ستا په زمزمو سره پرانيستل

شي. حضرت یونس علیه السلام د نهنګ په ګېډه کې داسې کلمې زمزمه کولې: ﴿لاَّ إِلَهَ إِلاَّ أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ [انبیاء/۸۷]

ژباړه: بېله تا څخه بل هېڅ خدای نشته، ستا ذات پاک دی، بېشکه ما کمی کړی و. په دې ترتیب سره یې کمزورې اواز درې ګونې تیارې څیرې کړې (د شپې، سمندر او د نهنګ د ګېډې تیارې) او تر اسمانه په چټکتیا سره لوړ شو تر دې چې پرښتو هغه واورېده او الله جل جلاله ته یې وویل: له ناپېژند ځای څخه یو پېژند غږ زموږ تر غوږونو کېږي! الله جل جلاله په قدسي حدیث کې فرمايي: «إِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَ إِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَاءٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَاءٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ».[۱]

ژباړه: که بنده ما په خپل زړه کې یاد کړي، هغه د خپل ځان سره یادوم او که هغه ما په یو تولي کې یاد کړي، زه هغه له انسانانو په غوره ټولي کې یادوم. څکه هغه تاته نږدې دی، یوازې ووایه: یا الله! او د الله جل جلاله خواب تاته دا دی چې ستا نوم د پرښتو منځ کې یادوي. یوه شیبه فکر وکړه! څومره لوړ دی چې د دنیا او اخرت پاچا دغه شیبه کې ستا نوم ووايي: هغه وايي: زما بنده، فلاني د فلاني زوی زما نوم یاد کړی دی.

ټوله دنیا د پرتلنې له اړخه له دې بې ارزښته او هېڅ ده چې الله جل جلاله تا په یاد ولري او هېڅ ورسره نه برابرېږي. انسان کولی شي د الله جل جلاله نږدېوالي ته له دې ډېر لاس پیدا کړي، یعنې په توبې او عبادت سره کولی شي د الله جل جلاله نږدېوالی تر ډېره خپل کړي. له څنګه چې خپله په یو قدسي حدیث کې فرمايي: «إِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا، وَ إِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا».[۲]

ژباړه: که بنده ماته یوه لوېشت رانږدې شي زه یو لاس ور نږدې کېږم او که هغه یو لاس رانږدې شي زه دوه لاس هغه ته نږدې کېږم.

---

[۱] صحیح بخاري، کتاب التوحید، باب قول الله جل جلاله: و یحذرکم الله نفسه، د حدیث شمېره: ۷۴۰۵ او صحیح مسلم، کتاب الذکر والدعاء و التوبة والاستغفار، باب الحث علی ذکر الله جل جلاله، د حدیث شمېره: ۲٦۷۵.

[۲] مخکنی حواله.

په هره اندازه چې ته په طاعت او عبادت هغه ته نږدې شې، هغه هم په مننې، ښښنې، نعمت، لورونې او ډالۍ سره تاته نږدې کېږي.

**ته هغه ته ورسېدې!**

د الله ﷻ د نږدېوالي يوه بله وړانګه دا ده چې ته شاوخوا هر څه ته ګورې هغه تاته الله در يادوي. کله چې د مخلوقاتو د پيدايښت باريکۍ ته ګورې، د هغه حکمت وينې. کله چې بې ستنو اسمان ته ګورې، د هغه قدرت حس کوې. کله چې باران اورېدلو او بوټي زرغونېدلو ته ګورې، د هغه رحمت پيدا کوې. او کله چې د غرونو ټينګښت ته ګورې، د هغه ذات عظمت او لويي ستا په ذهن کې ولاړېږي. کله چې اور غورځوونکي، زلزلې او طبيعي پېښې وينې د هغه د عذاب نښې ستا تر سترګو کېږي! الله ﷻ فرمايي: ﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾ [فصلت/٥٣]

ژباړه: ډېر ژر به موږ دوی ته خپلې نښانې په افاقو (هېوادونو) کې هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کې هم، تر دې پورې چې دوی ته دا خبره څرګنده شي چې دغه قران په رښتيا سره پر حق دی.

کله دې چې په خپلو سترګو څه وليدل، سترګې دې د الله ﷻ ياد «بصير» ته ګرځوي. کله دې چې د شپې په زړه کې زمزه واورېده، ستا اورېدل تا ته د «سميع» پالونکي ياد تازه کوي. او کله دې چې يوې علمي مسئلې ته لاسرسی پيدا کړ، نو د «عليم» پالونکي علم او پوهه ستا تر ذهنه در رسېږي...

وَفِي كُلِّ شَيْءٍ لَهُ آيَةٌ　　　تَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ الْوَاحِدُ

ژباړه: او په هر څه کې د هغه لپاره نښه ده، چې د هغه پر واحد ذات دلالت کوي.

برګ درختان سبز در نظر هوشيار　　　هر ورقش دفتريست معرفت کردګار

«سعدی»

يوه ورځ د ځو ځوانانو په ټولي کې ناست وم او هغوی ته مې د الله ﷻ د خلقت د نمونو اړوند د تفکر خبرې کولې، له دوی څخه يوه ماته وويل: که د الله ﷻ د مخلوقاتو

اړوند فکر وکړو؛ هغه ته رسېږو؟ مات شوم، احساس مې وکړ چې دغه نوي څوان دغه مفهومونه له موږ څخه غوره پېژني او غوره ده چې زه له هغه یو څه زده کړم!

الله ﷻ تاته ډېر نږدې دی، یوازې بسنه کوي چې هغه په ذهن کې را وګرځوې تر څو هغه ته ورسېږې او د هغه نږدېوالی احساس کړې او دې باور ته ورسېږې چې هغه تا ویني، بیا ووایې: یا الله...

## زه نږدې یم!

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾[بقره/۱۸۶]

ژباړه: او (اې پیغمبره ﷺ!) زما بنده ګان که ستا څخه زما (د لرېوالي او نږدېوالي) په اړه پوښتنه وکړي؟ نو هغوی ته ووایه چې زه ورته نږدې یم.

که له تا څخه یې هم د الله ﷻ اړوند پوښتنه وکړه. لومړی څه چې باید په هغه الله ﷻ توصیف کړې، ووایه چې هغه ډېر نږدې دی. د انسانانو نفس په فطري ډول د پالونکي عبادت ته چې له هغه څخه لرې دی چمتووالی نه لري، هغه پالونکی چې نه د دوی دعا اوري او نه یې اړتیاوېویني. له همدې کبله هغه مهمه ځانګړنه چې نورو ته دې خپل پالونکی پرې ور پېژنې دا ده چې هغوی ته ووایې: هغه دوی ته نږدې دی. ستا پالونکی ستا څخه دغه ډول توصیف او تعریف غواړي.

سره له دې چې د الله ﷻ نږدېوالی د مینې، ملګرۍ او الهي وېرې سبب ګرځي، له دې ور هاخوا د دې سبب کېږي چې ته یو لوړ مقام ته لاسرسی پیدا کړې او هغه دا چې ته ځان له توبه کولو او بښنې غوښتلو سره عادت کړې. قریب پالونکی د دې وړ دی چې خپل بنده ګان یې ورڅخه بښنه وغواړي او د هغه پر وړاندې د توبې تندی ولګوي، ځکه دوی د هغه نږدېوالي له کبله د هغه ذات له هر ډول ترون ماتونې او سرغړونې خبر دی او له بلې خوا هغه خپلو بنده ګانو ته دومره نږدې دی چې د هغوی استغفار واوري او هغه کس ستا توبه قبلولی شي چې ستا له توبې خبر وي او له شک پرته چې هغه قریب پالونکی او قبلوونکی دی، لکه څنګه چې خپله فرمایي:

﴿فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ﴾ [هود/٦١]

ژباړه: نو تاسې له هغه څخه بښنه وغواړئ او د هغه لوري ته راوګرځئ. په باوري توګه زما رب نږدې دی او هغه د دعا ګانو قبلوونکی او ځواب ویونکی دی.

یو څوک د الله ﷻ نږدېوالی څومره ښه تعبیروي، او د دې سبب ګرځي چې د شرم خولې د انسان پر تنده څرګندې کړي، نوموړی وايي: ایا دا غوره نه ده چې له الله ﷻ سره مینه ولرې؟ سمه ده خو په همغه شېبه کې چې ته غوارې دروازه وتړې او د هغه په نافرمانۍ لګیا یې، د همغه دروازې څخه ستا د ژوندي پاتې کېدو لپاره ستا خونې ته اکسیجن دننه کوي!

بنده ګان باید د الله ﷻ د نږدېوالي څخه لوړه ګټه واخلي او هڅه وکړي چې د دغه نږدېوالي وړتیا په ځانونو کې پیدا کړي، الله ﷻ په دې اړه فرمايي: ﴿أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ﴾ [اسراء/٥٧]

ژباړه: دوی چې چاته بلنهورکوي (معبود یې نیسي) هغوی خو په خپله د خپل رب حضور ته د رسېدو وسیلې په لټه کې دي، چې کوم یو هغه ته زیات نږدې شي.

الهي قرب او نږدېوالي ته رسېدل د یو میدان په ډول دی او څه چې مومن بنده هیله لري هغه دا دی چې الله ﷻ ته نږدې شي.

## د لوګیو په منځ کې

په دغه ستونزمنو حالاتو کې چې اسلامي امت ترې کړېږي او د ویجاړوونکو جګړو د لوګیو په منځ کې چې د مسلمانانو زړونه د یوه پټنځای لټه کوي، اړمن کسان باید په درې لارو د هغه په وسیله له «القریب» نوم سره بلدتیا پیدا کړي.

لومړی: د ایمان او یقین له مخې د الله ﷻ نږدېوالی وپېژني، تر څو یې نفس او روح له سختۍ او ستونزې او د ملګرۍ غوښتلو، مرستې او د خلاصون د لارې غوښتلو سره له شر څخه خلاصون پیدا کړي او هوسا شي، ځکه د انسانانو پالونکی نږدې،

شاهد او پوه دی. په قرآن کريم کې يو داسې ايت شتون لري چې د الله ﷻ دغه
ځانګړنه په ډېر روښانه ډول بيانوي: ﴿إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ﴾ [سبا/۵۰]

ژباړه: هغه هر څه اوري او خورا نږدې دی.

دوهم: مسلمان د کينې او دښمنۍ د لمبو په منځ کې، د کورونو د ورانۍ، د بې ګناه انسانانو په مرګ، د حاصلاتو په له منځه تلو کې د يوه رحمت پلټنه کوي او د داسې رحمت هيله کوي چې د خپلو مسلمانو ورونو درد، کړاو او ذلت او د نامردۍ، مکر او فريب پرله پسې ګوزارونو ته د پای ټکی کېږدي. له همدې کبله په پرله پسې توګه دغه ايت تکرار کړئ: ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ [اعراف/۵۶]

ژباړه: په يقيني توګه د الله ﷻ رحمت نېکانو ته نږدې دی.

سبحان الله! نو د دغه ايت پر بنسټ د هغه مجاهد پر وړاندې چې خپل روح يې خپل قريب پالونکي ته وړاندې کړی دی، له يوې نازکې پردې پرته چې د نېکۍ او احسان نښانې له ورايه ځرګندوي شتون نه لري.

يوازې بسنه کوي چې د پرښتې په ډول د الله ﷻ پر ځمکه جهاد وکړي تر څو دې احساس ته لاسرسی پيدا کړي چې الله ﷻ ويني او که الله ﷻ نه ويني، الله ﷻ هغه ويني. له همدې کبله داسې مرمۍ نه وارېږي چې سبب يې دې هغه ته معلوم نه وي، دا چې څه وخت، ولې او په څه ډول يې وار کړې ده؟

بنده پرله پسې له يوه احسان څخه بل احسان ته د تېرېدو په حال کې دی او د الله ﷻ د رحمت پر وړاندې له بل هر شخص څخه هغه ته نږدې دی، تر دې چې الهي رحمت له هر لوري هغه پوښوي او هغه د مرګ له لوګيو څخه بهر کوي او د الله ﷻ د خوښۍ په ورځو کې هغه ازادوي.

درېيم: نه ختمېدونکې ورځې اوږدې شوې، اه او اسويلي ادامه لري، غمونه او ناوړينونه زياتېږي او ستونزمن کېږي او له هر لوري ولکه قوي او ستونزمنه کېږي. په دغه حالاتو کې د مجاهد روح په دغه ايت زړه ترې چې پالونکی يې فرمايي: أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ [بقره/۲۱۴]

ژباړه: په هغه وخت کې هغو ته ډاډينه ورکړه شوه چې هو د الله مرسته نږدې ده.

په همغه ډول چې الله ﷻ خپلو بنده ګانو ته نږدې دی او له دې خايه چې رحمت يې نېکي کوونکو مؤمنانو ته نږدې دی، د الله ﷻ د لښکريانو له لوري مرسته او نفرت په چټکۍ سره را رسېږي: ﴿وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ﴾ [صافات/۱۷۳]

ژباړه: او همدا زموږ لښکر به (پر کافرانو) برلاسي شي. په دغه ډول هغه زړونه چې له صبر او انتظار څخه ستړي شوي دي او له پښو لوېدلي دي، پياوړي کوي، پر همدې بنسټ شپه او ورځ دغه مرستې ته انتظار باسي.

الله

اللَّهَ... وَاضْرَبَتْ دُمُوْعِيْ خَشْيَةً    اِرْحَمْ أَنِيْنَ الْحُبِّ فِيْ دَمْعَاتِيْ
اللَّهَ... وَالْتَهَبَ الْفُؤَادُ حَرَائِقَاً    اِرْحَمْ لَهِيْبَ الْحُبِّ فِيْ نَبْضَاتِيْ
اللَّهَ... وَانْدَفَعَتْ حُرُوْفِيْ لَهْفَةً    اِرْحَمْ شُعُوْرَ الْحُبِّ فِيْ أَبْيَاتِيْ

ژباړه: يا الله! له وېرې او خشيت مې اوښکې څاځي، نو د مينې د اوښکو چيغو ته لبيک ووايه او رحم پرې وکړه.

يا الله! په زړه کې مې اور شغلې وهي او سوزېږي، د زړه په ټکانونو کې مې د مينې په شغلو رحم وکړه.

يا الله زما خبرې د اه او پښېمانۍ له مخې تاته وړاندې کېږي، نو زما په بيتونو کې د مينې پر احساس رحم وکړه.

غرقست جانم بردرت در بوی مشک و عنبرت    ای صد هزاران مرحمت بر روی خوبت دایما
ماییم مست و سرگردان فارغ ز کار دیگران    عالم اگر برهم رود عشق تورا بادا بقا
عشق تو کف برهم زند صد عالم دیگر کند    صد قرن نو پیدا شود بیرون ز افلاک و خلا

«مولوی»

د الله ﷻ د «قریب» نوم اړوند له فکري ګرځېدنې څخه وروسته غواړو چې موږ له هغې تولي وګرځوي چې د هغه قرب او نږدېوالی احساس کړي، او همدا رنګه لکه څنګه چې ستا د دغه نوم سره ښايي په ډېر اطمینان او عاجزی، مراقبې او ویرې عمل وکړو او یوازې ستا څخه د رحمت او مرستې غوښتنه وکړو.

پالونکیه! اې هغه ذاته چې هغه ته نږدې یې، څوک چې ستا څخه غوښتنه کوي، تاته بلنه کوي او تاته هیله لري، د خپل رحمت او هدایت نږدېوالی پر موږ ولوروه، هغه نږدېوالی چې په هغه مینه واخلو او زړونه مو ارام او هوسا شي او زموږ د روح ستونزې او کړاوونه له منځه یوسي او موږ ته غوره جنت نصیب کړې.

د پای خبرې

د کتاب وروستیو ته ورسېدو، د دې کتاب په مطالعې سره موږ د الله ﷻ له ځینو نومونو سره بلد شوو، خو په دې باید بسنه ونه کړو، بلکې باید د الله ﷻ د دغو نومونو اړوند زیاته پېژندګلوي پیدا کړو او همدارنګه د الله ﷻ د نورو مبارکو نومونو اړوند پېژندګلوي پیدا کړو، هغه د خپل ژوندانه سرلیک وګرځوو، همدارنګه د زړه د هدایت او د خپلو ورځو د روښنایی نور یې وګرځوو، تر څو د دنیا او اخرت نېکمرغی ته لاسرسی پیدا کړو.

هیله لرم چې دغه کتاب ستاسې دردونه تسکین کړي وي، ستاسو پر شونډو یې خندا راوستې وي او یا یې ستاسې دننه حال بدل کړی وي. په هر حال د دغه کتاب لیکوال، استاذان یې، چا یې چې په لیکلو کې ونډه اخیستې، مور او پلار یې او ټول مسلمانان د خپل د خیر او نېکی له دعا مه هېروئ.

وصلی الله علی سیدنا محمد

علي جابر الفيفي

۱۴۰۰ لمریز کال، غبرګولی، څلورویشتم

لسم سمستر، افغان سویس طبي پوهنتون

میرویس میدان، کابل

# سرچینې


۱) قرآن کريم.

۲) امام الحافظ ابي عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري. ۲۰۰۴ زيږيديز، صحيح البخاري، قاهره: دارالافاق العربية.

۳) امام ابی الحسن مسلم بن حجاج النيشاپوري، ۱۴۳۰ سپوږميز، صحيح مسلم، قاهره: مكتبة الثقافة الدينية.

۴) امام الحافظ ابي عبدالرحمن احمد بن شعيب النسائي. ۲۰۰۳ زيږيديز. سنن النسائي، رياض: دارالسلام للنشر و التوضيح.

۵) سليمان بن الاشعث ابي داود سجستاني، ۲۰۰۴ زيږيديز، سنن ابو داوود، قاهره: دارابن الجوزي.

٦) ابو عيسى محمد بن عيسى بن سورة. ۱۴۱۹ سپوږميز، سنن الترمذي، قاهره: دارالحديث.

۷) ابو عبدالله محمد بن يزيد قزويني، ۱۴۱۸ سپوږميز، بيروت: دارالجيل.

۸) امام احمد بن محمد ابن حنبل. ۲۰۰۰ زيږيديز، مسند امام احمد حنبل. قاهره: دارالافاق العربية.

۹) الحافظ ابي القاسم سليمان بن احمد طبراني. ۱۴۱٦ سپوږميز، المعجم الكبير، رياض: دارالسلام للنشر و التوضيح.

# د ژباړن له قلم څخه!

چاپ:

**۱) قرآني ارواپوهنه**/د قرانکریم د یادولو نهه تګلارې.

یاد کتاب د بحرین هېواد تکړه لیکوال دوکتور مجدي عبید لیکلی او په ۱۳۹۷ کال القلم خپرندوی چاپ او خپور کړی.

د کتاب اړوند د استاد زاهد جلالي نظر:

د کتاب ښه والی په دې کې دی چې له روحاني، سایکالوژیکي او موډرنو ریسرچونو په کې استفاده شوې ده. معنا دا چې د قرآن کریم د حفظ لپاره لیکوال پر قرآني آیاتونو او دیني سرچینو سربېره له سایکالوژیکي سرچینو هم استفاده کړې ده او دغه کتاب کې د نویو ریسرچونو کمی هم نه لیدل کېږي.

**۲) داسې وخت ساتنه**/وخت ساتنه،موخه پېژندنه، کړنلار جوړونه.

یاد کتاب د ایران هېواد جید عالم او د زاهدانو دارالعلوم تکړه استاد مولانا عبداللطیف نارویي لیکلی او په ۱۳۹۸ لمریز کال القلم خپرندوی چاپ او خپور کړی.

د کتاب اړوند د استاد زاهد جلالي نظر:

د سجاد صاحب له خوا ژباړل شوی کتاب نه یوازې دا چې لوستونکو ته د وخت ارزښت معلوموي، بلکې د اسلامي علماوو او شخصیتونو عظمت او د دوی له عجیب او غریب ژوند څخه یې خبروي. چې دا طبعاً یوه ستره خزانه ده. ډاکټر صاحب سجاد یوه خزانه پښتو ته راژباړلې او که څوک دغه خزانه ښه ولولي او ښه استفاده ترې وکړي، طبعاً پر ژوند به یې ډېر مثبت تاثیر ولري.

**۳)داسې پېغله او ځوان شه!**

یاد کتاب د هغه نهه رسالو ټولګه ده چې د پېغلو او ځوانانو د ویښتابه لپاره علماوو لیکلې او ژباړن ژباړه او ترتیب کړې او په ۱۳۹۹ لمریز کال نور خپرندوی چاپ او خپور کړی.

د کتاب اړوند د استاد عبدالغفار جبیر نظر:

دا کتاب د ځوان قشر او نسل لپاره د هدایت یوه ښه ټولګه او ډالۍ ده، ددې کتاب د متن او بطن څخه دا جوتېږي چې ژباړن یې خومرې کوښښ کړی دی، داسې مواد یې پکښې راټول کړیدي چې د یوه مسلمان ورور او یوې مسلمانې خور د سالمې، اسلامي، فکري او اخلاقي روزنې لپاره نه یواځې کفایت کوي بلکې ضمانت یې هم کوي.

**٤) رښتیا چې ته الله یې!**

همدا کتاب چې ستاسې په لاسونو کې دی.

**چاپ ته چمتو:**

۱) دعوتګر ماشومان/ژباړه.

۲) بې بېلګې شخصیت، محمد رسول الله/ژباړه.

۳) د لویو خلکو د بریا رازونه/ژباړه.

٤) راتلونکي نسل ته!/ژباړه.

# لأنك الله

رحلة إلى السماء السابعة

# Because You are Allah!

آیا د دنیا ستونزې د باران په ډول ستا پر سر راورېږي، خپه او ورته پرېشانه یې؟
آیا وېره لرې چې زوی د بې لارې او د بدو ملګرو ښکار نشي؟
آیا ډاکترانو درته ویلي چې ستا محبوب روغتیا نه مومي، یا دا چې خپله له ناروغتیا خورېږې او خوښ نه لرې چې ډاکتر ته ولاړ شې؟
آیا داسې څه لرې چې وېرېږې هغه له لاسه ورنه کړې او غواړې داسې چاته یې وسپارې چې هغه ښه امانت دار وي؟
آیا له ملګري سره د نېکي کړې او هغه داسې هېره کړې، چې هېڅ نښې یې نه ښکاري؟
آیا خپل نږدې ملګري ته پرېښې یې او احساس کوې چې ترمنځ مو واټن په زیاتېدو دی؟
د دې ټولو اندېښنو حل مو دلته ولټئ!


...............................................................

Downloaded From:

...............................................................

https://t.me/AryanPashtoLibrary

...............................................................

WhatsApp:00971501455350

...............................................................